بشتو / پښتو

# حصن المسلم

## د مسلمان ساتنه

### د قرآن او حدیثو په اذکارو سره

د/ سعيد بن علي بن وهف القحطاني

ژباړنه
عبد النافع زلال



حرمين
رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# حصن المسلم

## د مسلمان ساتنه

د قرآن او حدیثو په اذکارو سره

ⓗ جمعية أصول للمحتوى الدعوي ، ١٤٤٦ هـ

القحطاني ، الدكتور سعيد بن علي بن وهف

حصن المسلم من أذكار الكتاب والسنة. باللغة البشتو / الدكتور سعيد بن علي بن وهف القحطاني – ط ١. – الرياض ، ١٤٤٦ هـ

١٥٢ ص؛ ١٢ X ١٧ سم

رقم الإيداع: ١٧٠٥٥ / ١٤٤٦

ردمك: ٣- ٠٥ - ٨٥٣٧- ٦٠٣- ٩٧٨

جمعية أصول
Osoul Foundation for Da'w

حرمين
رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# حصن المسلم

## من أذكار الكتاب والسنة

الفقير إلى الله تعالى
د. سعيد بن علي بن وهف القحطاني

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مصنف سريزه

إِنَّ الحَمْدَ للهِ؛ نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ، وَسَلَّمَ تَسْلِيمًا كَثِيرًا، أَمَّا بَعْدُ:

دايو مختصر (کتاب) دی چي ما له خپل بل کتاب «الذکر والدعاء والعلاج بالرقی من الکتاب والسنة»[١] نه مختصر کړيدی، او په هغه کي مي نومړي کتاب نه يواځي اذکار راوړيدي، تر څو په سفر کي يي له ځان سره اخيستل آسانه وي. او يواځي مي د ذکر او دعا متن راوړی، او د هغه د تخريج له مراجعو نه مي له اصلي کتاب نه يواځي يو يا دوه مراجع ذکر کړيدي، او څوک چي د نومړي ذکر او دعا راوي (صحابي) او د هغه تخريج پيژندل غواړي، نو اصلي کتاب ته دي مراجعه وکړي.

له الله جل جلاله نه د هغه په نيکو نومونو، او لوړو صفتونو

(١) دغه مذکور کتاب په څلورو جلدونو کي سره د حديثونو د تخريج نه چهاپ شوی دی.

سره سوال کوم چي دا کتاب خالص د خپل رضا لپاره وګرځوي او هغه ما ته، لوستونکي ته، چاپونکي ته او هغه چا ته چي په خپرولو کي يي برخه اخيستي ده په دنيا او آخرت کي ګټور وګرځوي، الله جل جلاله د همدي کار مل او په هغه باندي قادر دی.

وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ.

المؤلِّف

د سعيد بن علي بن وهف القحطاني

صَفَر ١٤٠٩هـ

# د ذکر فضيلت

الله پاک فرمايي: ﴿ فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ﴾[(١)].

ما ياد کړئ، زه به تاسو ياد کړم، او زما شکر پرځای کړئ، او زما نا شکري مه کوئ.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ﴾[(٢)].

اي مومنانو الله په ډېرو يادولو سره ياد کړئ.

﴿وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمٗا ﴾[(٣)].

او د الله ذکر کونکو سړو او ذکرکونکو ښځو لپاره الله جل جلاله بخښنه او لوی ثواب او اجر تيار کړی دی.

﴿ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴾[(٤)].

خپل رب په عاجزی او په ويره او په ټيټ آواز سره چې پورته نه وي، له خپل ځان سره سبا او بيګاه ياد کړه، او له غافلانو څخه مه کيږه.

---

(١) سورة: البقرة، ايت نمبر: [١٥٢].
(٢) سورة: الأحزاب، ايت نمبر [٤١].
(٣) سورة: الأحزاب، ايت نمبر: [٣٥].
(٤) سورة: الأعراف، الآية: [٢٠٥].

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ: مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ».

پیغمبر ﷺ فرمايي: هغه څوک چي د خپل رب ذکر کوي، او هغه څوک چي نه يي کوي، مثال يې د ژوندي او مړي په شان دي[(١)].

وَقَالَ ﷺ: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالوَرِقِ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ، فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ، وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ؟!»، قَالُوا: بَلَى، قال: «ذِكْرُ اللهِ تَعَالَى».

او فرمايي ﷺ:آيا تاسو خبر نکړم ستاسو د ښو اعمالو نه، او له هغو اعمالو نه چي ستاسو د رب په نزد ټولو نه پاک دي، او ستاسو درجې لوړوي، او ستاسو لپاره د سرو زرو او سپينو زرو له خيراتولو نه هم غوره دي، او ستاسو لپاره لدې نه هم غوره دي چي د دښمن سره مخامخ شی او بيا يو د بل غاړي ووهي؟ (صحابه وو) ووېل: هو (خبر مو کړه)، (پيغمبر ﷺ وفرمايل: (هغه) د الله جل جلاله ذکر کول دي[(٢)].

---

(١) بخاري، فتح الباري (١١/٢٠٨) او د مسلم (١/٥٣٩) لفظ دادی: «مَثَلُ البَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ وَالبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ» (٥٣٩/١). ترجمه هغه کور چي په هغه کې د الله ذکر کيږي، او هغه کور چي د الله ذکر نه پکښې کيږي، مثال يې د ژوندي او مړي په شان دي.

(٢) ترمذي (٥/٤٥٩) ابن ماجه (٢/١٢٤)، صحيح ابن ماجه (٢/٣١٦)، صحيح الترمذي (٣/١٣٩).

وَقَالَ ﷺ: «يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي؛ فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا، وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً».



او همدا رنګه فرمايي: الله جل جلاله فرمايي: زه د بنده د ګمان په وړاندې يم او زه ورسره يم چې کله ما ياد کړي، نو که يې په خپل زړه کې ياد کړم، زه يې له ځان سره يادوم او که يې په يوې ډلې کې ياد کړم زه يې د هغې نه په غوره ډله کې يادوم او که ما ته د يوې لويشتې په اندازه رانژدې شي، زه به هغه ته د يو ګز په اندازه نژدې شم، او که ما ته د يو ګز په اندازه نژدې شي، زه به هغه ته د يوې وازې په اندازه نژدې شم، او که ما ته په پښو روان راشي زه به ورته په منډه ورشم(١).

وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ ﵁؛ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ شَرَائِعَ الإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ؛ فَأَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ، قَالَ: «لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللهِ».

دعبد الله بن بسره ﵁ نه روايت دی چې يوه سړي وويل: ای د الله رسوله! د اسلام احکام پر ما زيات شول، نو ما ته داسې شی

---

(١) بخاري (٨/١٧١)، مسلم (٤/٢٠٦١)، او دا لفظ د بخاري دی.

وښايه چي هغه باندي ټينګ عمل وکړم، پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي ژبه دي بايد تل د الله له په ذکر سره لمده وي(١).

وَقَالَ ﷺ: «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ، فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا؛ لَا أَقُولُ: ﴿الٓمٓ﴾ حَرْفٌ، وَلَكِنْ: أَلِفٌ حَرْفٌ، وَلَامٌ حَرْفٌ، وَمِيمٌ حَرْفٌ».

او پيغمبرﷺ همدا رنګه فرمايي: چا چي د الله جل جلاله له کتاب (قرآن) نه يو حرف ولوست، نو هغه لره پدې کي يوه نيکي ده، او يوه نيکي لس چنده (ثواب) لري، زه نه وايم چي (الم) يو حرف دی، بلکه الف (بيل) حرف دی، او لام (بيل) حرف دی، او ميم (بيل) حرف دی(٢).

وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ، فَقَالَ: «أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ، أَوْ إِلَى العَقِيقِ، فَيَأْتِيَ مِنْهُ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلَا قَطِيعَةِ رَحِمٍ؟!»، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، نُحِبُّ ذَلِكَ، قَالَ: «أَفَلَا يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى المَسْجِدِ؛ فَيَعْلَمَ -أَوْ يَقْرَأَ- آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ، وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ

(١) ترمذي (٥/٤٥٨) ابن ماجه (٢/١٢٤٦)، صحيح الترمذي (٣/١٣٩) ، صحيح ابن ماجه (٢/٣١٧).
(٢) ترمذي (٥/١٧٥) ، صحيح الترمذي (٣/٩)، صحيح الجامع الصغير(٥/٣٤٠).

مِنْ أَرْبَعٍ، وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الإِبِلِ؟!».

عقبه بن عامر ﷺ نه روايت وايي: چي مونږ په صفه کي ناست وو چي پيغمبر ﷺ راووت، او ويي فرمايل: له تاسو نه څوک دا غوره ګڼي چي هره ورځ بطحان يا «عقيق» ته لاړ شي، او له هغه ځای نه دوه بوکونو واله اوښان راولي، چي نه يي په کي کومه ګناه کړي وي، او نه يي پکي خپلولي ختمه کړي وي؟ نو مونږ وويل چي مونږ (ټول) دا خوښوو، (پيغمبر) وفرمايل: که له تاسو نه يو څوک مسجد ته لاړ شي او زده کړه وکړي او يا د قرآن دوه آيته ولولي، نو دا ورته له دوو اوښانو نه غوره ده او دري (آيته) له دريو اوښانو نه غوره دي او څلور له څلورو نه او همدارنګي (دآيتونو) د شمير په اندازه له اوښانو نه غوره دي(١).

وَقَالَ ﷺ: «مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللَّهِ تِرَةٌ، وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللَّهِ تِرَةٌ».

او پيغمبر ﷺ فرمايي: څوک چي په يو ځای کي کيناست او الله جل جلاله يي پکي ياد نکړ، نو د الله له طرف نه به پري کمبښت او زيان پيښ شي او چا چي په يو ځای کي ډېه ولګوله او الله پاک يي هلته ياد

---

(١) مسلم (١/٥٥٣).

نکړ، نو د الله پاک له طرف نه به ده ته کموالى او نقصان راشي[1].

وَقَالَ ﷺ: «مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ فِيهِ، وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ: إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً؛ فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ».

او پيغمبر ﷺ فرمايي: کوم قوم چي په يو ځاى کي کيني، او الله جل جلاله پکي ياد نکړي او نه په پيغمبر صلى الله عليه وسلم درود ووايي، نو دا به ددوى لپاره د الله پاک له جانب نه دنقصان سبب وي، که وغواړي عذاب به ورکړي، او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي[2].

وَقَالَ ﷺ: «مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً».

او فرمايي ﷺ:کوم قوم چي له يو داسي مجلس نه پاځيده، چي د الله پاک ذکر يي پکي نه وي کړى، نو داسي به وي لکه چي د خره د مرداري نه پاځيدلي وي او دا به د دوى لپاره د افسوس سبب وي[3].

---

(١) ابو داود (٤/٢٦٤) او نورو هم روايت کريدى، صحيح الجامع (٥/٣٤٢).

(٢) ترمذي (٥/٤٦١) صحيح الترمذي (٣/١٤٠).

(٣) ابو داود (٤/٢٦٤ احمد ،(٢/٣٨٩)، صحيح الجامع (٥/١٧٦)

# ١ دخوب نه د پاڅيدو دعاګاني

١-(١) «الحَمْدُ لِلهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا، وَإِلَيْهِ النُّشُورُ».

ټوله ستاينه الله لره ده، هغه چي مونږ يي پس له مرګه ژوندي کړي يو، او همده ته بيا ژوندي کيدل او ورتګ دی[١].

٢-(٢) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ، رَبِّ اغْفِرْ لِي».

بيله الله نه بل څوک د عبادت وړ نشته يو دی شريک نلري، همده لره پاچاهي او پوره ستاينه، ده او همدی په هر څه قادر دی پوره پاکي او ستاينه يوازي الله لره ده، بيله الله نه بل څوک د عبادت وړ نشته، الله لوی دی، او هيڅ قوت او طاقت نشته د ګناه نه د ساتلو او د نيکيو د کولو مګر په اوچت او باعظمت الله جل جلاله سره پروردګاره ما ته بخښنه وکړه[٢].

(١) بخاري، فتح الباري (١١/١١٣)، مسلم (٤/٢٠٨٣).

(٢) څوک چي دا ووايي ګناهونه به يې. وبخښل شي، او که دعا وکړي، قبوله به شي او که پاڅي اودس وکړي او بيا لمونځ وکړي، نو لمونځ به يي قبول شي. بخاري (فتح الباري (٣/٣٩)، او نورو هم روايت کړيدی او پورتنی لفظ د ابن ماجه دی، صحيح ابن ماجه (٢/٣٣٥).

٣-(٣) «الحَمْـدُ للهِ الَّذِي عَافَـانِي فِي جَسَـدِي، وَرَدَّ عَلَيَّ رُوحِي، وَأَذِنَ لِي بِذِكْـرِهِ»..

پوره ثنا او ستاینه هغه الله لره ده چې ما ته یې په بدن کې روغتیا راکړې، او ما ته یې زما روح بیا را کړ او ما ته یې د خپل ذکر اجازه او حکم کړی دی(١).



٤-(٤) «﴿إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٠ ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٩١ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ١٩٢ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ ١٩٣ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ١٩٤ فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ

(١) ترمذي (٥/٤٧٣)، صحيح الترمذي (٣/١٤٤).

كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١٩٦﴾ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٩٧﴾
لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ﴿١٩٨﴾ وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ
ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ خَٰشِعِينَ
لِلَّهِ لَا يَشۡتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ
رَبِّهِمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٩٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾».

بې شکه چې په آسمانونو او ځمکه کې او د شپې او ورځې په بدلیدلو کې د عقل خاوندانو لپاره نښې نښانې دي، هغه کسان چې د الله ذکر کوي پداسې حال کې چې ولاړ وي، او ناست وي او په ډډه باندې وي، او دآسمانونو او ځمکې په پیدایښت کې سوچ او فکر کوي او وایي: ای زمونږ پروردګاره! دا آسمانونه او ځمکه دې خوشې او بې فایدې ندي پیدا کړي، پاکي ده تا لره، نو مونږ دوزخ له عذاب نه وساته! ای پروردګاره بې شکه چې ته څوک دوزخ ته واچوې نو په رښتیا سره تا هغه رسوا او ذلیل کړیدی، او ظالمانو لره هیڅوک مرستندوی نشته ای پروردګاره په رښتیا سره مونږ د آواز کونکي (آواز) واورید چې ایمان ته یې بلنه کوله ویل یې چې په خپل پروردګار ایمان راوړی نو مونږ ایمان راوړ، ای زمونږ پروردګاره! زمونږ ګناهونه را ته وبخښه، او زمونږ بد کارونه را نه لیرې کړه، او مونږ ته له نیکانو سره مرګ را کړه ای زمونږ پروردګاره مونږ ته

هغه څه راکړه چي د خپلو پيغمبرانو په (ذريعه) دي راسره وعده کړيده، او د قيامت په ورځ مو مه رسوا کوه، په رښتيا سره چي ته د وعدي مخالفت نکوي. نو د دوی پروردګار د دوی (دعا) قبوله کړه، پدې شان چي زه به له تاسو نه د هيڅ عمل کونکي عمل نه ضايع کوم، نر وي او که ښځه ټول يو له بل نه ياست، نو هغو کسانو چي هجرت يي کړی، او له خپلو کورونو نه ايستلي شوي، او زما په لاره کي ورته اذيت رسيدلی او جهاد يي کړی، او وژل شويدي، نو خامخا به زه د دوی ګناهونه وبخښم او هرو مرو به دوی هغه جنتونو ته داخل کړم چي دهغو دمانيو او ونو لاندي ويالي بهيږي، او دا د الله له جانبه جزا او ثواب دی، او د الله په نزد ډير ښه ثواب او اجر دی. په ښارونو کي د کافرانو تلل را تلل دي تا نه تير باسي. (دا) يو نا څيزه متاع او فائده ده، او بيا د دوی ځای دوزخ دی او ډير بد د هستونګني ځای دی. ليکن هغه کسان چي له خپل پروردګار نه ويريږي او پرهيزګاري کوي، هغوی لره داسي جنتونه دي چي په هغه کي به ويالي رواني وي، تل به په هغه کي استوګن وي، او دا د الله له جانبه ميلمستيا ده هغوی لره، او هغه څه چي الله سره دي هغه د نيکانو لپاره ډير غوره دي او په تحقيق سره د اهل کتاب نه داسي کسان شته چي په الله او په هغه (قرآن) چي تاسو ته نازل کړي شويدی، او په هغه تورات او انجيل چي دوی ته نازل کړي شوی دی، ايمان لري، پداسي حال کي چي له الله نه ويريدونکي دي، د الله آياتونه په لږو پيسو نه خرڅوي، د دي کسانو اجر او ثواب

د الله سره دی، په رښتیا سره چي الله ژر حساب کونکی دی. ای مومنانو! صبر وکړی، او ټینګ اوسی د دښمنانو په مقابل کي او جهاد ته تیار اوسی، او له الله نه وویریږی، امید دی چي تاسو به کامیابه شي[١].



## ٢ د جامو اغوستلو دعا

٥- «الحَمْـدُ لِلهِ الَّذِي كَسَـانِي هَـذَا (الثَّـوْبَ)، وَرَزَقَنِيـهِ مِـنْ غَـيْرِ حَوْلٍ مِـنِّي وَلَا قُـوَّةٍ...».

پـوره ثنـا او سـتاينه ده هغـه الله لـره چـي مـا تـه يي دا جامه را واغوسـتله او بيلـه كـوم طاقـت او قـوت نـه يي مـا ته را كـړه[٢].

## ٣ دنوي جامي اغوستلو دعا

٦- «اللَّهُمَّ لَـكَ الحَمْـدُ؛ أَنْـتَ كَسَـوْتَنِيهِ، أَسْـأَلُكَ مِـنْ خَـيْرِهِ وَخَـيْرِ مَـا صُنِـعَ لَهُ، وَأَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَـا صُنِـعَ لَهُ».

يـا الـهي! تا لره پـوره سـتاينه ده، تا ما تـه دا جامه را واغوسـتله زه د هـغي د خـير، او د ځـه لپـاره چي جـوړه شـويده د هغه د خير

(١) آل عمران: ١٩٠-٢٠٠ ،بخاري، فتح الباري (٨/٢٣٧)، مسلم (١/٥٣٠).
(٢) بيله نسائي نورو اصحاب السنن روايت كريدى، ارواء الغليل (٧/٤٧).

سوال درنه کوم او پناه غواړم په تا سره د هغې له شر نه او د هغه څه له شر نه کوم لپاره چې هغه جوړه شویده[(١)].

## ٤ چا چې نوې جامې واغوستلې هغه ته دعا

٧-(١) «تُبْلِي وَيُخْلِفُ اللّٰهُ تَعَالَى».

دا جامه زړه کړې، او الله دې د هغه په ځای نوري جامي در کړي[(٢)].

٨-(٢) «الْبَسْ جَدِيدًا، وَعِشْ حَمِيدًا، وَمُتْ شَهِيدًا».

نوي (جامه) واغوندې او ستایلی واوسیږې، او دشهادت په مرګ مړ شې[(٣)].

## ٥ دجامو ایستلو په وخت کې دعا

٩- «بِاسْمِ اللّٰهِ».

د الله په نوم سره دا جامه او باسم[(٤)].

---

(١) ابو داود ،ترمذي او بغوي روايت کړيدی، شمائل الترمذي.
(٢) ابو داود ( ٤/٤١)، صحيح أبي داود (٢/٧٦٠) د الباني ليکنه ص (٤٧).
(٣) ابن ماجه ( ٢/١١٧٨) بغوي ،(١٢/٤١)، صحيح ابن ماجه (٢/٢٧٥)
(٤) ترمذي (٢/٥٠٥) او نورو هم روايت کړيدی ارواء الغليل ٥٠ نمبر حديث صحيح الجامع (٣/٢٠٣).

## ٦ د اودس ماتي ځاى ته د داخليدلو دعا

١٠- «[بِاسْمِ اللّٰهِ]، اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ».

د الله پــه نــوم سره، الــهي! زه په تــا سره له چټلي او چټلــو (ناولو) نه پناه غــواړم[(١)].



## ٧ د اودس ماتي ځاى نه د وتلو دعا

١١- «غُفْرَانَكَ».

ستا بخښنه غواړم[(٢)].

## ٨ داوداسه نه مخكي ذكر

١٢- «بِاسْمِ اللّٰهِ».

د الله په نامه سره اودس پيل كوم[(٣)].

---

(١) بخاري ١/٤٥ مسلم (١/٢٨٣)، او دا اضافه «بسم الله في أوله سعيد بن منصور روايت كړيدى، فتح الباري (١/٢٤٤).

(٢) بيله نسائي نورو اصحاب السنن روايت كړيدى او نسائي په «عمل اليوم والليلة كي روايت كړيدى،(٧٩).

(٣) ابو داود ابن ماجه او احمد روايت كړيدى، ارواء الغليل.

## ٩ د اودس نه وروسته دعا

١٣-(١) «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ...».

شاهدي وركوم چي بيله الله نه بل دعبادت وړ معبود نشته يو دى، شريک نلري، او شاهدي وركوم چي محمد د الله بنده او پيغمبر دى[١].

١٤-(٢) «اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ».

الـهي! ما د توبه ايستونكو څخه وګرځوه، او د (پاكو) كسانو څخه مي وګرځوه[٢].

١٥-(٣) «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ».

الـهي! تا په پاكي سره يادوم او ستا ستاينه كوم، زه شاهدي وركوم چي بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته، له تا نه بخښنه غواړم، او تا ته توبه وباسم[٣].

---

(١) مسلم (١/٢٠٩).

(٢) ترمذي (١/٧٨)، صحيح الترمذي (١/١٨).

(٣) نسائي «عمل اليوم والليلة ص (١٧٣)، ارواء الغليل (١/١٣٥).

## ۱۰ د کور نه دوتلو ذکر

١٦-(١) «بِاسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ».

د الله په نامه سره له کور نه وځم په الله باندي توکل او تکيه کوم، او هيڅ قوت او طاقت نشته د ګناه نه د ساتلو او د نيکيو د کولو مګر په الله جل جلاله سره[(١)].

١٧-(٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ».

الهي! زه په تا سره پناه غواړم لدي نه چي زه بي لاري شم، يا مي بل څوک بي لاري کړي، يا وښويږم يا وښويولي شم، يا ظلم وکړم يا ظلم را سره وشي، يا چا ته ضرر او نقصان ورسوم يا را ته له بل چا نه ضرر ورسولی شي[(٢)].

## ۱۱ کور ته د ننوتلو ذکر

١٨- «بِاسْمِ اللهِ وَلَجْنَا، وَبِاسْمِ اللهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ».

---

(١) ابو داود (٤/٣٢٥)، ترمذي (٥/٤٩٠)، صحيح الترمذي (٣/١٥١).

(٢) اصحاب السنن، صحيح الترمذي (٣/١٥٢)، صحيح ابن ماجه (٢/٣٣٦).

د الله پـه نامـه سره ننوتلـو، او د الله پـه نامـه سره ووتلـو او پر خپـل پـرورد ګار مو تـوكل او تـكيه كـړيـده. او بيا دي پـه خپلو ورو سـلام وكړي[(١)].

## ١٢ مسجد ته د تللو دعا

١٩- «اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا، وَفِي لِسَانِي نُورًا، وَفِي سَمْعِي نُورًا، وَفِي بَصَرِي نُورًا، وَمِنْ فَوْقِي نُورًا، وَمِنْ تَحْتِي نُورًا، وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ شِمَالِي نُورًا، وَمِنْ أَمَامِي نُورًا، وَمِنْ خَلْفِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُورًا، وَأَعْظِمْ لِي نُورًا، وَعَظِّمْ لِي نُورًا، وَاجْعَلْ لِي نُورًا، وَاجْعَلْنِي نُورًا، اللَّهُمَّ أَعْطِنِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي عَصَبِي نُورًا، وَفِي لَحْمِي نُورًا، وَفِي دَمِي نُورًا، وَفِي شَعْرِي نُورًا، وَفِي بَشَرِي نُورًا».

الـهي! زمـا پـه زړه كي رڼـا پيـدا كـړې، او پـه ژبـه كي مي رڼا او پـه غوږونـو كي مي رڼـا، او پـه سـتركو كي مي رڼـا، او له پاسـه مي رڼا، او لانـدې مي رڼـا، او له ښـي طـرف نـه مي رڼا، او له چـپ طرف نه مي رڼـا او مـخي تـه مي رڼـا، او شـا تـه مي رڼـا، او په بـدن كي مي رڼا

---

(١) ابو داود (٤/٣٢٥) او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص ٢٨ كي د هغه اسناد حسن بللى دى او په صحيح حديث كي راغلي دي، د مسلم ٢٠١٨ نمبر حديث كي كله چي سړى خپل كور ته ننوځي، او ننوتلو په وخت كي، او د خوراک په وخت كي الله ياد كړي نو شيطان (خپلو ملګرو ته وايي: زمونږ لپاره دلته نه د شپي ځاى او نه د (شپي) خوراک شته.

پیدا کړې، او ما ته رڼا د قدر وړ وګرځوې، او ما ته رڼا مقرره کړې، او ما رڼا وګرځوې، الهي! ما ته رڼا راکړې زما په پلو کې رڼا پیدا کړې، او په غوښه کې مې رڼا او په وینه کې مې رڼا، او په ویښتو کې مې رڼا او په پوستکي کې مې رڼا پیدا کړې(١).

«[اللّٰهُمَّ اجْعَلْ لِي نُورًا فِي قَبْرِي... وَنُورًا فِي عِظَامِي]».

الهي! زما په قبر کې رڼا پیدا کړې، او زما په هډوکو کې رڼا پیدا کړه(٢).

[«وَزِدْنِي نُورًا، وَزِدْنِي نُورًا، وَزِدْنِي نُورًا»].

او زما رڼا زیاته کړې، او زما رڼا زیاته کړې او زما رڼا زیاته کړې(٣).

[«وَهَبْ لِي نُورًا عَلَى نُورٍ»].

او ما ته د رڼا بر سیره رڼا راکړې(٤).

(١) ټول پورتني صفات په بخاري (١١/١١٦) په ٦٣١٦ نمبر حدیث کې راغلي دي، مسلم (١/٥٢٦،٥٢٩،٥٣٠)، په ٧٦٣ نمبر حدیث کې.

(٢) ترمذي(٥/٤٨٣) ٣٤١٩ حدیث ،نمبر.

(٣) بخاري په الأدب المفرد ٦٩٥ نمبر حدیث، ص٢٥٨، کې روایت کړیدی او الباني په صحیح الأدب المفرد» ٥٣٦ نمبر حدیث کې د هغه اسناد صحیح بللي دی.

(٤) ابن حجر دا لفظ په فتح الباري کې او ابن ابو عاصم ته یې په کتاب الدعاء کې نسبت کړیدی فتح الباري (١١/١١٨)، او وایي نو د مختلفو روایتونو نه پنځه ویشت خصلتونه راغونډ شول.

## ۱۳ مسجد ته د ننوتلو دعا

۲۰- مسجد ته په ننوتلو كې به خپله ښي پښه مخكې كړې او دا دعا به وايې:

«أَعُوذُ بِاللّٰهِ العَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ القَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

په لوى الله سره، او د هغه په عزتمند مخ او ازلي او هميشنى پاچاهۍ سره له رټل شوي شيطان نه پناه غواړم[۱]،

[بِاسْمِ اللّٰهِ، وَالصَّلَاةُ] [وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ]، «اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ».

د الله په نوم سره، درود او سلام دې وي د الله پر پيغمبر ﷺ، الهي! ته را ته د خپل رحمت دروازې خلاصې كړې[۲].

---

(۱) ابو داود، صحيح الجامع ٤٥٩١ نمبر حديث.

(۲) ابن السني ۸۸ نمبر حديث او الباني هغه حسن بللى دى. ابو داود (۱/۱۲٦)، صحيح الجامع (۱/٥۲۸) (٤)، مسلم (۱/٤٩٤). او په ابن ماجه كې له فاطمه رضي الله عنها نه داسې روايت دى: «اللّٰهُمَّ اغفر لي ذنوبي وافتح لي أبواب رحمتك»، ترجمه الهي! زما ګناهونه را ته وبخښې او خپل د رحمت دروازې راته خلاصې كړې. او الباني هغه د شواهدو په وجه صحيح بللى دى، صحيح ابن ماجه (۱/۱۲۸-۱۲۹).

## ١٤ مسجد ته د ورتلو دعا

٢١- مسجد ته د ورتلو دعا: جومات ته په تلو سره دغه دعا ويل سنت دي:

## ١٤ مسجد نه د وتلو دعا

٢١- مسـجد نـه بهـر وتلـو کـې بـه خپلـه چپـه پښـه مخکـې کـړي او دا دعا بـه وايـې:

«بِاسْمِ اللّٰهِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ، اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ، اللّٰهُمَّ اعْصِمْنِي مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

د الله په نامه سره، او درود او سلام دي وي د الله پر پيغمبر، الهي! له تا نه ستا د فضل سوال کوم الهي! له رټل شوي شيطان نه مې وساتې(١).

## ١٥ د آذان اوريدو ذکرونه

٢٢-(١) د اذان پـه جـواب کـې به د مـؤذن الفاظ بـه بيرته وايي، خـو د «حَيَّ عَلَى الصَّـلَاةِ» او «حَيَّ عَلَى الفَـلَاحِ» پـه جـواب کې بـه لَا حَـوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِـاللّٰه وايي(٢).

٢٣-(٢) د مـؤذن د «أَشْـهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ» او «أَشْـهَدُ أَنّ محمداً رَسُـولُ

(١) د مخکيني (٢٠) نمبر حديث روايتونه دي وکتل شي، او دازيادت: «اللّٰهُمَّ اعصمني من الشيطان الرجيم د ابن ماجه دی، صحيح ابن ماجه (١/١٢٩).
(٢) بخاري (١/١٥٢)، مسلم (١/٢٨٨).

الله» د ویلو وروسته به دا ذکر وایې: «وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا».

او زه هم شاهدي ورکوم چې بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، یو دی، شریک نلري، او محمد د الله بنده او پیغمبر دی، د الله پاک په خدایي او د محمد صلی الله علیه وسلم په پیغمبرۍ، او د اسلام په دین راضي یم[1].



٢٤-(٣) وروسته به پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم درود وایي[2].

٢٥-(٤) او بیا به دغه دعا وایي: «اللّٰهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدتَّهُ؛ [إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ المِيعَادَ]».

الهي! ای د دې مکملې بلنې، او د کیدونکې لمونځ پروردګاره! محمد صلی الله علیه وسلم ته په جنت کې خاصه درجه او خاص فضیلت ورکړې، او هغه ستایلی شوي مقام ته یې ورسوې کوم چې تا ورسره وعده کړېده بې شکه چې ته د خپلې وعدې مخالفت نه کوې[3].

---

(١) مسلم (١/٢٩٠) ابن خزیمه (١/٢٢٠).

(٢) مسلم (١/٢٨٨).

(٣) بخاري (١/١٥٢)، او د کړو قوسونو په مینځ کې عبارت د بیهقي (١/٤١٠) دی، او اسناد یې علامه عبد العزیز بن باز په «تحفة الأخیار» ص ٣٨ کې حسن بللی دی.

۲۶-(٥) د آذان او اقامـت پـه مينـځ كي بـه خپـل ځـان تـه دعا كـوي، ځكـه چـي پـدې وختـكى دعا نـه رد كيـږي[١].

## ١٦ د لمانځه د شروع له اول تكبير ويلو نه وروسته دعا

۲۷-(١) «اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدتَّ بَيْنَ المَشْرِقِ وَالمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالمَاءِ وَالبَرَدِ».

الـهي! زمـا او زما د ګناهونـو تر مينـځ دومره لـري والى راولي، لكـه څنګـه چـي دې د مـشرق او مغـرب پـه مينـځ كي لـري والى راوسـتى دى الـهي! مـا له خپلـو ګناهونو نـه داسي پاك كـړې لكه څنګـه چـي سپينه جامـه له خيرو نـه پاكه كـړي شي الـهي! ما له ګناهونـو نـه پـه واوره، او اوبـو، او ږلـى سره ووينځې[٢].

۲۸-(٢) «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

---

(١) التِّرمذي، برقم (٣٥٩٤)، ورقم (٣٥٩٥)، وأبو داود، برقم (٥٢٥)، وأحمد، برقم (١٢٢٠٠). وانظر: «إرواء الغليل» (١/٢٦٢).

(٢) ترمذي، ابو داود او احمد روايت كړيدى، ارواء الغليل.

تـا پـه پاکي سره يـادوم او سـتا سـتاينه کـوم او مبـارک دی نوم ستا او لـوی دی شان او شـوکت سـتا او بيلـه تـا نـه بـل څـوک د عبـادت وړ نشـته.[١].

٢٩-(٣) «وَجَّهْـتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّـمَوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَـا أَنَا مِـنَ المُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُـكِي وَمَحْيَـايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِـينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ، وَأَنَا مِنَ المُسْـلِمِينَ. اللَّهُمَّ أَنْـتَ المَلِـكُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَـا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْـسِي، وَاعْتَرَفْـتُ بِذَنْـبِي؛ فَاغْفِرْ لِي ذُنُـوبِي جَمِيعًا؛ إِنَّـهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُـوبَ إِلَّا أَنْتَ. وَاهْدِنِي لِأَحْسَـنِ الأَخْلَاقِ؛ لَا يَهْدِي لِأَحْسَـنِهَا إِلَّا أَنْـتَ، وَاصْرِفْ عَـنِّي سَـيِّئَهَا؛ لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَـيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ. لَبَّيْـكَ وَسَـعْدَيْكَ، وَالخَـيْرُ كُلُّـهُ بِيَدَيْكَ، وَالـشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْـكَ، أَنَا بِـكَ وَإِلَيْكَ، تَبَارَكْـتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْـتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ».

مـا خپل مـخ وګرځـاوه هغـه ذات ته چـي آسـمانونه او ځمکه يي پيـدا کړيـدي، پـداسي حـال کي چـي د حـق ديـن مل يـم، او نه يـم له مشرکانـو نـه په ربښـتيا سره زما لمونـځ، او قربـاني، او ژوند، او مـرګ يواځي د هغـه الله لپـاره دی چـي د مخلوقاتو پـروردګار دی شريـک نلـري، او زه پدې سره مامور شـوی يم او زه له مسـلمانانو،

(١) څلورو واړو اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح الترمذي (١/٧٧)، صحيح ابن ماجه (١/١٣٥).

ښخه یم، ته پاچاه يي بيله تا نه بل د عبادت وړمعبود نشته، الـهي! تـه زمـا پـروردګار يـې، او زه دي بنـده يـم په خپـل ځان مي ظلـم کـړی، او پـه خپله ګناه اقـرار کوم نـو زما ټـول ګناهونه راته وبخښـې پـه رښـتيا سره چـي ګناهونـه بيلـه تا نـه بل څـوک نشي بخښـلی د ښـو اخلاقو هدايـت راته وکړې، وښـو اخلاقو تـه يواځي تـه هدايـت کـوې، او بد اخـلاق را څخه لري کړې، بـد اخلاق را نـه يواځـي تـه لري کـولای شي، سـتا دعـوت مي قبول کړ، او سـتا خدمـت تـه ولاړ يـم، خير ټول سـتا پـه لاسـونو کي دی او شر تا لره شر نـدی، او پـه تـا مي تکيـه ده، او تا تـه به درځم، تـه برکت والا يـې، او اوچـت يې، له تا نه بخښـنه غـواړم، او تا ته توبه وباسـم(١).

٣٠-(٤) «اللّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ؛ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الحَقِّ بِإِذْنِكَ؛ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ».

الـهي! د جبرايـل، او ميکايل، او اسرافيل پروردګاره، د آسـمانونو او ځمـکي پيـدا کونکيـه، پـه پټـو او ښـکاره علـم لرونکيـه، تـه د خپلـو بندګانـو پـه مينځ کي د اختـلاف پـه وخـت کي فيصلـه کـوې، پـه خپـل حکـم سره ما تـه د هغـه حق ښـودنه وکـړې، په

(١) مسلم (١/٥٣٤).

کوم کې چې اختلاف شوی دی، په رښتیا سره چې همدا ته و سمې لارې ته هدایت او ښودنه کوې چا لره چې وغواړې[(۱)].

۳۱-(۵) «اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، وَالحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، وَالحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا».

الله پاک ډیر لوی دی په لویې سره، الله پاک ډیر لوی دی په لویې سره، الله پاک ډیر لوی دی په لویې سره، او پوره ستاینه ده الله لره ډیره زیاته، او پوره ستاینه ده الله لره ډیره زیاته، او پوره ستاینه ده الله لره ډیره زیاته، او په پاکې سره یادوم الله سهار او ماښام. «دا به درې ځلې وایې».

او بیا به دا وایې:

«أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ: مِنْ نَفْخِهِ، وَنَفْثِهِ، وَهَمْزِهِ».

په الله سره د شیطان له پوکلو، تو کولو، او وسوسو نه پناه غواړم[(۲)].

۳۲-(۶) «اللّٰهُمَّ لَكَ الحَمْدُ[(۳)]؛ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ

---

(۱) مسلم (۱/۵۳٤).

(۲) ابو داود (۱/۲۰۳)، ابن ماجه (۱/۲٦۵)، احمد (٤/۸۵)، او مسلم (۱/٤۲۰) له ابن عمر نه په همدا شان له یوې قصې سره روایت کړیدی.

(۳) دا دعا به نبي کریم ﷺ د شپې تهجدو ته د ودریدلو په مهال ویله.

فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ؛ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، [وَلَكَ الحَمْدُ؛ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ]، [وَلَكَ الحَمْدُ، لَكَ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ]، [وَلَكَ الحَمْدُ؛ أَنْتَ مَلِكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ]، [وَلَكَ الحَمْدُ]؛ [أَنْتَ الحَقُّ، وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَقَوْلُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ الحَقُّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ ﷺ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ]، [اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ؛ فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ]؛ [أَنْتَ المُقَدِّمُ، وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ]، [أَنْتَ إِلَهِي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ]».

الهي! تا لره پوره ستاينه ده ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو ربنا يي، او تا لره پوره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو پالونکی يې او تا لره پوره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو مالک يې، او تا لره پوره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو پادشاه يې او تا لره پوره ستاينه ده، ته حق يې، او وعده دي حق ده، او وينا دي حق ده، او تا سره ملاقات حق دی، او جنت حق دی، او دوزخ حق دی، او پيغمبران حق دي، او محمد صلی

الله عليه وسلم حق دی او قيامت حق دی. الهي! تا ته تسليم يم، او په تا توكل مي دی، او په تا مي ايمان دی، او تا لره مي رجوع كړې، او ستا لپاره او ستا په مرسته مي له دښمن سره جګړه كړې، او تا ته مي فيصله دروړې، نو ما ته د هغو ګناهونو بخښنه وكړې چې مخكې مي كړي، او وروسته مي كړي، او پټ مي كړي او ښكاره مي كړي دي ته مخكې كونكی او ته وروسته كونكی يې بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته، ته مي معبود يې بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته(١).



## ١٧ د ركوع دعا

٣٣-(١) «سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ».

پاک دی زما لوی پروردګار. (درې ځلې)(٢).

٣٤-(٢) «سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي»

ای الله! اې زمونږ پروردګاره! تا په پاكي سره يادوم، او تا لره ستاينه كوم، الهي! ما ته بخښنه وكړې(٣).

(١) بخاري، فتح الباري (٣/٣)، ١١/١١٦، ١٣/٣٧١، ٤٢٣، ٤٦٥ مسلم په اختصار سره همدا شان (١/٥٣٢) روايت كړيدی.
(٢) اصحاب السنن او احمد روايت كړيدی، صحيح الترمذي(١/٨٣).
(٣) بخاري (١/٩٩)، مسلم (١/٣٥٠).

٣٥-(٣) «سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ».

ډير پاک او ډير مقدس دى پروردګار د ملائكو او د روح[١].

٣٦-(٤) «اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، خَشَعَ لَكَ سَمْعِي، وَبَصَرِي، وَمُخِّي، وَعَظْمِي، وَعَصَبِي، [وَمَا اسْتَقَلَّتْ بِهِ قَدَمِي]».

الهي! خاص تا ته مي سر ټيټ كړى، او په تا مي ايمان راوړى، او تا ته تسليم يم، او تسليم دي تا لره زما غوږونه او زما سترګي او زما ماغزه، او زما هډوكي او زما پلي، او زما هغه (جسم) كوم چي زما پښو اوچت كړيدى[٢].

٣٧-(٥) «سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوتِ وَالمَلَكُوتِ، وَالكِبْرِيَاءِ وَالعَظَمَةِ».

پاک دى ښتن د ډير زور، او غټي پاچاهي، او د لويي، او عظمت[٣].

(١) مسلم (١/٣٥٣)، ابو داود (١/٢٣٠).
(٢) مسلم (١/٥٣٤)، او بيله ابن ماجه څلورو روايت كړيدى.
(٣) ابو داود (١/٢٣٠) ، نسائي او احمد روايت كړيدى، او اسناد يې حسن دى.

## ١٨ د رکوع نه پورته کیدلو دعا

٣٨-(١) «سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ».

واوريده الله له هغه چا نه چي د هغه حمد او ثنا يي وويله(١).

٣٩-(٢) «رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ؛ حَمْدًا كَثِيرًا، طَيِّبًا، مُبَارَكًا فِيهِ».

ای زمونږ پروردګاره تا لره پوره ستاینه ده، ستاینه ډیره زیاته پاکه او مبارکه(٢).

٤٠-(٣) «مِلْءَ السَّمَوَاتِ، وَمِلْءَ الأَرْضِ، وَمَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ. أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ العَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ. اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ».

الـهي! تا لره پوره ستاینه ده د آسمانونو او ځمکي او د هغوی تر مینځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغه شیانو چي تا وروسته غوښتي دي، اې د ستاینې او لویي خاونده! کومه رښتیني خبره چي بنده کړیده داده او مونږ ټول ستا بندګان یو الـهي! ته چي چا ته څه ورکړې، د هغه څوک



(١) بخاري، فتح الباري (٢/٢٨٢)
(٢) بخاري، فتح الباري (٢/٢٨٤)

بندونکی نشته او ته چي له چا نه څه بند کړې، د هغه ځوک ورکونکی نشته، او فائده نه کوي مالدار لره دهغه مال ستا د عذاب په لري کولو کي(١).

## ١٩ د سجدي دعا

٤١-(١) «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى».

پاک دی زما لوی پروردګار. (دري ځلي)(٢).

٤٢-(٢) «سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي».

اي الله! اي زمونږ پروردګاره! تا په پاکي سره يادوم او تا لره ستاينه کوم، الهي! ما ته بخښنه وکړې(٣).

٤٣-(٣) «سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ».

ډير پاک او ډير مقدس دی پروردګار د ملائکو او د روح يا جبرائيل)(٤).

(١) مسلم (١/٣٤٩).
(٢) اصحاب السنن او احمد روايت کړيدی، صحيح الترمذي (١/٨٣).
(٣) بخاري، او مسلم روايت کړيدی، تخريج يي په (٣٤) نمبر حديث کي تير شو.
(٤) مسلم (١/٥٣٣) اوتخريج يي په (٣٥) نمبر حديث کي تير شو.

٤٤-(٤) «اللّٰهُمَّ لَكَ سَجَدتُّ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَصَوَّرَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، تَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الخَالِقِينَ».

الهي! تا لره مي سجده وکړه، او په تا مي ايمان راوړ، او تا ته تسليم شوم، زما مخ هغه ذات لره سجده وکړه چي هغه يي پيدا کړی، او صورت او شکل يي ورکړی او غوږونه او سترګي يي ورکړي دي، با برکته دی الله چي له ټولو نه غوره پيدا کونکی دی[(١)].

٤٥-(٥) «سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوتِ وَالمَلَكُوتِ، وَالكِبْرِيَاءِ وَالعَظَمَةِ».

پاک دی خښتن د زبرځواکی او غتمي پاچاهي او د لويي او عظمت[(٢)].

٤٦-(٦) «اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ: دِقَّهُ وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ».

الهي! زما واړه او لوی، لومړني او وروستني، ښکاره او پټ ټول ګناهونه وبخښي[(٣)].

---

(١) مسلم (١/٥٣٤) او نورو روايت کړيدی.

(٢) ابو داود (١/٢٣٠) ، احمد او نسائي روايت کړيدی، او الباني په صحيح ابي داود (١/١٦٦) کي صحيح بللی دی.

(٣) مسلم (١/٢٣٠)

٤٧-(٧) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ».

الـهي! زه ستا په رضا سره ستا له غضب نه، او ستا په عافيت سره ستا له عذاب نه، او په تا سره له تا نه پناه غواړم، زه ستا پوره ستاينه نشم کولای ته هماغسي يې لکه څنګه، چي تا د ځان ستاينه کړېده[1].

## د دوو سجدو په مينځ کي دعا

٤٨-(١) «رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي».

اي پروردګاره ما ته بخښنه وکړه، اي پروردګاره ما ته بخښنه وکړه[2].

٤٩-(٢) «اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي، وَارْفَعْنِي».

الـهي! ما ته بخښنه وکړې، او په ما رحم وکړې، او هدايت را ته وکړې، او نقصان مي پوره کړې او ما ته عافيت راکړې، او

(١) مسلم (١/٣٥٣).
(٢) ابو داود (١/٢٣١)، صحيح ابن ماجه .(١/١٤٨).

روزي را تـه راکـړې، او زمـا مقام اوچـت کړې[١].

## ٢١ د تلاوت د سجدي دعا

٥٠-(١) «سَـجَدَ وَجْـهِي لِـلَّذِي خَلَقَـهُ، وَشَـقَّ سَـمْعَهُ وَبَـصَرَهُ بِحَـوْلِهِ وَقُوَّتِـهِ؛ ﴿فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَٰلِقِينَ﴾».

زمـا مـخ هغـه ذات لـره سـجده وکـړه چي هغـه پيدا کـړی، او غوږونـه او سـترګي يې ورکـړي دي، پـه خپل قـدرت او طاقت سره نـو بـا برکتـه دی الله چـي له ټولو نه ښـه پيـدا کونکـی دی[٢].

٥١-(٢) «اللَّهُمَّ اكْتُـبْ لِي بِهَـا عِنْـدَكَ أَجْـرًا، وَضَـعْ عَـنِّي بِهَـا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَـا لِي عِنْـدَكَ ذُخْـرًا، وَتَقَبَّلْهَـا مِـنِّي كَمَـا تَقَبَّلْتَهَـا مِـنْ عَبْـدِكَ دَاوُدَ».

الهي! ته ددي سجدې په بدل کي ما ته د خپل ځان سره اجر وليکه، او په هغه سره له ما نه د ګناه بار کښته کړه، او هغه له خپل ځان زما لپاره توښه وګرځوه، او له ما نه يي داسي قبوله کړې، لکه څنګه چي دي له خپل بنده داود نه قبوله کړې ده[٣].

(١) بيله نسائي نه اصحاب السنن روايت کړيدي، صحيح ترمذي(١/٩٠)، صحيح ابن ماجه (١/١٤٨).
(٢) ترمذي (٢/٤٧٤) احمد (٦/٣٠) حاکم (١/٢٢٠) او هغه صحيح بللی او ذهبي ورسره موافقه کړيده، او زيادت هم دده دی.
(٣) ترمذي (٢/٤٧٣)، حاکم (١/٢١٩) او هغه يي صحيح بللی، او ذهبي ورسره موفقه کړيده.

## ۲۲ د تشهد دعا (التحيات)

۵۲- «التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ، وَالصَّلَوَاتُ، وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

ژبني او بدني او مالي عبادتونه ټول الله لره دي، سلام او د الله رحمت او برکتونه دي وي پر تا اې پيغمبره! سلام دي وي پر مونږ او د الله پر نيکو بندګانو، زه شاهدي ورکوم چې بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، او شاهدي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او پيغمبر دی[(۱)].



## ۲۳ له (التحيات) نه وروسته پر پيغمبر ﷺ درود

۵۳-(۱) «اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

---

(۱) بخاري، فتح الباري (۱/۱۳)، مسلم (۳۰۱).

الـهي! پـر محمـد او د محمـد پـر اهـل وعيـال درود وليـږه، لکـه ښکـه چـي دي پـر ابراهيـم او د ابراهيـم پـر اهـل وعيـال درود ليـږلی دی، پـه رښـتيا سره ته سـتايلی شـوی، د لـويي خاونـد يې، او برکـت نـازل کړه پـر محمـد او د هغه پـر اهل وعيـال بانـدي، لکه ښکـه چـي دي برکـت نـازل کـړی دی پـر ابراهيـم او د هغـه پر اهـل وعيال، باندي په رښـتيا سره ته سـتايل شـوی، د لـويي خاوند يې(١).



٥٤-(٢) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ؛ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ. وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ؛ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ؛ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»..

الـهي! پـر محمـد او د هغـه پـر بيبيانـو او اولادونـو درود وليږه، لکـه ښکـه چـي دي پـر ابراهيـم او د هغـه پـر ښـځو او اولادونو درود ليـږلی دی او برکـت نـازل کړه پـر محمد او د هغه پر ښـځو او اولادونـو، لکـه ښکه چـي دي برکت نـازل کړی دی پـر ابراهيم او د هغـه پـر ښـځو او اولادونـو تـه سـتايل شـوی، د لـويي خاوند يې(٢).

---

(١) بخاري، فتح الباري (٦/٤٠٨).

(٢) بخاري، فتح الباري (٦/٤٠٧)، مسلم (١/٣٠٦)، او يورتنی لفظ د مسلم دی.

## ٢٤ په وروستي تشهد ناسته کي د سلام نه مخکي دعا

٥٥-(١) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ».

الـهي! زه پـه تـا سره پناه غـوارم د قبر له عـذاب نـه او د دوزخ له عـذاب نـه، او د ژونـد د او مـرګ له فتنـو نه، او د مسيح دجال د فتنـې له شر نه[(١)].

٥٦-(٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ المَأْثَمِ وَالمَغْرَمِ».

الـهی! زه پـه تـا سره د قبر له عذاب نـه پناه غـوارم، او په تا سره د مسيح دجـال د فتنـې له شر نه پنـاه غـوارم او په تـا سره د ژوند او مـرګ د فتنـو نـه پناه غـوار الـهي! زه په تـا سره د ګنـاه او قرض اخيستلو نه پناه غـوارم[(٢)].

٥٧-(٣) «اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ

(١) بخاري (٢/١٠٢) ، مسلم (١/٤١٢) او پورتنی لفظ د مسلم دی.
(٢) بخاري (١/٢٠٢)، مسلم (١/٤١٢).

الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ؛ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي؛ إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ».

الـهي! ما پر خپل ځان ډیر ظلم کړی دی، او بیله تا نه بل څوک ګناهونه نشي بخښلای نو ما ته له خپل جانب نه بخښنه وکړه، او پر ما رحم وکړه، په رښتیا سره همدا ته بخښونکی مهربانه یې[1].

۵۸-(٤) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي؛ أَنْتَ المُقَدِّمُ، وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

الـهي! زما هغه ګناه وبخښې چې ما مخکې کړې او وروسته مې کړې پټه مې کړې، او ښکاره مې کړېده، او هغه څه چې ما پکې اسراف او زیادت کړی، او هغه ګناه چې ته په هغه له ما نه ښه خبر یې، ته مخکې کونکی یې، اوته وروسته کونکی یې، بیله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته[2].

۵۹-(٥) «اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ».

الـهي! ما ته ستا په ذکر کولو، شکر کولو، او ښه عبادت

(١) بخاري (٨/١٦٨)، مسلم (٤/٢٠٧٨).
(٢) مسلم (١/٥٣٤).

کولـو مـدد او توفيق راکـړي[(١)].

٦٠-(٦) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُـوذُ بِـكَ مِـنَ البُخْـلِ، وَأَعُـوذُ بِـكَ مِـنَ الجُـبْنِ، وَأَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ العُمُرِ، وَأَعُـوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَـةِ الدُّنْيَـا، وَعَـذَابِ القَبْرِ»

الـهي! زه پـه تـا سره له بخـل نـه پنـاه غـوارم، او په تـا سره له بې زړه تـوب نـه پناه غـوارم، او په تـا سره و سـپک عمر ته له رسـیدو نـه پنـاه غـوارم او په تـا سره د دنیـا له فتنـې، او د قبر له عـذاب نه پناه غـوارم[(٢)].

٦١-(٧) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ».

الـهي! زه له تـا نه د جنت سـوال کـوم، او په تـا سره له دوزخ نه پناه غوارم[(٣)].

٦٢-(٨) «اللّٰهُمَّ بِعِلْمِكَ الغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الخَلْقِ؛ أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الحَيَاةَ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الوَفَاةَ خَيْرًا لِي. اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الحَقِّ

(١) ابو داود (٢/٨٦)، نسائي (٣/٥٣) او الباني هغه په صحيح داود (١/٢٨٤) کې صحيح بللى دى.
(٢) بخاري (فتح الباري ٦/٣٥).
(٣) ابو داود، صحيح ابن ماجه (٢/٣٢٨).

فِي الرِّضَا وَالغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ القَصْدَ فِي الغِنَى وَالفَقْرِ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا يَنْفَدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ القَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ العَيْشِ بَعْدَ المَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ، فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ. اللّٰهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الإِيمَانِ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ».

الـهي! پـه غيبـو باندي سـتا پـه علـم سره پـه مخلوقاتـو باندي سـتا پـه قـدرت سره سـوال کـوم چـي مـا تـه هغـه پـوري ژونـد راکـړې چـي تـه زمـا لپـاره ژونـد بهتر کنـې او مـا ته هلـه مرګ راکـړې، چـي سـتا پـه علم کي مـرګ را تـه بهـتر و کنې، الـهي! زه پـه پټه او ښـکاره کي سـتا نه د ويري سـوال کوم، او د خوشـحالۍ او خفـګان پـه وخـت د حـق ويلـو سـوال در نه کـوم او په مـالدارۍ او غريبـۍ کي در ميانـه روی سـوال درنـه کـوم، او د داسي نعمـت سـوال درنـه کوم چي ختميدونکـي نه وي، او د داسي خوشـحالۍ سـوال درنـه کـوم چـي پريکـيدونکـې نـه وي، پـه قضـاء وقدر بانـدي د راضي کيدلـو سـوال درنه کوم له مرګ نه وروسـته د ښـه ژونـد سـوال درنـه کـوم، او سـتا مخ تـه د کتلـو د خونـد او لذت، او سـتا ملاقـات تـه دشـوق سـوال درنـه کوم او په شـوق سره سـتا د ملاقـات سـوال درنـه کـوم، چـي له هغـه سره زيـان رسـونکـې تـکليـف او ګمـراه کونکـي فتنـه نـه وي، الهي! د ايمـان په ګاڼو

سره مو سمبال كړې، او له هدايت شويو هدايت كونكو نه مو وګرځوي[1].

٦٣-(٩) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا أَللهُ بِأَنَّكَ الوَاحِدُ الأَحَدُ الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ: أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي؛ إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ».

الـهي! زه له تانه سوال كوم پدې چې اى الله ! ته بيشكه ايكې يو يې، بې نيازه يې، هغه ذات يې چې خوک يې ندي زيږولي، او نه هغه له بل چا نه زيږيدلى دى، او هيڅ خوک هغه لره سيال نشته نو ما لره زما ګناهونه وبخښې، په رښتيا سره همدا ته بخښونكى مهربان يې[2].

٦٤-(١٠) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الحَمْدَ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، المَنَّانُ، يَا بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ؛ إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ».

الـهي! زه درنه سوال كوم پدى چې تا لره پوره ستاينه ده، بيله

---

(١) نسائي (٤/٥٥، ٥٤)، احمد (٤/٣٦٤) او الباني هغه په صحيح النسائي (١/٢٨١) كې صحيح بللى دى.

(٢) نسائي (٣/٥٢) په همدا لفظ سره روايت كړى دى، احمد (٤/٣٣٨)، او الباني په صحيح النسائي (١/٢٨٠) كې صحيح بللى دى.

تـا نه بـل د عبـادت وړ معبـود نشـته، یو یـې شریک نلـري، زیات احسـان کونکـی یې، ای د آسـمانونو او ځمکي پیـدا کونکـیه! ای د لـويي او عـزت ورکولو څښـتنه ای د همیشـنی ژونـد خاوندہ! ای د کائناتـو پالونکـیه! زه له تـا نـه د جنـت سـوال کوم او پـه تا سره له دوزخ پنـاه غواړم[(١)].

٦٥-(١١) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ بِـأَنِّي أَشْـهَدُ أَنَّكَ أَنْـتَ اللّٰهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْـتَ، الأَحَـدُ الصَّمَـدُ، الَّذِي لَـمْ يَلِدْ وَلَـمْ يُولَدْ، وَلَـمْ يَكُنْ لَهُ كُفُـوًا أَحَدٌ».

الـهي! زه له تـا نه سـوال کوم پدې چـې زه شـاهدي ورکوم چي تـه الله يي، بیلـه تـا نه بل د عبـادت وړ معبود نشـته، تـه ایکـي یو یـې، هغـه بي نیـازه ذات يې، چي څـوک يي ندي زیـږولي، او نه هغه له بـل چا نـه زیږیـدلی دی، او هیڅ څوک هغه لره سـیال نشـته[(٢)].

## ٢٥ د سلام ګرځولو نه وروسته اذکار

٦٦-(١) «أَسْـتَغْفِرُ اللّٰهَ [دري ځلي]، اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّـلَامُ، وَمِنْكَ السَّـلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الجَـلَالِ وَالإِكْرَامِ».

---

(١) اصحاب السنن روایت کړی، صحیح ابن ماجه (٢/٣٢٩).

(٢) ابو داود (٢/٦٢)، ترمذي (٥/٥١٥)، ابن ماجه (٢/١٢٦٧)، احمد (٥/٣٩٠)، صحیح ابن ماجه (٢/٣٢٩)، صحیح الترمذي (٣/١٦٣).

له الله نـه بخښـنه غـواړم. الـهي! ته له ټولـو عيبونو نـه پاک يې، او سـلامتيا سـتا له جانبـه ده با برکتـه ذات يې، اى د لـويي او عزت ورکولو څښـتـه[(١)].

٦٧-(٢) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [دري ځلي]، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ».

بيلـه الله نـه بـل د عبـادت وړ معبـود نشـته، يـو دى، شريـک نلـري، ده لـره (دکائناتـو) باچـاهي او پوره سـتاينه ده او هغـه پر هر څـه قـادر دى الـهي! تـه چـي چـا له څـه ورکـړې، د هغـه څـوک بندونکـى نشـته، او تـه چـي له چـا نـه څـه بنـد کـړې، د هغـه څـوک ورکونکـى نشـته او فائـده نـه کوي مـالدار لـره دهغه مال سـتا د عذاب پـه لـري کولـو کي)[(٢)].

٦٨-(٣) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ، وَلَهُ الفَضْلُ، وَلَهُ الثَّنَاءُ الحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ، وَلَوْ كَرِهَ الكَافِرُونَ».

---

(١) مسلم (١/٤١٤).

(٢) بخاري (١/٢٥٥)، مسلم (١/٤١٤).

بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، یو دی، شریک نلري، ده لره (دکائناتو) باچاهي او پوره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی، هیڅ طاقت او قدرت نشته د ګناه نه د ساتلو او د نیکیو د کولو مګر په الله پاک سره بیله الله پاک نه بل د عبادت وړ معبود نشته، او بیله هغه نه د بل چا عبادت نه کوو، نعمت او احسان دده له جانبه دی غوره ستاینه هغه لره ده، بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، پداسي حال کي چي عبادت او بنده ګي مو خاص هغه لره ده، که څه هم کفارو ته خوښه نه وي(١).

٦٩-(٤) «سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلهِ، وَاللهُ أَكْبَرُ (٣٣ ځله). لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

پاک دی الله پوره ستاینه الله لره ده، او ډیر لوی ذات دی. ٣٣ ځله. بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، یو دی شریک نلري، هغه لره د کائناتو باچاهي او پوره ستاینه ده او همدی پر هر څه قادر دی(٢).

٧٠-(٥) بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ﴾.

---

(١) مسلم (١/٤١٥).
(٢) مسلم (١/٤١٨).

ووايه (اې محمده!): دا چې الله ايکي يو الله دی بې نيازه دی، نه يي ځوک زيږولي، او نه له چا نه زيږيدلی او هيڅوک هغه لره سيال نشته.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾.



ووايه (اې محمده!) پناه غواړم په پروردګار سره د سهار د هغه څه له شر نه چې ده پيدا کړيدي او د تياره شپې له شر نه چې تکه توره شي، او د پوکي کونکيو جادو ګرو ښځو له شر نه چې پوکل کوي په غوټو کې، او د حسد کونکي له شر نه چې کله حسد وکړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾.

ووايه (اې محمده!) پناه غواړم د خلکو په پروردګار سره، د خلکو په پاچا سره، د خلکو په خدای سره، د وسوسه اچونکي، او د الله د ذکر نه تښتيدونکي شيطان له شر څخه کوم چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي، له پيريانو څخه وي، او که له انسانانو څخه.

له هر لمانځه نه ورستو دا سورتونه لوستل[١].

(١) ابو داود (٢/٨٦)، نسائي(٣/٦٨)، صحيح الترمذي (٢/٨)، او دا درې واړه سورتونه ته معوذات =

٧١-(٦) ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَيُّ ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴾.

الله هغه معبود برحق دى چي بيله هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه هميشه ژوندى دى، د کائناتو تدبيرونکى دى، نه پر هغه پرکالي راځي او نه خوب، څه چي په آسمانونو او ځمکه کي دي ټول هغه لره دي، څوک دى چي دده په وړاندي بي دده له اجازې نه د چا لپاره شفاعت وکړي؟، عالم دى په هغه څه چي له هغوى نه وړاندي دي، يعني د هغوى په راتلونکو حالاتو عالم دى، او په هغه څه چي له هغوى نه وروسته دي، او هغوى دده له علم نه په هيڅ شي احاطه نشي کولاى، مگر کوم شى چي وغواړي، کرسي يي پر آسمانونو او ځمکه احاطه کړې ده، او د آسمانونو او ځمکي ساتل هغه نه ستړى کوي، او هغه لوړ او لوى دى. **له هر لمانځه نه وروسته دا ايت لوستل**(١).

٧٢-(٧) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

= وايي، فتح الباري (٩/٦٢).

(١) نسائي (عمل اليوم والليلة ١٠٠ نمبر حديث، ابن السني ١٢١ نمبر حديث او الباني په صحيح الجامع ٥/٣٣٩، او په سلسلة الأحاديث الصحيحة ٢/٦٩٧، ٩٧٢ نمبر حديث کي هغه صحيح بللى دى).

بیلـه الله نـه بـل د عبـادت وړ معبـود نشـته یـو دی شریـک نلـري، ده لـره د کائناتـو باچاهي او پوره سـتاینه ده ژونـد ورکوي او مـرګ راولي، او هغـه پر هر څه قادر دی. **د مابشـام او سـهار لمانځه نه وروسـته لس ځـلي**[1].

۷۳-(۸) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ عِلْمًـا نَافِعًـا، وَرِزْقًـا طَيِّبًا، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا».

الـهي! زه له تـا نـه د ګټـور علـم، او پـاک رزق او قبـول شـوي عمـل سـوال کـوم. **د سـهار د لمانځـه د سـلام نـه وروسـته**[2].

## ۲۶ د استخارې د لمانځه دعا

۷۴- جابـر بـن عبـد الله رضي الله عنهما وايي: پیغمـبر ﷺ بـه مـوږ تـه په هـر کار کې د اسـتخارې داسي ښـوونه کـوله، لکه څنګـه چي به يې مـوږ تـه د قرآن د یو سـورت ښـوونه کـوله او داسي بـه يې فرمايل: کلـه چي له تاسـو نـه یو څوک د کـوم کار کولو اراده وکـړي، نو دوه رکعتـه نفـل لمونځ دي وکړي، او بيـا دي ووايي: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْـتَخِيرُكَ بِعِلْمِـكَ، وَأَسْـتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِـكَ، وَأَسْـأَلُكَ مِـنْ فَضْلِـكَ العَظِيمِ؛

(۱) ترمذي (۵/۵۱۵)، احمد (۴/۲۲۷)، تخريج يې په زاد المعاد (۱/۳۰۰)، کې وګورى.
(۲) ابن ماجه او نورو روايت کړيدى ،صحيح ابن ماجه (۱/۱۵۲)مجمع الزوائد (۱۰/۱۱۱).

فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ -او هغه خپله اړتيا نوموي- خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي -يا وويل: عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ-، فَاقْدُرْهُ لِي، وَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي -يا وويل: عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ-، فَاصْرِفْهُ عَنِّي، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ».

الهي! زه ستا په علم سره له تا نه خير غواړم، او ستا په قدرت سره له تانه طاقت غواړم، او ستا د لوی فضل او رحمت سوال درنه کوم، ځکه ته قادر يي او زه عاجز يم او ته پوهيږې او زه نه پوهيږم او ته په غيبو ښه پوه يي الهي! که ته پوهيږې چي دا کار – د هغه کار نوم به اخلي- زما لپاره په دين او دنيا کي، او په انجام د کار کي خير وي او يا دي ووايي: په نژدې او ليري آينده کي را ته خير وي- نو ته يې ما لره په برخه کړې او ما لره يي آسانه کړې او بيا ما لره په هغه کي برکت واچوې، او که ته پوهيږې چي دا کار زما لپاره په دين او دنيا کي او په انجام د کار کي بد دی او يا دي ووايي: په نژدې او ليري آينده کي بد دی نو له ما نه يي وګرځوې او ما له هغه نه وساتي او ما ته خير را په برخه کړې چيرته چي وي، او بيا ما په هغه سره خوشحاله کړې[١].

---

(١) بخاري (٧/١٦٢).

ثوک چې د خالق نه خير وغواړي، او د مومنانو سره مشوره وکړي، او په کارکې ښه فکر وکړي، نو هيڅکله به پښيمانه نشي، الله پاک فرمايي: ﴿وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ﴾ او لدوی مومنانو سره په کار کې مشوره وکړه، او چې د کار کولو عزم او اراده وکړې، نو پر الله توکل او تکيه وکړه[(١)].



## ٢٧ د سهار او ما ښام اذکار

٧٥-(١) أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ﴾.

الله هغه معبود برحق دی چې بيله هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه هميشه ژوندی دی، د کائناتو تدبيرونکی دی، نه پر هغه پرکالي راځي او نه خوب، څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ټول هغه لره دي، ثوک دی چې دده په وړاندي بې دده له اجازې نه د چا لپاره شفاعت وکړي؟، عالم دی په هغه

(١) سورة: آل عمران، الآية: [١٥٩].

څه چي له هغوی نه وړاندي دي، يعني د هغوی په راتلونکو حالاتو عالم دی، او په هغه څه چي له هغوی نه وروسته دي، او هغوی دده له علم نه په هيڅ شي احاطه نشي کولای، مګر کوم شی چي وغواړي، کرسي يي پر آسمانونو او ځمکه احاطه کړې ده، او د آسمانونو او ځمکي ساتل هغه نه ستړی کوي، او هغه لوړ او لوی دی. **له هر لمانځه نه وروسته دا ايت لوستل**(١).

٧٦-(٢) بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ﴾.

وايه (اې محمده!): دا چي الله ايکي يو الله دی بي نيازه دی، نه يي څوک زيږولي، او نه له چا نه زيږيدلی او هيڅوک هغه لره سيال نشته.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾.

وايه (اې محمده!) پناه غواړم په پروردګار سره د سهار د هغه څه له شر نه چي ده پيدا کړيدي او د تياره شپي له شر نه چي تکه توره

(١) سورة: البقرة، الآية: [٢٥٥]. مَن قالها حين يُصبِح أُجيرَ مِن الجِنِّ حتى يُمسِيَ، ومَن قالها حين يُمسِي أُجِيرَ منهم حتى يُصبِحَ. أخرجه الحاكم (١/٥٦٢)، وصحَّحه الألباني في «صحيح الترغيب والترهيب» (١/٢٧٣)، وعزاه إلى النَّسائي والطبراني، وقال: «إسنادُ الطبراني جيد».

شي، او د پوکي کونکیو جادو ګرو بنځو له شر نه چي پوکل کوي په غوټو کي، او د حسد کونکي له شر نه چي کله حسد وکړي.

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ① مَلِكِ ٱلنَّاسِ ② إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ ③ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ④ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ⑤ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾.



وواېه (اې محمده!) پناه غواړم د خلکو په پروردګار سره، د خلکو په پاچا سره، د خلکو په خدای سره، د وسوسه اچونکي او د الله د ذکر نه تښتيدونکي شيطان له شر څخه کوم چي د خلکو په سينو کي وسوسې اچوي، له پیریانو څخه وي، او که له انسانانو څخه. دري ځلي.(١)

٧٧-(٣) «أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ».

(١) څوک چي دا سورتونه د سهار او ماښام په وخت ووايي، نو لههر څه نه ورته کافي او بس دي. ابو داود (٤/٣٢٢) ترمذي ٥/٥٦٧، صحيح الترمذي (٣/١٨٢).

سهار شو پر موږ، او پاچاهي ټوله خاص الله لره ده او پوره ستاينه الله لره ده، بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريک نلري او هغه پر هر څه قادر دی، ای زما پروردګاره پدې ورځ کي څه خير دی، او د دي وروسته چي څه خير دی، زه له تا نه د هغه سوال کوم او پدې ورځ کي چي څه شر دی، او له هغه نه وروسته چي څه شر دی، له هغه څخه په تا سره پناه غواړم ای زما پروردګاره په تا سره له تنبلی، او د لوی عمر د بدوالي نه پناه غواړم ای زما پروردګاره! په تا سره د دوزخ او قبر له عذاب نه پناه غواړم(١).

٧٨-(٤) «اللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ».

الهي! ستا په حکم موږ سهار کړو، او ستا په حکم سره موږ ماښام کړو، او ستا په حکم سره ژوند کوو، او ستا په حکم سره مرو او تا لره بيا در تګ او ژوندي کيدل دي(٢).

٧٩-(٥) «اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا

(١) مسلم ٤/٢٠٨٨ کله ماښام شي نو داسي به وايي: «أمسينا وأمسى الملك الله»، ترجمه ماښام شو پر موږ، او پاچاهي ټوله الله لره ده..

(٢) ترمذي (٥/٤٩٦)، صحيح الترمذي (٣/١٤٢) او چي کله ماښام شي نو داسي به وايي: «اللّٰهُمَّ بك أمسينا وبك أصبحنا وبك نحيا وبك نموت وإليك المصير»، يعني «أمسينا» به له «أصبحنا نه مخکي وايي او د «النشور» په ځای به «المصير» وايي، او ترجمه يي هماغه پورتنی ترجمه ده.

صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي؛ فَاغْفِرْ لِي؛ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ».

الهي! ته زما پروردګار يې، بيله تا نه بل د عبادت وړمعبود نشته، تا زه پيدا کړی يم، او زه دي بنده يم او زه د خپل توان سره ستا پر عهد او وعده ولاړ يم، زه په تا سره د خپلو کړو له شر نه پناه غواړم زه ستا په هغه نعمت اقرار کوم چې ما ته دي راکړی او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته بخښنه وکړې، چې بيله تا نه څوک ګناه نشي بخښلای[(١)].

٨٠-(٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَصْبَحْتُ أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَمَلَائِكَتَكَ، وَجَمِيعَ خَلْقِكَ: أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ».

الهي! ما سهار کړو، پداسي حال کې چې زه تا او ستا د عرش پورته کونکي، او ستا فرښتې، او ستا ټول مخلوقات پدې شاهد چې بې شکه ته الله يې، بيله تا نه بل د عبادت معبود نشته، يو يې، شريک نلرې، ، او په رښتيا سره محمد ستا بنده او ستا پيغمبر دی.
څلور ځلي[(٢)].



(١) څوک چې دا دعا په يقين سره د ماښام کيدو په وخت ووايي، او بيا په هماغه شپه مړ شي نو جنت ته به داخل شي، او همدا رنګه که هغه د سهار کيدو په وخت ووايي. بخاري (٧/١٥٠).
(٢) او د ماښام کيدو په وخت به داسي وايي: «اللَّهُمَّ ما أمسى بي..»، يعني: الهي! کوم نعمت چې =

٨١-(٧) «اللّٰهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ، فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ؛ فَلَكَ الحَمْدُ، وَلَكَ الشُّكْرُ».

الـهي! كـوم نعمـت چـي مـا تـه، او يـا سـتا بلكـوم مخلـوق ته د سـهار پـه وخـت رسـيدلى، نو هغـه يواځـي سـتا له طرفـه دى، تا لـره شريـك نشـته، نو تـا لـره سـتاينه او شـكر دى[(١)].

٨٢-(٨) «اللّٰهُمَّ عَافِـنِي فِي بَـدَنِي، اللّٰهُمَّ عَافِـنِي فِي سَـمْعِي، اللّٰهُمَّ عَافِـنِي فِي بَصَرِي؛ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْـتَ. اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الكُفْرِ وَالفَقْـرِ، وَأَعُـوذُ بِكَ مِنْ عَـذَابِ القَـبْرِ؛ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

الـهي! مـا ته په بـدن كي روغتيا راكـړې، الهي! ما تـه په غوږونو كي روغتيـا راكـړې، الـهي! ما ته په سـتركو كي روغتيا راكـړې، بيله تـا نـه بـل د عبـادت وړ معبود نشـته، الـهي! زه په تـا سره له كفر

---

= د ماښام په وخت رسيدلى...څوك چي دا ذكر د سهار كيدو او يا ماښام كيدو په وخت څلور ځلي ووايي الله به يې له دوزخ نه په امان كړي. ابو داود ٤/٣١٧ بخاري په الأدب المفرد» (١٢٠١) نمبر حديث كي نسائي په عمل اليوم والليلة» ٩ نمبر حديث كي، ابن السني ٧٠ نمبر حديث كي روايت كړيدى، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار ص ٢٣ كي د نسائي او ابو داود اسناد حسن بللى دى.

(١) چي كله ماښام كيدونكى وي نو داسي به وايي. «اللّٰهُمَّ إني امسيت»، ترجمه: الهي! ما ماښام كړو څوك چي دا ذكر د سهار كيدو په وخت ووايي، نو د هغي ورځي شكر يي په ځاى كړيدى او چي كله هغه د ماښام كيدو په وخت ووايي نو د هغي شپي ، شكر يي په ځاى كړيدى. ابو داود (٤/٣١٨) او نسائي په عمل اليوم والليلة» ٧ نمبر حديث كي ابن السني ٤١ نمبر حديث كي، ابن حبان «موارد» ٢٣٦١ نمبر حديث كي روايت كړيدى او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص ٢٤ كي د هغه اسناد حسن بللى دى.

او فقـر نـه پناه غـوارم، او پـه تا سره د قـبر له عذاب نه پنـاه غوارم بيلـه تا نه بـل د عبـادت وړ معبود نشـته. **دري ځلي** (١).

٨٣-(٩) «**حَسْـبِيَ اللهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا هُـوَ، عَلَيْـهِ تَوَكَّلْـتُ، وَهُوَ رَبُّ الْعَـرْشِ الْعَظِيمِ**».

بـس دى مـا تـه هغـه الله چـي بيله هغـه بـل د عبـادت وړ معبود نشـته پـر هغـه مي تـوكل كـړى، او همـدى د لـوى عرش څښـتن دى. **اووه ځلـي** (٢).

٨٤-(١٠) «**اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ الْعَفْـوَ وَالْعَافِيَـةَ فِي الدُّنْيَـا وَالآخِـرَةِ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ الْعَفْـوَ وَالْعَافِيَـةَ فِي دِيـنِي وَدُنْيَـايَ، وَأَهْـلِي وَمَالِي. اللَّهُمَّ اسْـتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِـنْ رَوْعَاتِي. اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِـنْ بَـيْنِ يَـدَيَّ وَمِـنْ خَلْـفِي، وَعَـنْ يَمِينِي وَعَـنْ شِـمَالِي، وَمِنْ فَـوْقِي، وَأَعُـوذُ بِعَظَمَتِـكَ أَنْ أُغْتَـالَ مِـنْ تَحْـتِي**».

الـهي زه له تـا نـه په دنيا او آخرت كي د معافى او سـلامتى سـوال

---

(١) ابو داود (٤/٣٢٤) احمد ، (٥/٤٢) نسائي په «عمل اليوم والليلة ٢٢ نمبر حديث كي ابن السني ٦٩ نمبر حديث كي، بخاري په الأدب» «المفرد كي روايت كړيدى، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص ٢٦ كي د هغه اسناد حسن بللى دى.

(٢) څوک چي دا ذكر د سهار او ماښام په وخت اووه ځلي ووايي الله به يي د دنيا او آخرت د كارونو او انديښنو لپاره ورته كافي وګرځوي. ابن السني ٧١ نمبر حديث كي مرفوع، ابو داود ٤/٣٢١ موقوف روايت كړيدى، او شعيب او عبد القادر الأرناؤوط يي اسناد صحيح بللى دى، زاد المعاد (٢/٣٧٦).

کوم الهي! زه له تا نه په خپل دين او دنيا کې او په خپل اهل او مال کې د معافی او سلامتی سوال کوم، الهي! زما عيبونه پټ کړې او ويره را نه لرې کړې الهي! ما د مخې نه، او د شانه، او د ښی خوا نه او د چپې خوا نه او د پورته خوا نه محفوظ کړې، او زه ستا په لويي سره لدې نه پناه غواړم چې د لاندې خوا نه ناڅاپه هلاک شم[(١)].

٨٥-(١١) «اللّٰهُمَّ عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشَرَكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ».

الهي! اې په پټو او ښکاره عالمه! اې د آسمانونو او ځمکي پيدا کونکيه اې د هر شي پالونکيه او واکمنه زه شاهدي ورکوم چې بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته، زه په تا سره د خپل نفس د شر نه او د شيطان د شر او شرک نه پناه غواړم او لدې نه پناه غواړم چې زه بدي وکړم او يا بل مسلمان ته بدي ورسوم[(٢)].

٨٦-(١٢) «بِاسْمِ اللهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ».

---

(١) ابو داود ابن ماجه صحيح ابن ماجه (٢/٣٣٢).

(٢) ترمذی، ابو داود، صحيح الترمذي (٣/١٤٢).

د هغـه الله پـه نـوم چـي له نامـه سره يې هيڅ شي پـه ځمکه او آسـمان کې ضرر نـه رسـوي، او هغه ښـه اوريدونکـی، ښـه پوه دی. درې ځلي[١].

٨٧-(١٣) «رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا».

زه د الله پـه خـدايي توب (يا کارسـازي)، او د اسـلام پـه دين او د محمـد ﷺ پـه پيغمبري راضي شـوم. درې ځلي[٢].

٨٨-(١٤) «يَـا حَيُّ يَا قَيُّومُ، بِرَحْمَتِكَ أَسْـتَغِيثُ، أَصْلِحْ لِي شَـأْنِي كُلَّـهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْـسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ».

ای د کامل ژوند ښبتنه! ای د کائناتو تدبيرونکيه، ستا په رحمت سره فرياد کوم او مدد غوارم، زما ټول کارونه برابر کړې، او زما نفس او خواهشاتو ته مې د ستر د سترګې د رپ په اندازه هم مه سپارې[٣].



(١) څوک چې دا ذکر د سهار په وخت درې ځلي، او د ماښام په وخت درې ځلي ووايي هيڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي. ابو داود ٤/٣٢٣ ترمذی ٥/٤٦٥ ابن ماجه، احمد، صحيح ابن ماجه ٢/٣٣٢ او علامه ابن باز په «تحفی الدخيار» ص ٣٩ کې د . د هغه اسناد حسن بللی دی.)

(٢) څوک چې دا ذکر د سهار او ماښام په وخت درې ځلي الله روايې، نو په حق دی چې هغه به د قيامت په ورځ خوشحالوي. احمد (٤/٣٣٧) ، نسائي په عمل اليوم والليلة» ٤ نمبر حديث کې ابن السني ٦٨ نمبر حديث کې، ابو داود (٤/٣١٨) ترمذي (٥/٤٦٥) روايت کړيدی او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص ٣٩ کې د هغه اسناد حسن بللی دی.)

(٣) حاکم روايت کړی او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، صحيح الترغيب والترهيب ب (١/٢٧٣).

٨٩-(١٥) «أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ المُلْكُ لِلهِ رَبِّ العَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذَا اليَوْمِ: فَتْحَهُ، وَنَصْرَهُ، وَنُورَهُ، وَبَرَكَتَهُ، وَهُدَاهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ، وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ».

مونږ سهار كړو، او كائناتو هم الله لره سهار كړو چې پروردګار د مخلوقاتو دى، الهي! زه درنه د دې ورځې د خير كاميابى نصرت رڼايي ،بركت او هدايت سوال كوم او په تا سره د هغې له شر نه، او د هغې نه وروسته شر نه پناه غواړم[(١)].

٩٠-(١٦) «أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الإِسْلَامِ، وَعَلَى كَلِمَةِ الإِخْلَاصِ، وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ، وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ المُشْرِكِينَ».

مونږ په فطرت د اسلام، او په كلمه د اخلاص او په دين د محمد ، او په طريقه زمونږ د پلار ابراهيم سهار كړو، چې حق ته مايل وو، او له مشركانو څخه نه وو[(٢)].

---

(١) ابو داود (٤/٣٢٢)، او شعيب او عبد القادر الأرناؤوط د «زاد المعاد (٢/٢٧٣) په تحقيق كې د هغه اسناد حسن بللى دى. د ماښام په وخت به داسي وايي: «أمسينا وأمسى الملك لله ترجمه ماښام شو پر مونږ او پاچاهي ټوله خاص لره ده. د ماښام په وخت به داسي وايي: «اللَّهُمَّ إني أسألك خير الليلة فتحها ونصرها، ونورها، وبركتها، وهداها، وأعوذ بك من شر ما فيها وشر ما بعدها» ترجمه هماغه پورتنى ترجمه ده، خو د ورځې په ځاى به شپه يادوي).

(٢) احمد (٣/٤٠٦،٤٠٧)، ابن السني په «عمل اليوم والليلة» ٣٤ نمبر حديث كې، صحيح الجامع ٤/٢٠٩ او د ماښام په وخت به وايي مونږ په فطرت د اسلام ماښام كړو.

٩١-(١٧) «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ».

پاک دی الله سره له توُلي ستايني. (سل ځلي)[١].

٩٢-(١٨) «لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته یو دی، شریک نلري، هغه لره باچاهي ده، او هغه لره پوره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی سل ځلي یا یو ځل د تنبلی په وخت کي[٢].

٩٣-(١٩) «لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته یو دی، شریک نلري، هغه لره باچاهي ده، او هغه لره پوره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی (سل ځلي د سهار په وخت کي)[٣].



(١) څوک چي دا ذکر د سهار او ماښام په وخت سل ځلي ووايي هيڅ څوک به د قيامت په ورځ له ده غوره عمل ونلري، مګر هغه څوک چي دده په اندازه او يا له هغه نه زيات يې دا ذکر ويلي وي.

(٢) نسائي په «عمل اليوم والليلة ٢٤ نمبر حديث کی روايت کړيدی، صحيح الترغيب والترهيب (١/٢٧٢)، «تحفة الأخيار» ص ٤٤ د ابن باز ،ليکنه او ددې ذکر فضيلت په ص١٤٦).

(٣) (څوک چي دا ذکر په ورځ کي سل ځلي ووايي، نو د لسو مريانو د آزادولو په اندازه (اجر) به ورکړل شي، او هغه لره به سل نيکی وليکل شي او سل ګناهونه به ورته وبخښل شي، او په هماغه ورځ به تر ماښام پوري له شيطان نه په امان وي ابو داود ٤/٣١٩ ابن ماجه احمد ٤/٦٠، صحيح الترغيب والترهيب ١/٢٧٠ ، صحيح ابي داود (٣/٩٥٧)، صحيح ابن ماجه (٢/٣٣١)، زاد المعاد (٢/٣٧٧).

٩٤-(٢٠) «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ: عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَا نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».

پاک دی الله او هغه لره غوره ستاینه ده دده د مخلوقاتو د شمیر په اندازه او دده د رضا په اندازه او دده د عرش د وزن په اندازه او دده د کلماتو د سیاهي په اندازه **دري ځلي د سهار په وخت**(١).

٩٥-(٢١) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا، وَرِزْقًا طَيِّبًا، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا».

الـهي! زه له تا نه د ګټور علم، او پاکي روزی، او قبول شوي عمل سوال کوم - **چي کله سهار پاځي**(٢).

٩٦-(٢٢) «أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ».

له الله نه بخښنه غوارم، او هغه ته توبه او باسم. **سل ځله د ورځي**(٣).

٩٧-(٢٣) «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ».

د الله په بشپړ کلام سره د هغه د مخلوقاتو له شر نه پناه

---

(١) مسلم (٤/٢٠٩٠).
(٢) ابن السني په عمل اليوم والليلة ٥٤ نمبر حديث کي، ابن ماجه ٩٢٥ نمبر حديث کي روايت کړيدی او شعيب او عبد القادر الأرنؤوط د «زاد المعاد» په تحقيق (٢/٣٧٥) کي د هغه اسناد حسن بللی دی.
(٣) بخاري فتح الباري (١١/١٠١)، مسلم (٤/٢٠٧٥).

غـوارم. درې ځـلي د ماښـام پـه وخـت)[1].

۹۸-(۲٤) «اللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ».

الـهي! زمونـږ پـر پيغمـبر محمـد درود او سـلام وليـږه. لـس ځلـي[2].



## ۲۸ د خوب اذكار

۹۹-(۱) «خپـل ورغوي به سره يو ځـاى كړي، او بيا دي لاندينى اذكار ولولي: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾

---

(۱) څوک چې هغه د ماښام په وخت درې ځلې ووايي، په هغه شپه کې به د زهرناکې خزندې زهر ورته څه ضرر ونه رسوي. احمد (۲/۲۹۰)، نسائي په عملاليوم والليلة» ۵۹۰ نمبر حديث کې ابن السني ٦٨ نمبر حديث کې روايت کړيدی، صحيح الترمذي (۳/۱۸۷)، صحيح ابن ماجه (۲/۲٦٦)، تحفة الأخيار ص ٤٥.

(۲) پيغبر صلى الله عليه وسلم فرمايي څوک چې د سهار کيدو په وخت او ماښام کيدو په وخت لس لس ځلې پر ما درود ووايي، نو د قيامت په ورځ به يې زما شفاعت په برخه شي. طبراني په دوو اسنادو سره روايت کړيدی چې يو بنه (جيد) دی، مجمع الزوائد (۱۰/۱۲۰) ، صحيح والترهيب (۱/۲۷۳) دي وکتل شي.

﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ۝٤ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝٥ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾ و هغه دي په لاسونو كي چف كړي، او بيا دي په ورغويو سره خپل جسم مسه كړي، له سره دي يې شروع كړي، او بيا مخ او بيا نور جسم دي مسه كړي. **دا به درې ځلي كوي)** (١).

١٠٠-(٢) ﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ﴾.

ترجمه يې مخكي شويده، څوك چي كله خپل د خوب ځاى ته راشي او آيت الكرسي ووايي نو د الله له طرفه به يو ساتونكي ورته مقرر شي، او شيطان به ورته نه نژدې كيږي تر څو چي سهار شي (٢).

١٠١-(٣) ﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ ۚ وَقَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ۝٢٨٥ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ

---

(١) ترجمه يې مخكي شويده. ٧٠ نمبر ذكر دي بخاري فتح الباري (٩/٦٢)، مسلم (٤/١٧٢٣).
(٢) سورة: البقرة، الآية: [٢٥٥]، بخاري فتح الباري (٤/٤٧٨).

نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾.



پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه څه چې ده ته له خپل پروردګار څخه را نازل شوي دي یقین او باور کړی، او مومنانو هم په هغه یقین کړی، او ټولو ایمان راوړ په الله، او د هغه په ملائکو، او د هغه په کتابونو او د هغه په پیغمبرانو، پداسې حال کې چې ټول وایي د (الله) د پیغمبرانو د هیڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو، او همدارنګه پیغمبر او مومنان وایي مونږ د الله حکم واوریده، او د هغه اطاعت مو وکړ، ای پروردګاره! ستا بخښنه غواړو او تا ته د ټولو مخلوقاتو بیا درتګ دی.

الله هیڅ څوک د قدرت او طاقت نه زیات نه مکلف کوي، کوم (نیک) کار چې یې کړی د هغه (ثواب) همده لره دی، او کوم (بد) کار چې یې کړی د هغه (عذاب) پر همده باندې دی، ای زمونږ پروردګاره! مونږ په ګناه مه نیسه کله چې ستا حکم هیر کړو، او یا په خطا سره ګناه وکړو ای پروردګاره او مه ایږده پر مونږ باندې درووند بار، لکه څنګه چې دې زمونږ نه مخکې کسانو باندې ایښی وو ، ای پروردګاره او مه ایږده پر مونږ باندې هغه بار چې مونږ یې هیڅ طاقت نلرو او زمونږ دګناهونه نه تیر شه او مونږ ته بخښنه

وکړه، او پر مونږ رحم وکړه، ته زمونږ مددګار يې، نو ته مونږ پر کافر قوم بريالي کړې. **چا چې دا دوه آيته د شپې ولوستل، نو هغه ورته کافي ده**(١).

**١٠٢-(٤) «بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ؛ فَإِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ».**

الـهي! ستا په نوم سره مې خپله ډډه ولګوله او ستا په نوم سره يې بيرته را پورته کوم، که دې زما روح قبض کړ، نو رحم پر وکړه، او که دې بيرته را وليږه، نو ساتنه يې وکړه، په هغه څه سره چې د خپلو نيکو بندګانو ساتنه کوې(٢).

**١٠٣-(٥) «اللَّهُمَّ إِنَّكَ خَلَقْتَ نَفْسِي وَأَنْتَ تَوَفَّاهَا، لَكَ مَمَاتُهَا وَمَحْيَاهَا؛ إِنْ أَحْيَيْتَهَا فَاحْفَظْهَا، وَإِنْ أَمَتَّهَا فَاغْفِرْ لَهَا. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ».**

الـهي! په رښتيا سره تا زما روح پيدا کړی او ته يې مړ کوې،

---

(١) بخاري، فتح الباري (٩/٩٤)، مسلم (١/٥٥٤).

(٢) پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي کله چې له تاسو نه يو له خپل بستر نه پاڅيږي او بيا ورته بيرته راشي، نو د څادر په پلو دې هغه درې ځلې راټک وهي او بيا دې بسم الله پرې ووايي، ځکه هغه نه پوهيږي چې د هغه ځای ته له هغه نه وروسته څه راغلي دي. او کله چې څملي نو بيا دې ووايي باقي حديث، بخاري (١١/١٢٦)، مسلم (٤/٢٠٨٤).

او تا لره يي مرګ او ژوند دی، که دي ژوند ورکړ نو حفاظت يي وکړې، او که دي مړ کړ، نو بخښنه ورته وکړې، الهي! زه درنه د روغتيا سوال کوم(١).

١٠٤-(٦) «اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ».

الهي! ستا له عذاب نه مي وساتي په کومه ورځ چي خپل بندګان بيا ژوندي کوي. **درې ځلې**(٢).

١٠٥-(٧) «بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا».

الهي! ستا په نوم سره مرم او ژوندی کيږم(٣).

١٠٦-(٨) «سُبْحَانَ اللَّهِ».

پاک دی الله، **درې ديرش ځلې**.

«الحَمْدُ لِلَّه».

پوره ستاينه ده الله لره، **درې ديرش ځلې**.

(١) مسلم (٤/٢٠٧٣) احمد په خپل لفظ سره ٧٩٢.

(٢) پيغمبر صلى الله عليه وسلم کله چي به ويده ،کيده خپل ښى لاس به يي تر مخ «لاندي ايښوده او بيا به يي داسي ويل...» باقي حديث. ابو داود بلفظه ٤/٣١١، صحيح الترمذي (٣/١٤٣) (٣)، بخاري (فتح الباري (١١/١١٣)، مسلم (٤/٢٠٨٣).

(٣) بخاري، فتح الباري (١١/١١٣)، مسلم (٤/٢٠٨٣).

«اللّٰهُ أَكْبَرُ».

الله ډېر لوی دی، **څلور ديرش ځلې**[1].

۱۰۷-(۹) «اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ، وَرَبَّ الأَرْضِ، وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالفُرْقَانِ؛ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ. اللّٰهُمَّ أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ؛ اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ، وَأَغْنِنَا مِنَ الفَقْرِ».

الـهي! د اوو آسمانونو پروردګاره د لوی عرش پروردګاره زمونږ پروردګاره او د هر شي پروردګاره! د دانې او زړي چوونکيه! د تورات او انجيل او فرقان نازلونکيه پناه غواړم په تا سره د هر هغه شي له شر نه چې تاېي تندی نيولی دی، الـهي ته اول يې له تا نه مخکې څه نشته، او ته آخر يې، له تا نه وروسته څه نشته، او ته په يقيني دلائلو سره ښکاره يې له تا نه بل څوک زيات ښکاره نشته او ته د ذات په لحاظ له نورو نه پټ يې، او له تا نه هيڅ شی پټ نه دی، له مونږ نه قرض ليرې کړې، او له

(۱) څوک چې دا اذکار د خوب ځای ته د راتګ په وخت کې ووايي، نو دا هغه لره د يو خادم به هم غوره دي.

فقـر نه مـو (وسـاتي) شـتمن (مو) كـړي[(١)].

١٠٨-(١٠) «الحَمْـدُ لِلهِ الَّذِي أَطْعَمَنَـا وَسَـقَانَا، وَكَفَانَـا وَآوَانَـا؛ فَكَـمْ مِمَّـنْ لَا كَافِيَ لَهُ، وَلَا مُـؤْوِيَ!».

ټوله ستاينه هغـه الله لـره ده چـي مونـږ تـه يي خـوراک او څښـاک راکـړی، او له شر نـه يي سـاتلي يـو، او مونـږ ته د اوسـيدو ځـای يي راکـړی، څومره ډير خلک داسي شـته چـي دوي لره د شر نـه سـاتونکی، او د اوسـيدو ځـای ورکونکـی نشـته[(٢)].

١٠٩-(١١) «اللَّهُمَّ عَالِـمَ الغَيْـبِ وَالشَّـهَادَةِ، فَاطِـرَ السَّـمَوَاتِ وَالأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَـهُ، أَشْـهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْـتَ؛ أَعُوذُ بِـكَ مِـنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِـنْ شَرِّ الشَّـيْطَانِ وَشِرْكِـهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْـسِي سُـوءًا، أَوْ أَجُـرَّهُ إِلَى مُسْـلِمٍ».

ترجمه يي مخکي شويده. ٨٥ نمبر ذکر دي و کتل شي[(٣)].

١١٠-(١٢) ﴿الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ الـم سـجده سـورت، ﴿تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ﴾او تبـارك الذي سـورت بـه وايي[(٤)].

---

(١) مسلم (٤/٢٠٨٤).

(٢) مسلم (٤/٢٠٨٥).

(٣) ابو داود (٤/٣١٧)، صحيح الترمذي (٣/١٤٢).

(٤) ترمذي، نسائي، صحيح الجامع (٤/٢٥٥) كله چي د خوب كولو اراده وكړي نو د لمانځه د اوداسه په شان اودس وكړه او بيا پر ښي اړخ پريوزه، او داسي ووايه ... الحديث.

١١١-(١٣) «اللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ».

الـهي! مـا خپل ځان تـا تـه تسليم کـړ، او خپل کار مي تا ته وسپاره، او خپل مـخ مي تـا تـه وګرځـاوه، او خپلـه شـا مي تـا تـه تکيـه کـړه، پـداسي حـال کي چي سـتا له عـذاب نـه ډار لـرم، او سـتا و رحمـت تـه اميـد لـرم، بيلـه تـا نه بـل هيـڅ د نجـات او پناه ځـاى نشـته ايمـان مي راوړ سـتا پر هغه کتـاب چي تا نـازل کړى، او سـتا پـر هغـه پيغمبر چـي تـا (مونږ تـه استولى دى)[1].

## (٢٩) په خوب کي له يوې ډډې نه بلې ډډې ته اوښتلو دعا

١١٢- «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الوَاحِدُ القَهَّارُ، رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا العَزِيزُ الغَفَّارُ».

بيلـه يـو او غالـب الله نـه بـل د عبـادت وړ معبـود نشـته

(١) پيغمبر ﷺ هغه چا ته چي دا اذکار يي وويل داسي وفرمايل: که چيري مړ شي، نو مسلمان به مړ شي. بخاري فتح الباري ١١/١١٣، مسلم ٤/٢٠٨١).

د آسـمانونو او ځمـكي او د هغو پـه مينځ كي مخلوقاتو پـروردګار دى د زور او غلبـې څښـتن دى، بخښـونكـى دى(۱).

## ۳۰ په خوب كي د نا آرامى او له ويري سره مخامخ كيدلو دعا

۱۱۳- «أَعُـوذُ بِكَلِمَـاتِ اللهِ التَّامَّـاتِ مِـنْ غَضَبِـهِ، وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَـادِهِ، وَمِـنْ هَمَـزَاتِ الشَّـيَاطِينِ، وَأَنْ يَحْضُرُونِ».

زه پنـاه غـواړم د الله پـه بشـپړ كلام سره د هغـه له غضـب او عـذاب نـه، او د هغـه د بندګانو له شرنه او د شـيطانانو له وسوسـو نـه او لدې نـه چـې (شـيطانان) ما تـه راشي(۲).

## ۳۱ هغه څه چي د خوب ليدو نه وروسته كول پكار دي

۱۱٤-(۱) دري ځلي به له چپي خوا نه لاړي توكي(۳).

(۱) دا دوعا به هغه وخت وايي چي په شپه كي له يوه اړخ نه بل اړخ ته واوړي. حاكم (۱/٥٤٠) صحيح كړى او ذهبي موافقه ورسره كړيده، نسائي په «عمل» اليوم والليلة كي او ابن السني روايت كړيدى، صحيح الجامع (٤/۲۱۳).
(۲) ابو داود (٤/۱۲)، صحيح الترمذي.
(۳) مسلم (٤/۱۷۷۲).

(۲) دري ځلي به له شيطان نه، او د هغه څه له شر نه چي په خوب كي يې ليدلي دى په الله سره پناه غواړي خپل خوب به چاته نه وايي پر كوم اړخ چي ويده وي له هغه نه به بل اړخ ته واوړي[(۱)].

۱۱۵-(۳) كه وغواړي نو پورته دي شي او لمونځ دي وكړي[(۲)].



## ۳۲ د وترو د قنوت دعا

۱۱٦-(۱) «اللّٰهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ؛ فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، [وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ]، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ».

الهي! د هغو كسانو په جمله كي چي تا ورته هدايت كړى، ما ته هم هدايت وكړه، او د هغو كسانو په جمله كي چي تا ورته عافيت وركړى ما ته هم عافيت راكړې، ما هم له شر نه وساته، او د هغو كسانو په جمله كي چي تا محفوظ كړي، ما هم محفوظ كړه، او څه چي دي راكړي، په هغه كي راته بركت واچوه، او څه چي تا فيصله

(۱) مسلم (٤/۱۷۷۲، ۱۷۷۳).
(۲) مسلم (٤/۱۷۷۳).

کړې د هغه د شر نه مې وساته، ځکه همدا ته فیصله کونکي يې، او ستا د حکم څوک دفع کونکی نشته، په رښتيا سره چې ته له چا سره دوستي وکړې، هغه به خوار نشي، او له چا سره چې دښمني وکړې، هغه به عزتمند نشي، ته مبارک ذات يې، او د لويي څښتن يې ای زمونږ پروردګاره[(١)].

١١٧-(٢) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ».

الهي زه ستا په رضا سره ستا له غضب نه پناه غواړم او ستا په معافی سره ستا له عذاب نه پناه غواړم، او له تا نه په تا سره پناه غواړم، ستا د شان سره لائقه ثنا نشم ويلای ته هماغسې يې چې څنګه تا خپل ځان ستايلی دی[(٢)].

١١٨-(٣) «اللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ، نَرْجُو رَحْمَتَكَ، وَنَخْشَى عَذَابَكَ؛ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكَافِرِينَ

(١) خلورو اصحاب السنن ،احمد دارمي حاکم او بيهقي روايت کړيدی او د مربع قوسونو تر مينځ عبارت د بيهقي دی، صحيح الترمذي ١٤٤١، صحيح ابن ماجه (١/١٩٤)، ارواء الغليل د الباني ليکنه (٢/١٧٢).

(٢) خلورو اصحاب السنن او احمد روايت کړيدی، صحيح الترمذي (٣/١٨٠)، صحيح ابن ماجه (١/١٩٤)، ارواء الغليل (٢/١٧٥).

مُلْحِقٌ. اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ، وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُثْنِي عَلَيْكَ الخَيْرَ، وَلَا نَكْفُرُكَ، وَنُؤْمِنُ بِكَ، وَنَخْضَعُ لَكَ، وَنَخْلَعُ مَنْ يَكْفُرُكَ».

الهي! خاص ستا عبادت کوو، او خاص تا ته لمونځ او سجده کوو، او خاص تا ته در دانګو او ګړندي درځو، ستا د رحمت امید لرو او ستا له عذاب نه ویریږو، په رښتیا سره ستا عذاب کفارو ته ورکړه شوی دی، الهي! له تا نه مدد غواړو، او له تا نه بخښنه غواړو او ستا په خیر سره ستاینه کوو، او ستا نا شکري نکوو او پر تا ایمان لرو، او تا ته عاجزي کوو، او مونږ له هغه چا نه لیري یو چي ستا نا شکري کوي[(١)].



## ٣٣ د وترو له سلام نه وروسته ذکر

١١٩- «سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوسِ» [رَبِّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ]

پاکي ده د کائناتو پاچا لره پوره پاکي، د ملائکو او جبريل پروردګار. دا به دري ځلي وايي، او په دريم ځل به هغه په لوړ او اوږده آواز سره وايي[(٢)].

---

(١) بیهقي په السنن الکبری (٢/٢١١) کي روایت کړی، او اسناد یې صحیح بللی دی او الباني په ارواء الغلیل (٢/١٧٠) کي وایي، او دا اسناد صحیح دی او هغه پر عمر باندي موقوف دی.

(٢) نسائي (٣/٢٤٤)، دار قطني او نورو روایت کړیدی او د مربع قوسونو مینځ کي عبارت د دارقطني (٢/٣١) زیادت دی، او اسناد يي صحيح دی زاد المعاد د شعیب الأرنؤوط او عبد القادر =

## ٣٤ د پريشانی او غم (لري كولو) دعا

١٢٠-(١) «اللّٰهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ، ابْنُ عَبْدِكَ، ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ: أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدْرِي، وَجِلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي».

الـهي! زه ستا بنده، ستا د بنده زوی، ستا د مينځي زوی يم، زما تندی ستا په لاس كې دی ستا حكم پر ما جاري دی، ستا فيصله زما په حق كې عادلانه ده، ستا په هغه ټولو نومونو سره له تا نه سوال كوم چې تا خپله خپل ځان پـه هغه نومولی دی او يا دي پـه خپل كتاب كې نازل كړيدی او يا دي خپل مخلوق نه چا تـه ښودلی دی، او يا دي په خپل غيبي علم كې خپل ځان سره ساتلی دی، پدې ټولو در نـه سوال كوم چې ته قرآن زما د زړه پسرلی، او د سيني روښنايي او د غمونو وركونكی او د پريشانيو ختمونكـی وګرځوې(١).



= الأرنؤوط تحقيق (١/٣٣٧).

(١) احمد (١/٣٩١) او الباني هغه صحيح بللي دي.

١٢١-(٢) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ».

الهي! زه په تا سره پناه غواړم له پريشانۍ او غم نه، او له كمزورتيا (سستۍ او لټۍ نه، او بخيل توب او بي زړه توب نه او د قرض له زياتيدو او د خلكو له غلبې مونډلو نه[١].



## ٣٥ د بې قرارۍ دعا

١٢٢-(١) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ».

بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته بيله هغه نه چې لوى او حلم لرونكي دى ، بل د عبادت وړ معبود نشته بيله هغه الله نه چې د لوى عرش خښتن دى، بل د عبادت وړ معبود نشته بيله هغه الله نه چې د آسمانونو او ځمكې پروردګار دى او د عزتمند عرش پروردګار دى[٢].

١٢٣-(٢) «اللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو؛ فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ

(١) بخاري (٧/١٥٨)، پيمغبر به دا دعا ډيره ويله. بخاري (فتح الباري (١١/١٧٣) دي وكتل شي.
(٢) بخاري (٧/١٥٤)، مسلم (٢٠٩٢).

عَـيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَـأْنِي كُلَّـهُ؛ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

الـهي! زه ستا د رحمت امید لرم، نـو زما نفس ته مي د سترګي د رپ پـه انـدازه هـم مـه پریږده او زما کارونـه ټول راتـه اصلاح کـړې، بیله تا نـه بل د عبـادت وړ معبود نشته[1].

۱۲٤-(۳) «لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ».

بیلـه تـا نه بـل د عبـادت وړ معبود نشـته، پاک یې ته په رښـتیا سره زه له ظالمانـو نه یم[2].

۱۲۵-(٤) «اللَّهُ، اللَّهُ رَبِّي، لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا».

الله زما پروردګار دی، له هغه سره هیڅ شی شریک نه بولم[3].

## ۳٦ د دښمن او حکمران سره مخامخ کیدو دعا

۱۲٦-(۱) «اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُـكَ فِي نُحُورِهِـمْ، وَنَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ شُرُورِهِـمْ».

(۱) ابو داود (٤/۳۲٤) ، احمد (٥/٤۲) ، او الباني په صحیح ابي داود (۳/۹٥۹) کې د هغه اسناد صحیح بللی دی.
(۲) ترمذي (٥/٥۲۹) ، حاکم (۱/٥٠٥)، او هغه یې صحیح بللی، او ذهبي موافقه ورسره کړیده، صحیح الترمذي (۳/۱٦۸).
(۳) ابو داود (۲/۸۷)، صحیح ابن ماجه (۲/۳۳٥).

الـهي! مونـږ تـا د دوی مقابلې ته ګرځـوو، اوپه تـا سره د دوی د شر نـه پناه غـواړو[1].

۱۲۷-(۲) «اللّٰهُمَّ أَنْـتَ عَضُـدِي، وَأَنْـتَ نَصِـيرِي؛ بِـكَ أَحُـولُ، وَبِـكَ أَصُـولُ، وَبِـكَ أُقَاتِلُ».

الـهي! ته زما مـټ يې، او ته مې مددګار يې، سـتا پـه قدرت سره ګرځم راګرځم، او په دښـمن باندې حمله کـوم، او جنګيږم[2].



۱۲۸-(۳) «حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الوَكِيلُ»

الله مونږ ته بس او کافي دی، او هغه ښه کارساز دی[3].

## ۳۷ د حکمران د ظلم نه د ويرې دعا

۱۲۹-(۱) «اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّـمَوَاتِ السَّـبْعِ، وَرَبَّ العَـرْشِ العَظِيمِ؛ كُـنْ لِي جَـارًا مِنْ فُلَانِ بْـنِ فُـلَانٍ، وَأَحْزَابِهِ مِـنْ خَلَائِقِكَ؛ أَنْ يَفْـرُطَ عَلَيَّ أَحَـدٌ مِنْهُـمْ أَوْ يَطْـغَى، عَزَّ جَـارُكَ، وَجَلَّ ثَنَـاؤُكَ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

---

(۱) (ابو داود (۲/۸۹)، حاکـم (۲/۱۴۲) ، او هغه يې صحيح بللی او ذهبي ورسره موافقه کړېده.

(۲) ابو داود (۳/۴۲) ترمذي، (۵/۵۷۲)، صحيح الترمذي (۳/۱۸۳).

(۳) بخاري (۵/۱۷۲).

الهي، اې د اوو آسمانونو پروردګاره! او د لوی عرش پروردګاره! زما لپاره پناهګاه شې لدې نه چې فلانکی د فلانکي زوی، او د هغه ډلي ستا د مخلوقاتو نه دي پر ما زياتی او تجاوز وکړي، چا ته چې ته پناه ورکړې هغه غالبه دی او ډيره لويه ده ستاينه ستا، او بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته(١).

١٣٠-(٢) «اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَعَزُّ مِنْ خَلْقِهِ جَمِيعًا، اللهُ أَعَزُّ مِمَّا أَخَافُ وَأَحْذَرُ، أَعُوذُ بِاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، الْمُمْسِكِ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ أَنْ يَقَعْنَ عَلَى الأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ: مِنْ شَرِّ عَبْدِكَ فُلَانٍ، وَجُنُودِهِ وَأَتْبَاعِهِ وَأَشْيَاعِهِ، مِنَ الجِنِّ وَالإِنْسِ، اللَّهُمَّ كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّهِمْ، جَلَّ ثَنَاؤُكَ، وَعَزَّ جَارُكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

ډير لوی دی، الله له خپل ټول مخلوق نه زورور دی، الله له هغه چا نه ډير زورور دی له کوم نه چې زه ويريږم او خطر احساسوم، په هغه الله سره پناه غواړم کوم چې بيله هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته، او هغه (ذات) چې ټينګونکی داوو آسمانونو دی لدې نه چې بې دده له اجازې او حکم نه

---

(١) بخاري په الأدب المفرد ٧٠٧ نمبر حديث کې روايت کړيدی، او الباني په صحيح الأدب المفرد» ٥٤٥ نمبر حديث کې هغه صحيح بللی دی.

پـر ځمکـه راولوېږي، پنـاه غواړم سـتا د فلانکـي بنـده له شر نه، او د هغـه له انسـي او جـني پيروانـو او لښـکرو نـه الـهي! د دوی له شر نـه زمـا لپـاره پناهـګاه شـې، او ډېـره لويـه ده سـتاينه سـتا، او مبـارک دی نـوم سـتا او بيلـه تا نـه د عبـادت وړ معبود نشـته.

[درې ځلې][١].

## ٣٨ د ښمن ته ښيرا کول

١٣١- «اللّٰهُمَّ مُـنْزِلَ الكِتَابِ، سَرِيعَ الحِسَـابِ؛ اهْزِمِ الأَحْزَابَ، اللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ».

الـهي! اې د کتـاب نازلونکيـه ای ژر حسـاب کونکيـه د دښـمنانو ډلـو تـه مـاتي ورکـړې، الـهي! ته مـاتي ورته ورکـړې او ځمکـه يې تـر پښـو لانـدې ولـړزوې[٢].

## ٣٩ د کوم قوم نه چې ويره لري دا دعا به وايي

١٣٢- «اللّٰهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ».

---

(١) بخاري الأدب المفرد ٧٠٨ نمبر حديث کې روايت کړيدی، او الباني په صحيح الأدب المفرد» ٥٤٦ نمبر حديث کې هغه صحيح بللی دی.

(٢) مسلم (٣/١٣٦٢).

الـهي! څنګـه چـي ته غـوارې هماغـسي مي د هغـوی له شر نه وساتې[(١)].

## ٤٠ څوک چي ایمان کي شک وکړي دهغه دعا

١٣٣-(١) پـه الله سره بـه پنـاه غواړي کوم شي کي چي شـک وي هغه کي بـه بیا فکـر نـکوي[(٢)].

١٣٤-(٢) او وایي بـه پـر الله او د هغـه پـر پیغبرانـو مي ایمـان راوړی دی[(٣)].

١٣٥-(٣) دا آیت بـه وایي: ﴿هُوَ ٱلْأَوَّلُ وَٱلْـَٔاخِرُ وَٱلظَّـٰهِرُ وَٱلْبَاطِنُ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ﴾.

هغـه (یعـني الله) اول دی او آخـر دی او ظاهـر دی، او باطـن دی، او هغـه پـه هر څـه پـوه دی[(٤)].

---

(١) مسلم (٤/٢٣٠٠).
(٢) بخاري، فتح الباري (٦/٣٣٦)، مسلم (١/١٢٠).
(٣) مسلم (١/١١٩-١٢٠).
(٤) سورة: الحديد، الآية: [٣] ابو داود (٤/٣٢٩) او الباني په صحيح أبي داود (٣/٩٦٢) کي د هغه اسناد حسن بللی دی.

## ٤١ دقرض اداء کولو دعا

١٣٦-(١) «اللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ».

الـهي! ستا په حلالو مي ستا له حرامو وساتې، او ستا په فضل مي بيله تا نه د بل هر چا نه بي نيازه کړې[(١)].

١٣٧-(٢) «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ».

الـهي! زه له پريشانى او غم نه، او له کمزورتيا (سستى) او لټي نه، او بخيلى او بي زړه توب نه، او د قرض زياتيدو او د خلکو له غلبې موندلو نه په تا سره پناه غواړم[(٢)].

## ٤٢ په لمانځه او تلاوت کي د وسوسې دعا

١٣٨- «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

له رټل شوي شيطان نه په الله سره پناه غواړم. او بيا دي و

(١) ترمذي (٥/٥٦٠)، صحيح الترمذي (٣/١٨٠).
(٢) بخاري (٧/١٥٨).

چـپ طـرف تـه لا ړي تف كـړي. (درې ځلـې)[١].

## ٤٣ چا ته چي يو كار مشكل شـي هغه دعا

١٣٩- «اللّٰهُمَّ لَا سَـهْلَ إِلَّا مَـا جَعَلْتَـهُ سَـهْلًا، وَأَنْـتَ تَجْعَـلُ الحَـزْنَ إِذَا شِـئْتَ سَـهْلًا».

الـهي! هيڅ آسـان شى نشـته، مگر هغـه چي ته يي آسـان كړې، او تـه چي وغواړې سـخت او گران آسـانوې[٢].



## ٤٤ څوک چي گناه وكړي، هغه به داسي كوي

١٤٠- داسي بنده به نه وي چي گناه وكړي او بيا په ښه توگه اودس وكړي، او بيا پاخيږي دوه ركعته لمونځ وكړي، او بيا له الله نه بخښنه وغواړي، مگر دا چي الله به ورته بخښنه او عفو وكړي[٣].

---

(١) مسلم (٤/١٧٢٩) له عثمان بن العاص نه روايت كړيدى او په هغه كي داسي راغلي دي: ما همداسي وكړه، نو الله هغه له ما نه ليري كره.

(٢) صحيح ابن حبان ٢٤٢٧ نمبر حديث (موارد) ابن السني ٣٥١ نمبر حديث او حافظ وايي ادا حديث صحيح دى او عبد القادر الأرناؤوط هم هغه د نووي د اذكارو په تحقيق ص ١٠٦ كي هغه صحيح بللى دى.

(٣) ابو داود (٢/٨٦) ، ترمذي، (٢/٢٧٥) او الباني په صحيح ابي داود (١/٢٨٣) كي هغه صحيح بللى دى.

## ٤٥ د شيطان او د هغه د وسوسو د ليري كولو دعاګاني

١٤١-(١) په الله سره له شيطان نه پناه غوښتل[(١)].

١٤٢-(٢) آذان كول[(٢)].

١٤٣-(٣) ذكر كول او د قرآن تلاوت كول[(٣)].



## ٤٦ كله چي يي د خوښي خلاف كار پيښ شي، او يا له كوم كار نه عاجز شي داسي به وايي

١٤٤- «قَدَرُ اللهِ، وَمَا شَاءَ فَعَلَ».

الله دا كار پـه ازلي تقديـر كي (همداسي ليـكلى وو، او څنګه چي

(١) ابو داود (١/٢٠٦)، ترمذي صحيح الترمذي (١/٧٧)، او د المؤمنون سورت، ٩٨-٩٩ آيتونه دي وكتل شي.

(٢) مسلم (١/٢٩١) ، بخاري (١/١٥١).

(٣) پيغمبر ﷺ فرمايي خپلو كورونو څخه هديرې مه جوړوى، شيطان له هغه كور نه تښتي چي په هغه كي د بقرې سورت ويل كيږي. مسلم (١/٥٣٩) او له هغو شيانو نه چي شيطان شړي او ليري كوي يي د سهار او ماښام اذكار د ووده كيدو او ويښيدو اذكار، او كور او مسجد ته ننوتلو او له هغه نه وتلو اذكار، او نور شرعي اذكار لكه آيت الكرسي د خوب په وخت كي، بقرې د سورت آخيرني دوه .آيتونه او څوک چي «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير سل ځلي روايي نو دا به په هغه ټوله ورځ كي دده لپاره له شيطان نه د ساتلو وسيله وي. او همدارنګه آذان هم شيطان شړي او لري كوي يي.

يي وغوښتل هماغسي يي وکړل[(١)].

## ٤٧ د پيدا شوي ماشوم مور او پلار ته مبارکي ورکول او د هغې جواب

١٤٥- «بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِي الْمَوْهُوبِ لَكَ، وَشَكَرْتَ الْوَاهِبَ، وَبَلَغَ أَشُدَّهُ، وَرُزِقْتَ بِرَّهُ».

الله دي ستا په درکړل شوي (ماشوم) کې برکت واچوي او د هغه) د ورکونکي شکر اداء کړې او ماشوم دي خپل قوت ته ورسيږي، او د هغه نيکي* دې په نصيب شه.

او د ماشوم والدين به په جواب کې داسي وايي: «بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا، وَرَزَقَكَ اللّٰهُ مِثْلَهُ، وَأَجْزَلَ ثَوَابَكَ».

الله دي تا ته برکت درکړي، او پر تا دي برکت کښيږدي، او



(١) پيغمبر ﷺ فرمايي قوي مسلمان له کمزوري مسلمان نه الله ته زيات غوره دی او په دواړو کې خير شته، په هغه څه حرص او کوښښ وکړه چي تاته ګټه لري، او له الله له نه مرسته وغواړه او مه عاجزه کيږه او که يو څه درته پيښ شي، نو داسي مه وايه چي که داسي مي کړي وای، نو داسي به شوي وای بلکه داسي ووايه چي الله (همدا زما په تقدير کي ليکلي وه، او څه يي چي وغوښتل وبي کړل، ځکه «لو» چيري» کلمه استعمالول او ويل دشيطان کارونو ته لاره خلاصوي مسلم (٤/٢٠٥٢).

الله دي تـا تـه نيكـه جزا (ثـواب) دركړي، او همداسي ماشـوم دي درپـه برخـه كـړي، او ثـواب دي تا ته زيـات كړي[1].

## ٤٨ د ماشومانو د حفظ او امان لپاره دعا

١٤٦- رسـول الله ﷺ بـه د حسـن او حسـين لپاره پناه غوښـتله او داسي بـه يـې ويـل : «أُعِيذُكُمَـا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّـةِ، مِنْ كُلِّ شَـيْطَانٍ وَهَامَّـةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَـيْنٍ لَامَّةٍ».

ستاسـو دواړو لپـاره زه د الله په كامل كلام سره له هر شـيطان، او زهرنـاك (حيـوان) نـه او له هـري آفـت او ضرر رسـونكي سـترګي نه پنـاه غـواړم[2].

## ٤٩ د بيمار د پوښتني په وخت هغه ته دعا

١٤٧-(١) «لَا بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللهُ».

څـه پـروا نشـته دا بيمـاري كـه الله وغـواړي سـتا د ګناهونـو د پاكـوالي سـبب بـه وي[3].

---

(١) الاذكار د نووي ليكنه ص ٣٤٩، صحيح الاذكار د سليم الهلالي ليكنه (٢/٧١٣).
(٢) بخاري (٤/١١٩) له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت كړيدى.
(٣) بخاري فتح الباري (١٠/١١٨)

۱۴۸-(۲) «أَسْأَلُ اللهَ العَظِيمَ رَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ».

له هغه لوی او عظمت والا الله نه سوال کوم چې د لوی عرش څښتن دی، چې تا له شفا او روغتیا درکړي. اووه ځلي[۱].

## ۵۰ د بیمار د پوښتنې کولو فضیلت

۱۴۹-پیغمبر ﷺ فرمايي: کله چې یو سړی د خپل بیمار مسلمان ورور پوښتنې ته ورځي، نو دی د جنت په میووکې روان وي تر څو چې کښيني، کله چې کښيني نو په رحمت کې پټ شي، که دا وخت سهار وي نو اویا زره ملائکې به ده ته دعا کوي، تر څو چې ماښام کیږي، او که دا وخت ماښام وي نو اویا زره ملائکې به ده ته دعا کوي تر څو چې سهار کیږي[۲].

## ۵۱ د ژوند نه نا امیده بیمار دعا

۱۵۰-(۱) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى».

---

(۱) پیغمبر ﷺ فرمايي داسي مریض به نه وي چې اجل یې نه وي راغلي، او یو مسلمان بنده یې پوښتنې ته راشي او دا (پورتنی) دعا اووه ځلي ووايي، مګر دا چې روغ به شي. ترمذي، ابو داود صحيح الترمذي (۲/۲۱۰)، صحيح الجامع (۵/۱۸۰).

(۲) ترمذي، ابن ماجه ،احمد صحيح ابن ماجه (۱/۲۴۴) صحيح الترمذي (۱/۲۸۶) او احمد شاکر هغه صحيح بللي دي.

الـهي! ما ته بخښـنه وکـړې، او پر مـا رحم وکـړې او د لوړ مقام والا پيغمبرانـو سره مې يو ځای کړې(١).

١٥١-(٢) پيغمبر ﷺ د خپل مرګ پـه وخت کې خپل لاسـونه په اوبـو کې وهـل او بيـا بـه يې خپل مخ پـه هغـه مسـه کاوه، او ويل به يې: **بيلـه الله نـه بل د عبـادت وړ معبود نشـته، په رښـتيا سره چې مـرګ ډيري سـختۍ لري(٢).**

١٥٢-(٣) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْـدَهُ لَا شَرِيـكَ لَهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ لَهُ الْمُلْـكُ وَلَهُ الْحَمْـدُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَلَا حَـوْلَ وَلَا قُـوَّةَ إِلَّا بِاللهِ».

بيله الله نه بل د عبادت وړمعبود نشته ډير لوی دي، بيله يو الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، يو دی، بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود عبود نشته، يو دی، شريک نلري، بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه لره بادشاهي او پوره ستاينه ده بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، د ګناه نه ساتل او د نيکۍ توان او طاقت نشته مګر د الله پاک په توفيق سره(٣).

---

(١) بخاري (٧/١٠)، مسلم (٤/١٨٩٣).
(٢) بخاري فتح الباري (٨/١٤٤) او په هغه کې د مسواک ذکر هم شويدی.
(٣) ترمذي، ابن ماجه او الباني هغه صحيح بللی دی، صحيح الترمذي (٣/١٥٢) ، صحيح ابن ماجه (٢/٣١٧).

## ٥٢ ځنكدن حالت كي سړي ته يادونه

١٥٣-پيغمبر ﷺ فرمايي د چا چي آخري خبره «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ» وي، نو جنت ته به داخل شي(١).

## ٥٣ چا ته چي مصيت رسيدلي وي د هغه دعا

١٥٤- «إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللّٰهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا».

بي شكه چي مونږ الله لره يو، او هغه ته ورتلونكي يو، اې الله ما ته زما په مصيبت كي اجر راكړې او د هغه په بدل كي ما ته له هغه نه ښه راكړي(٢).

## ٥٤ د مړي ستركي بندولو په وخت دعا

١٥٥- «اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِفُلَانٍ (نوم به يي واخلي)، وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ، وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ، وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ، وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ».

---

(١) ابو داود (١٩٠٣) ، صحيح الجامع (٥/٤٣٢) (٢) مسلم ٢/٦٣٢).
(٢) مسلم (٢/٦٣٤).

اي الله! تـه بخښـنه وکـړې و فلانکـي (نـوم بـه يې واخلې) او د هدايـت شـويو کسـانو پـه جملـه کـې يـې درجه لـوړه کـړې او د هغـه پـس مانـده ګانو لپاره له هغه نه وروسـته سرپرسـت اوسـې، او مونـږ او ده تـه بخښـنه وکـړې اې د مخلوقاتـو پـروردګاره! او قبر ورتـه پراخ او روښـانه کـړې(١).



## ٥٥ مړي ته په جنازه کې دعا

١٥٦-(١) «اللّٰهُمَّ اغْفِـرْ لَهُ، وَارْحَمْهُ، وَعَافِـهِ، وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّـعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِـلْهُ بِالْمَـاءِ وَالثَّلْجِ وَالْـبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَـا كَمَـا نَقَّيْـتَ الثَّـوْبَ الأَبْيَضَ مِـنَ الدَّنَـسِ، وَأَبْـدِلْهُ دَارًا خَـيْرًا مِـنْ دَارِهِ، وَأَهْـلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِـهِ، وَزَوْجًا خَـيْرًا مِنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْـهُ الْجَنَّـةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَـذَابِ الْقَبْرِ، [وَعَـذَابِ النَّارِ]».

اي الله! ده تـه بخښـنه وکـړې او رحـم پر وکـړې او عافيت ورله ورکـړې، او عفـوه ورتـه وکـړې، او غـوره ميلمسـتيا يې وکـړې، او د داخليـدو ځـای يې پراخـه کړې، او پـه اوبـو او واوره او ږلی سره يـې ووينځـې، او له ګناهونـو نـه يې داسې پاک نه کـړې لکه څنګه چـې دې سـپينه جامـه له خيرو پاکـه کړيـده، او د دنيـا له کور نه غـوره کـور، او له کورنـۍ نـه يې غـوره کورنـۍ، او له ښـځې نه يې

(١) مسلم (٢/٦٦٣).

غوره ښځه ورکړې، او جنت ته يې داخل کړې، او د قبر له عذاب او د دوزخ له عذاب نه يې وساتې[1].

۱۵۷-(۲) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ، اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ».

اې الله، زمونږ ژوندي ته، او مړي ته، او مونږ نه حاضر ته او غائب ته او واړه ته، او لوی ته ، او نر ته، او ښځې ته بخښنه وکړې، اې الله ! له مونږ نه چې چا ته ژوند ورکړې، نو د اسلام سره ژوند ورکړه، او له مونږ نه چې چا ته مرګ راولې، نو له ايمان سره يې مړ کړې، اې الله! د دې مړي له اجر نه مو مه محرومه وې او له هغه نه وروسته مو مه ګمراه کوې[2].

۱۵۸-(۳) «اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ، وَحَبْلِ جِوَارِكَ؛ فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَعَذَابِ النَّارِ، وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ؛ فَاغْفِرْ لَهُ، وَارْحَمْهُ؛ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ».

اې الله! په رښتيا سره فلانکی د فلانکي زوی ستا په حفظ

---

(۱) مسلم (۲/٦٦۳).
(۲) ابن ماجه (۱/٤٨۰) احمد (۲/۳٦٨)، صحيح ابن ماجه (۱/۲٥۱).

او ستا په پناه کي دی، نو د قبر له ازمایش نه، او د دوزخ له عذاب نه یې وساتې، او ته د وفا او حق خښتن یې، نو هغه ته بخښنه وکړې، او رحم پر وکړې، بیشکه ته بخښونکی بې حده مهربان یې[۱].

۱۵۹-(٤) «اللّٰهُمَّ عَبْـدُكَ وَابْـنُ أَمَتِـكَ احْتَـاجَ إِلَى رَحْمَتِـكَ، وَأَنْـتَ غَـنِيٌّ عَنْ عَذَابِـهِ؛ إِنْ كَانَ مُحْسِـنًا فَـزِدْ فِي حَسَـنَاتِهِ، وَإِنْ كَانَ مُسِـيئًا فَتَجَـاوَزْ عَنْـهُ».

الـهي! ستـا ،بنـده او ستـا د مینځـي زوی دی، ستـا رحمـت تـه محتـاج دی، او تـه یې له عذابولـو نـه بې نیـازه یـې، کـه نیـک عمله وي نـو نیکـۍ یې نـوري هـم زیـاتي کـړې او کـه ګنهـګاره وي نـو عفـوه ورته وکـړې[۲].

## (۵۶) ماشوم ته د هغه په جنازه کي دعا

۱۶۰-(۱) «اللّٰهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ».

الهي! د قبر له عذاب نه یې وساتې[۳].

---

(۱) ابن ماجه صحیح ابن ماجه (۱/۲۵۱)، ابو داو (۳/۲۱۱).

(۲) حاکم ۱/۳۵۹، او هغه یې صحیح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړیده، احکام الجنائز د الباني لیکنه ص ۱۲۵).

(۳) سعید بن المسیب وایي په ابو هریره پسې مې پر یوه ماشوم باندي د جنازې لمونځ وکړ، چي هیڅ ګناه یې نه وه کړې، او وامي وریده چي ویل یې... باقي حدیث. مالک په موطا (۱/۲۸۸)، =

او کـه دا دعا ووایـې نـو بهـتره بـه وي: «اللَّهُمَّ اجْعَلْـهُ فَرَطًـا وَذُخْـرًا لِوَالِدَيْـهِ، وَشَـفِيعًا مُجَابًـا، اللَّهُمَّ ثَقِّـلْ بِـهِ مَوَازِينَهُمَـا، وَأَعْظِـمْ بِـهِ أُجُورَهُمَـا، وَأَلْحِقْـهُ بِصَالِـحِ الْمُؤْمِنِـينَ، وَاجْعَلْـهُ فِي كَفَالَـةِ إِبْرَاهِيـمَ، وَقِـهِ بِرَحْمَتِـكَ عَـذَابَ الْجَحِيـمِ، وَأَبْـدِلْهُ دَارًا خَـيْرًا مِـنْ دَارِهِ، وَأَهْـلًا خَـيْرًا مِـنْ أَهْلِـهِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَسْـلَافِنَا، وَأَفْرَاطِنَـا، وَمَـنْ سَـبَقَنَا بِالْإِيمَـانِ».



الـهي! تـه يـې د خپـل مـور او پـلار لپاره مخکـښ او ذخـيره او د قبـول شـوي شـفاعت خاونـد وګرځـوې، الـهي! د ده پـه ذريعه يـې د مـور او پـلار د اعمالو تـلې درنې کـړې او اجرونه يـې زيات کـړې او له نيکـو مسـلمانانو سره يـې يـو ځـاى کـړې، او د العليا پـه ضمانـت کې يې وګرځـوې، او پـه خپـل رحمت سره يــې د دوزخ له عـذاب نـه له عـذاب نه وسـاتې، او د دنيـا له کور نه غـوره کور، او له کورنـۍ نـه يې غـوره کورنۍ ورکـړې، الهي! و هغو کسـانو ته بخښـنه وکـړې چـې له مونږ نه مخکې تلـلي دي، او کوم چـې له مونږ نـه مخکې مومنـان تير شـوي دي.

١٦١-(٢) «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا، وَسَلَفًا، وَأَجْرًا».

= کې ابن ابي شيبه په مصنف (٣/٢١٧)، او بيهقي ٤/٩ روايت کړيدى او شعيب الأرنؤوط د شرح السنة للبغوي په تحقيق (٥/٣٥٧) کې د هغه اسناد صحيح بللى دى. المغني د ابن قدامه (٣/٤١٦)، الدروس المهمة لامة الأمة د علامه عبد العزيز بن باز رحمه الله ليکنه ص١٥.

الـهي تـه يې زمونـو لپاره مخکـښ او اجـر (جوړونکـی) وګرځـوي[١].

## ٥٧ د تعزیت دعا

١٦٢- «إِنَّ لِلّٰهِ مَـا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَـى، وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى... فَلْتَصْبِرْ، وَلْتَحْتَسِبْ».

الله لـره دي ځـه چـې يې واخيسـتل، او هغـه لـره دي څـه چې ورکـوي، او هــر څـه دده پـه نـزد تر ټـاکلي نيټې پـوري دي او ښـايي چـې صـبر وکـړي او له الله نه ثـواب وغـواړي[٢].

او کـه دا ووايي : «أَعْظَـمَ اللهُ أَجْرَكَ، وَأَحْسَـنَ عَـزَاءَكَ، وَغَفَرَ لِمَيِّتِـكَ»، نـو غـوره بـه وي الله دي تـا لره لـوی اجر درکـړي، او تا لـره دي ښـه تسـلي درکړي، او سـتا مړي ته دي بخښـنـه وکـړي[٣].



(١) (حسن بصري) به پر ماشوم د فاتحې سورت لوست او ویل به يې... باقي حديث. بغوي په شرح السنة (٥/٣٥٧) کې عبد الرزاق په مصنف کې په ٦٥٨٨ نمبر حديث کې او بخاري په کتاب الجنائز کې مُعلق روايت کړيدی، ٦٥ باب قراءة فاتحة الكتاب على الجنازة .(٢/١١٣).

(٢) البخاري (٢/٨٠)، برقم (١٢٨٤)، ومسلم (٢/٦٣٦)، برقم (٩٢٣).

(٣) بخاري (٢/٨٠)، مسلم (٢/٦٣٦) الاذكار د نووي ليکنه ص (١٢٦).

## ۵۸ د مړي ښخولو وخت کې دعا

۱۶۳- «بِاسْمِ اللَّهِ، وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ».

د الله پاک په نوم سره، او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سنت سره يې قبر ته داخلوو[(۱)].



## ۵۹ د مړي ښخولو وروسته دعا

۱۶۴- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ».

الهي! هغه ته بخښنه وکړې، الهي! ته يې په سوال وجواب کې ثابت قدمه لرې[(۲)].

## ۶۰ د قبرونو د زيارت کولو دعا

۱۶۵- «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ، [وَيَرْحَمُ اللَّهُ

---

(۱) ابو داود (۳/۳۱۴) په صحيح سند سره او احمد په دي لفظ سره: «بسم الله وعلى ملة رسول الله» په صحيح سند روايت کړيدی.

(۲) پيغمبر به چي کله د مړي له ښخولو نه فارغ شو، نو په قبر به يي ودريد او ويل به يي خپل وررور ته له الله نه بخښنه وغواړی او د هغه لپاره په) سوال و جواب کي د ثابت قدمی دعا وکړی، ځکه له هغه نه همدا اوس پوښتنه کيږي. ابو داود (۳/۳۱۵) حاکم (۱/۳۷۰) ، او هغه : يي صحيح بللی او ذهبي ورسره موافقه کړيده.

الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ]، أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ».

اې ددې ځايونو اوسېدونکو مومنانو او مسلمانانو پر تاسو دې سلام وي، او که د الله پاک خوښه شي مونږ هم په تاسو پسې يو او الله دې زمونږ په مخکينيو او وروستنيو رحم وکړي، زه ځان لره او تاسو لره له الله نه عافيت غواړم[1].



## ٦١ د باد (سيلۍ) الوتلو په وخت دعا

١٦٦-(١) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا».

الـهی! له تا نه د دې (باد) د خير سوال کوم او له شر نه يې په تا سره پناه غواړم[2].

١٦٧-(٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا، وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ».

---

(١) مسلم (٢/٦٧١)، ابن ماجه په پورتنی الفاظو سره (١/٤٩٤) له بريده ه نه روايت کړيدی او د مربع قوسونو په مينځ کې عبارت د مسلم (٢/٦٧١) روايت دی له عائشه رضي الله عنها نه.

(٢) ابو داود (٤/٣٢٦) ابن ماجه (٢/١٢٢٨)، صحيح ابن ماجه (٢/٣٠٥).

الـهي! زه له تـا نـه د دې (بـاد) د خير سـوال كـوم او د هغه څه د خـير سـوال در نـه كوم چي پـه هغـه كي دى، او كوم خـير چي له ځـان سره يي راوړى دى او پـه تـا سره پناه غـوارم د هغـه له شر او د هغـه څـه له شر نـه چـي پـه هغـه كي دى او له هغه شر نـه چي له ځـان سره يي راوړى دى.(١).



## ٦٢ د تالندي دعا

١٦٨- «سُـبْحَانَ الَّذِي يُسَـبِّحُ الرَّعْـدُ بِحَمْـدِهِ، وَالمَلَائِكَـةُ مِنْ خِيفَتِهِ».

پـاک دى هغـه ذات چـي تالنده او ملائكـي د هغـه له ويري نه د هغه حمد او ثنا او تسـبيح وايي(٢).

## ٦٣ د استسقاء لپاره څو دعاګاني

١٦٩-(١) «اللَّهُمَّ اسْـقِنَا غَيْثًـا مُغِيثًـا، مَرِيئًا مَرِيعًـا، نَافِعًا غَيْرَ ضَـارٍّ، عَاجِلًا غَـيْرَ آجِلٍ».

(١) مسلم (٢/٦١٦)، بخاري (٤/٧٦).

(٢) عبد الله بن الزبير نه چي به كله د تالندي آواز واوريده، نو خبري به يي بندي كړې او ويل به يي... باقي حديث. موطا (٢/٩٩٢)، او الباني وايي ددې حديث اسناد صحيح او موقوف دى.

الـهي! پـر مونـو بـاران وه ورويې، نجـات ورکونکـی مـزه دار وابنـه شـنه کونکـی، فائـده رسـونکی ضرر نـه رسـونکی ژر کيدونکـی نـه ځنډيدونکـی[1].

۱۷۰-(۲) «اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا، اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا، اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا».

الـهي! پر مونـږ بـاران وه ورويې، الهي! پـر مونږ بـاران وه ورويې الهي! پـر مونږ بـاران وه ورويې[2].



۱۷۱-(۳) «اللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهَائِمَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ».

الـهي! خپـل بنـده ګان او خپـل څـاروي خـړوب کـړه او خپل رحمـت خپـور کـړه، او خپـل مـړ ښـار ژوندی کـړه[3].

## ۶۴ د باران وريدو په وخت کې دعا

۱۷۲- «اللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا».

الهي! د خير او فائدې باران (يې کړې)[4].

(۱) ابو داود (۱/۳۰۳) او الباني په صحيح ابي داود (۱/۲۱٦) کې هغه صحيح بللی دی.
(۲) بخاري (۱/۲۲٤)، مسلم (۲/٦۱۳).
(۳) ابو داود (۱/۳۰٥)، او الباني په صحيح، او الباني په صحيح ابي داود (۱/۲۱۸) هغه حسن بللی دی.
(٤) بخاري فتح الباري (۲/٥۱۸).

## ٦٥ د باران اوريدلو وروسته دعا

١٧٣- «مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ».

د الله په فضل او رحمت سره پر مونږ باران وه وريد(١).

## ٦٦ د آسمان شين كيدو دعا

١٧٤- «اللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا، اللّٰهُمَّ عَلَى الآكَامِ وَالظِّرَابِ، وَبُطُونِ الأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ».

الهي! زمونږ په شاوخوا (يې وه وروه)، او نه پر مونږ باندي الهي! پر غرو رغونو او د خوړونو په مينځونو او د ونو شنه كيدلو ځايونو كي وه وروه(٢).

## ٦٧ د نوي مياشتي ليدو دعا

١٧٥- «اللهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالأَمْنِ وَالإِيمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالإِسْلَامِ، وَالتَّوْفِيقِ لِمَا تُحِبُّ رَبَّنَا وَتَرْضَى، رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللهُ».

(١) بخاري (١/٢٠٥)، مسلم (١/٨٣).
(٢) بخاري (١/٢٢٤)، مسلم (٢/٦١٤).

الله ډيـر لـوى دى، الـهي! ته دغه نوې مياشــت پر مونـږ باندې راوخيــژوه، له امن او ايمان او له ســلامتيا او اســلام سره او له توفيق سره وهغـه څـه ته چـې تـه يـې خوښــوې، اې مياشــتې!) زمونږ او ســتا پروردګار الله دى.[١]

## ٦٨ د روژه ماتي په وخت کې دعا

١٧٦-(١) «ذَهَـبَ الظَّمَـأُ، وَابْتَلَّـتِ العُـرُوق، وَثَبَـتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ».

تنـده ولاړه او رګونـه لانـده شـول، او کـه الله پـاک وغـواړي اجـر حاصـل شـوى دى[٢].

١٧٧-(٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ بِرَحْمَتِـكَ الَّـتِي وَسِـعَتْ كُلَّ شَيْءٍ أَنْ تَغْفِـرَ لِي».

الـهي! زه ســتا پـه هغه رحمت سره چـې هر څه ته رسـيدونکـى دى، له تا نه ســوال کـوم چې ماته بخښـنـه وکړې[٣].

---

(١) ترمذي (٥/٥٠٤) دارمي په خپلو الفاظو سره (١/٣٣٦)، صحيح الترمذي (٣/١٥٧).
(٢) ابو داود (٢/٣٠٦) او نورو روايت کړيدى، صحيح الجامع (٤/٢٠٩).
(٣) ابن ماجه ،(١/٥٥٧) له عبد الله بن عمرو نه د دعا کانو نه يې روايت کړيدى او حافظ د الاذکار په تخريج کې هغه حسن بللى دى، شرح الاذکار (٤/٣٤٢).

## ٦٩ د ډوډۍ خوړلو نه مخکې دعا

١٧٨-(١) پيغمبر ﷺ فرمايي کله چې له تاسو نه څوک خوراک کوي، نو : «بِاسْمِ اللّٰهِ» دې ووايي او که يې د خوراک .

په اول کې بسم الله هير شوه ، نو داسې دې ووايي: «بِاسْمِ اللّٰهِ فِي أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ» يعني په اول او آخر کې د الله پاک په نامه سره خوراک کوم(١).

١٧٩-(٢) پيغمبر ﷺ فرمايي: چا ته چې الله پاک خواړه ورکړي، نو داسې دې وايي: «اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْه » .

الهي! مونږ ته پدې خوړو کې برکت واچوي، او له هغه نه ښه خواړه راکړي.

او په چا چې الله شودې وښېي، نو داسې دې وايي: «اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَزِدْنَا مِنْهُ».

الهي! مونږ ته په هغه کې برکت واچوي، او مونږ ته نور هم زيات راکړي(٢) .

(١) ابو داود ،(٣/٣٤٧) ترمذي (٤/٢٨٨)، صحيح الترمذي .(٢/١٦٧).
(٢) ترمذي (٥/٥٠٦)، صحيح الترمذي (٣/١٥٨).

## ٧٠ له خوراک نه وروسته دعا

١٨٠-(١) «الحَمْـدُ لِلهِ الَّذِي أَطْعَمَـنِي هَـذَا، وَرَزَقَنِيـهِ مِـنْ غَيْرِ حَـوْلٍ مِـنِّي وَلَا قُوَّةٍ».

پـوره ســتاينه ده هغـه الله لـره چي پـه ما يـې دا خـواره وخوړل او هغـه يـې پرتـه زمـا د کـوم تـوان او طاقت نه مـا ته راکـړل[(١)].

١٨١-(٢) «الحَمْـدُ لِلهِ حَمْـدًا كَثِـيرًا، طَيِّبًـا مُبَـارَكًا فِيـهِ، غَـيْرَ [مَكْـفِيٍّ وَلَا] مُـوَدَّعٍ، وَلَا مُسْـتَغْنًى عَنْـهُ رَبَّنَـا».

ټـوله ســتاينه الله لره ده، ســتاينه ډيـره زياتـه، پاکه او بـا برکته، نـه پـوره کيدونکـې، او نـه پريښـودونکـې، او له هغـه نـه نـه مسـتغني کيدونکـې ســتاينه، اې زمونـږ پـروردګاره[(٢)].

## ٧١ کوربه ته د ميلمه دعا

١٨٢- «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ، وَاغْفِرْ لَهُمْ، وَارْحَمْهُمْ».

الـهي! تـا چـي دوی تـه څه ورکـړي په هغـه کي برکـت واچوې

---

(١) بيله نسائي نورو اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح الترمذي (٣/١٥٩).
(٢) بخاري (٦/٢١٤)، ترمذي په خپلو الفاظو سره (٥/٥٠٧).

او هغـوی ته بخښـنـه وکـړي، او پر ورحميـږي[1].

## ۷۲ ځوک چې په چا اوبه وڅښي او يا ورباندې خوراک وکړي، هغه ته دعا

۱۸۳- «اللَّهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي، وَاسْقِ مَنْ سَقَانِي».

الـهي! تـه خـواړه ورکـړه هغـه چا ته چـې ما تـه يې خـواړه را کـړه، او خړوبـه کـړه هغـه ځوک چـې زه يـې خړوبه کـړم[2].



## ۷۳ د چا په کورکې د روژه ماتي په وخت کې دعا

۱۸۴- «أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ المَلَائِكَةُ».

تاسـو کـره دې روژه دار روژه ماتـه کـړي، او سـتا ډوډۍ دې نيـکان وخـوري، او ملائکـې دې درتـه دعا وکـړي[3].

---

(۱) مسلم (۳/۱۹۱۵).

(۲) مسلم (۳/۱۲۶).

(۳) ابو داود (۳/۳۹۷)، ابن ماجه (۱/۵۵۹)، نسائي په «عمل اليوم والليلة» (۲۹۶-۲۹۸)، نمبر حديث کې روايت کړيدی او دا خبره يې په صراحت کړيده چې پيمغبر به کله د کوم کوروال سره روژه ماته کړه دا به يې ويل او الباني په صحيح ابي داود (۲/۷۳۰) کې هغه صحيح بللی دی.

## ٧٤ د روژه دار دعا چي کله خوارهٔ حاضر شي او روژه ماته نکړي

١٨٥- پيغمبر ﷺ فرمايي کله چي له تاسو نه څوک دعوت شي، نو دعوت دي قبول کړي، که يې روژه وه، نو دعا دي (ورته) وکړي، او که يې روژه نه وه، نو ډوډۍ دي وخوري(١).



## ٧٥ کله چي روژه دار ته څوک بښکنځل وکړي. نو دی به داسي ورته وايي

١٨٦- «إِنِّي صَائِمٌ، إِنِّي صَائِمٌ».

«زه روژه يم، زه روژه يم»(٢).

## ٧٦ د اولنۍ ميوې ليدو دعا

١٨٧- «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا».

الـهي! زمونږ په ميوه کي راته برکت واچوې او زمونږ په ښار

---

(١) مسلم (١٠٥٤/٢)

(٢) بخاري فتح الباري (١٠٣/٤)، مسلم (٨٠٦/٢).

کي راتــه برکــت واچــوې او زمونــږ پــه «مــد» کي راته برکــت واچوي او زمونــږ پــه «صــاع» کي راته برکت واچــوې.[(١)]

## ٧٧ د پرنجيدلو دعا

١٨٨- پيغمــبر ﷺ فرمايي کله چي له تاســو نه څوک وپرنجيږي، نــو ودي وايي: « الحَمْـدُ لِلَّهِ» يعني ټوله ســتاينه الله لــره ده،او هغه بل کــس او ملګــرى بــه ورتــه وايي «يَرْحَمُـكَ اللَّهُ»وويــل، نــو هغه بل بــه ورتــه وايي: « يَهْدِيكُـمُ اللَّهُ، وَيُصْلِـحُ بَالَكُـمْ» يعني: الله دي تــا تــه هدايت وکــړي، او الله دي ســتا احوال او کار ســم کړي[(٢)].

## ٧٨ کله چي کافر وپرنجيږي داسي به ورته وايي

١٨٩- «يَهْدِيكُـمُ اللَّهُ، وَيُصْلِـحُ بَالَكُـمْ».

الله دي تاســو تــه هدايــت وکــړي، او الله دي ستاســو احوال او کار ســم کړي[(٣)].

---

(١) مسلم (٢/١٠٠٠).

(٢) البخاري (٧/١٢٥).

(٣) ترمذي (٥/٨٢) احمد (٤/٤٠٠) ابو داود (٤/٣٠٨)، صحيح الترمذي (٢/٣٥٤).

## ۷۹ واده کونکي ته دعا

۱۹۰- «بَارَكَ اللهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ».

الله دي تـا لـره برکـت درکـړي او پـر تـا دي برکـت وکـړي، او تاسـو دواړه دي پـه خـير سره يـو ځـای کـړي[١].



## ۸۰ د واده کولو او سورلۍ اخيستلو دعا

۱۹۱- پيغمـبر ﷺ فرمـايي: کلـه چـې له تاسـو نه څـوک له يوې ښـځې سره واده وکـړي او يـا مـريي واخـلي، نو داسي بـه وايي:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ خَيْرَهَـا، وَخَـيْرَ مَـا جَبَلْتَهَـا عَلَيْـهِ، وَأَعُوذُ بِـكَ مِـنْ شَرِّهَـا، وَشَرِّ مَـا جَبَلْتَهَـا عَلَيْـهِ، وَإِذَا اشْـتَرَى بَعِـيرًا، فَلْيَأْخُـذْ بِـذِرْوَةِ سَـنَامِهِ، وَلْيَقُـلْ مِثْـلَ ذَلِكَ».

الهي! زه له تا نه ددې د خير سوال کوم او د هغه څه د خير سوال درنه کوم په کوم چې تا هغه پيدا کړيده، او پناه غواړم په تا سره ددې له شر نه، او له هغه شر نه په کوم چې تا هغه پيدا کړيده. او کله چې اوښ واخلي نو د بوک څوکه به يې نيسي او مخکينی دعا به وکړي[٢].

---

(١) بيله نسائي نه نورو اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح الترمذي (١/٣١٦).
(٢) ابو داود (٢/٢٤٨) ابن ماجه (١/٦١٧)، صحيح ابن ماجه.

## ٨١ خپلي ښځي سره كوروالى نه مخكي دعا

١٩٢- «بِاسْـمِ اللهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَـا الشَّـيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّـيْطَانَ مَـا رَزَقْتَنَا».

د الله پـه نـوم الـهي! تـه مـو له شـيطان نـه لـيري كـړې او شـيطان (زمونـږ) له هغـه (اولاد) نـه لـيري كـړې چي تـا مونږ ته راكړيـدى[1].

## ٨٢ د قهر او غوسي په وخت دعا

١٩٣- «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

زه په الله سره له رټل شوي شيطان نه پناه غواړم[2].

## ٨٣ د مصيبت زده ليدو په وخت دعا

١٩٤- «الحَمْـدُ لِلهِ الَّذِي عَافَـانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِـهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَـقَ تَفْضِيلًا».

تـوله سـتاينه هغـه الله لـره ده چـي زه يي سـاتلى يـم له هغـه څه

(١) بخاري (٦/١٤١)، مسلم (٢/١٠٢٨).
(٢) البخاري (٧/٩٩) ومسلم (٤/٢٠١٥).

نـه چـي ته يـې پرې اختـه كړي يـې، او مـا ته يـې پر خپلـو ډېرو مخلوقاتـو فضيلـت او غـوره والى را كړيدى[(١)].

## ٨٤ د مجلس دعا

١٩٥- له ابـن عمـر رضي الله عنهما نـه روايت دى چـي وايي، پيغمـبر صلى الله عليه وسلم به پـه يوه مجلس كي په شـمار سـل ځـلي دا (دعا) ويلـه «رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَتُـبْ عَلَيَّ؛ إِنَّـكَ أَنْتَ التَّـوَّابُ الغَفُورُ».

اى ځمـا پروردګاره بخښـنه راتـه وكړې، او توبـه مي قبوله كړې، په رښـتيا سره چي ته ښـه توبـه قبلونكى ډېر بخښـونكى يې[(٢)].

## ٨٥ د مجلس كفاره

١٩٦- «سُـبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْـدِكَ، أَشْـهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْـتَ، أَسْـتَغْفِرُكَ وَأَتُـوبُ إِلَيْكَ».

الهي! په پاكۍ سره يادوو تا، او پوره ستاينه كوو ستا زه شاهدي وركوم چي بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته، زه له تا نه بخښنه

---

(١) ترمذي (٥/٤٩٣) (٥/٤٩٤)، صحيح الترمذي (٣/١٥٣).

(٢) ترمذي او نورو روايت كړيدى، صحيح الترمذي (٣/١٥٣)، صحيح ابن ماجه (٢/٣٢١)، او الفاظ د ترمذي دي.

غواړم، او تا ته توبه کوم[١].

## ٨٦ ځوک چي چا ته ووايي: «غفر الله لك» هغه ته به داسي وايي

١٩٧- «وَلَكَ».

او تا ته دي هم (الله بخښنه وکړي)[٢].

## ٨٧ ځوک چي له تا سره ښه وکړي، هغه ته دعا

١٩٨- «جَزَاكَ اللهُ خَيْرًا».

الله دي تا لره خير او نيک اجر) درکړي[٣].



(١) اصحاب السنن روايت کړيدی صحيح الترمذي (٣/١٥٣)، او له عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چي وايي. پيغمبر به په هيڅ داسي يو مجلس کي نه کښيناسته او نه به يي قرآن لوسته، او نه به يي لمونځ کاوه، مګر هغه به په دغه (پورتنيو) کلماتو سره ختم کړي. باقي حديث. نسائي په «عمل اليوم والليلة (٣٠٨) نمبر حديث کي، احمد (٦/٧٧) روايت کړيدی او دکتور فاروق حماده د «عمل اليوم والليلة» په تحقيق ص (٢٧٣) کي هغه صحيح بللی دی.

(٢) (احمد (٥/٨٢)، نسائي عمل اليوم والليلة» ص (٢١٨، ٤٢١) نمبر حديث، د دکتور فاروق حماده تحقيق کي روايت کړيدی.

(٣) ترمذي ٢٠٣٥ نمبر ،حديث صحيح الجامع ٦٢٤٤، صحيح الترمذي (٢/٢٠٠).

## ٨٨ په څه چي د دجال (له فتني) ځان ساتلی شي

١٩٩- « پيغمبر ﷺ فرمايي چا چي د کهف د سورت اولني لس آياتونه ياد کړل، له دجال نه به وژغورل شي او همدارنګه په هر لمانځه کي د وروستنی ناستي د «التحيات» نه وروسته په الله سره د دجال له فتنې نه پناه غوښتل»(١).

## ٨٩ څوک چي چا ته ووايي: «إِنِّي أُحِبُّكَ فِي اللّٰه» هغه ته به داسي وايي

٢٠٠- «أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ».

هغه ذات دي در سره محبت وکړي چي تا د هغه لپاره زما سره محبت کړيدی(٢).



(١) مسلم (١/٥٥٥) ، او په بل روايت (١/٥٥٦) کي د کهف دسورت آخري (لس) آيتونه ښودل شويدي. ددي کتاب ٥٥ نمبر ،حديث او ٥٦ نمبر حديث دي وکتل شي.

(٢) ابو داود (٤/٣٣٣) او الباني په صحيح سنن ابي داود (٣/٩٦٥) کي د هغه اسناد حسن بللی دی.

## ٩٠ څوک چې خپل مال تا ته وړاندې کړي هغه ته دعا

٢٠١- «بَارَكَ اللهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ».

الله دې تاته ستا په عيال او مال کې برکت واچوي[(١)].



## ٩١ د قرض د اداء کولو په وخت قرض ورکونکي ته دعا

٢٠٢- «بَـارَكَ اللهُ لَـكَ فِي أَهْلِـكَ وَمَالِكَ؛ إِنَّمَا جَزَاءُ السَّـلَفِ: الحَمْدُ، وَالأَدَاءُ».

الله دې تاتـه سـتا پـه عيـال او مـال کې برکت واچوي په رښـتيا سره چـې د قـرض بدله په سـتاينه او اداينـه سره وي[(٢)].

## ٩٢ له شرک نه د ويرې دعا

٢٠٣- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُـوذُ بِـكَ أَنْ أُشْرِكَ بِـكَ وَأَنَـا أَعْلَـمُ، وَأَسْـتَغْفِرُكَ لِمَـا لَا أَعْلَـمُ».

(١) بخاري فتح الباري (٤/٨٨).
(٢) نسائي «عمل اليوم والليلة ص (٣٠٠) ، ابن ماجه (٢/٨٠٩) صحيح ابن ماجه (٢/٥٥).

الهي! زه په تا سره پناه غواړم لدينه چي زه په پوهه ستا سره شريک جوړ کړم او بخښنه غواړم له هغه څه نه چي زه پري نه پوهيږم[(١)].

## ٩٣ هغه چا ته دعا چي تاته ووايي: «بارَكَ اللهُ فيك»

٢٠٤- «وَفِيكَ بَارَكَ اللهُ».

او الله دي په تا کي هم برکت واچوي[(٢)].

## ٩٤ د بد شکومی بد ګڼلو دعا

٢٠٥- «اللَّهُمَّ لَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ، وَلَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

الهي! بد شکومي يوازي ستا لخوا نه او ستا په حکم سره ده او خير تول ستا لخوا نه دی، او بيله تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته[(٣)].

---

(١) احمد (٤/٤٠٣) او نورو روايت کړيدی، صحيح الجامع (٣/٢٣٣).

(٢) ابن السني ص (١٣٨ ، ٢٧٨) نمبر حديث الوابل الصيب د ابن القيم ليکنه ص (٣٠٤)، د بشير محمد عيون تحقيق.

(٣) احمد (٢/٢٢٠) ابن السني (٢٩٢) نمبر حديث او الباني په الأحاديث الصحيحة ،(٣/٥٤، (١٠٦٥)نمبر حديث کي هغه صحيح بللی دی. او نيک فالي د پيغمبر خوښيدله، او چي کله به يي له کوم سړي

## ٩٥ د سپريدو دعا

٢٠٦- «بِاسْمِ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلّهِ، ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾، الحَمْدُ لِلّهِ، الحَمْدُ لِلّهِ، الحَمْدُ لِلّهِ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي؛ فَاغْفِرْ لِي؛ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ».



د الله په نامه سره، الله لره پوره ستاينه ده، پاک دی هغه ذات چي مونږ ته يې دا (سپرلی) تابع کړيده، او مونږ د هغه مهاروونکي نه يو، او مونږ خپل پروردګار ته بيرته تلونکي يو، الله لره پوره ستاينه ده الله لره پوره ستاينه ده، الله لره پوره ستاينه ده الله ډير لوی دی الله ډير لوی دی، الله ډير لوی دی، په پاکي سره يادوو تا اي الله، ما پر خپل ځان زياتی کړيدی، نو ماته بخښنه وکړې، چي په رښتيا سره بيله تا نه بل څوک ګناهونه نشي بخښلای[١].

---

نه ښه خبره واوريده او خوښه به يې شوه، نو داسي به يې ويل ستا نيک فال مو ستا له خولې نه واخيست. ابو داود، احمد، او الباني په الأحاديث الصحيحة ٢/٣٦٣ کې هغه د ابو الشيخ په حواله په أخلاق النبي : » ص ٢٧٠ کي صحيح بللی دی.

(١) ابو داود (٣/٣٤) ترمذي (٥/٥٠١)، صحيح الترمذي (٣/١٥٦).

## ٩٦ د سفر دعا

٢٠٧- اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، ﴿سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾، «اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا البِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ العَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالخَلِيفَةُ فِي الأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ المَنْظَرِ، وَسُوءِ المُنْقَلَبِ فِي المَالِ وَالأَهْلِ».

ډير لوی دی، الله ډير لوی دی، الله ډير لوی دی الله لره پوره ستاینه ده، پاک دی هغه ذات چي مونږ ته يې دا (سورلی) تابع کړيده او د هغه مهارونکي نه يو، الهي! مونږ پدې سفر کي له تا نه د نيکۍ او پرهيزګارۍ، او دداسي عمل سوال کوو چي تا ته خوښ وي، الهي! ته مونږ ته دا سفر آسانه کړې، او اوږدوالی يې راته لنډ کړې، الهي! ته په سفر کي ملګری، او په کور کي سرپرست يې الهي زه په تا سره پناه غواړم د سفر د سختۍ نه او له خوار حالت نه او مال او عيال ته له ناوړه بيرته ستنيدو نه.

او چي کله له سفر نه بيرته راستنيدونکی وي نو همدا دعا به وايي : «آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ».

او ورسره به دا هم وايي بيرته راتلونکي توبه ايستونکي

عبادت کونکي د خپل پروردګار ستايونکي(١).

## ٩٧ کلي يا ښار ته ننوتلو دعا

٢٠٨- «اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظْلَلْنَ، وَرَبَّ الأَرَضِينَ السَّبْعِ وَمَا أَقْلَلْنَ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضْلَلْنَ، وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ؛ أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ القَرْيَةِ، وَخَيْرَ أَهْلِهَا، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ أَهْلِهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا».

الهي! د اوو آسمانونو او د هغو تر سيوري لاندي (مخلوقاتو) پروردګاره!، او د اوو ځمکو او د هغو برسيره (مخلوقاتو) پروردګاره او د شيطانانو او په هغوی سره ګمراه شويو (مخلوقاتو) پروردګاره او د بادونو او په هغوی سره د الوزول شويو (مخلوقاتو) پروردګاره زه ددې کلي خير، او د هغه د اوسيدونکو خير او د هغه څه خير درنه غواړم کوم چي په هغه کي دي، او په تا سره پناه غواړم د هغه له شر نه، او د هغه د اوسيدونکو له شر نه، او د هغه څه له شر نه کوم چي په هغه کي دي(٢).

---

(١) مسلم (٢/٩٧٨)

(٢) حاکم (٢/١٠٠) ، او هغه يې صحيح بللی دی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده ابن السني ٥٢٤ نمبر حديث، او حافظ د الاذکار په تخريج (٥/١٥٤) کي هغه حسن بللی دی، او ابن باز وايي نسائي هغه په حسن سند سره روايت کړيدی، تحفة الاخيار ص (٣٧).

## ۹۸ بازار ته ننوتلو دعا

۲۰۹- «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، يو دى، شريک نلري، هغه لره پاچاهي او غوره ستاينه ده ژوند ورکوي او مرګ راولي، او هغه (هميشه ،ژوندى دى مرګ نلري، خير دده په لاس کي دى، او هغه پر هر څه قادر او برلاسى دى)[۱].

## ۹۹ د سپرلۍ غورځيدو په وخت دعا

۲۱۰- «بِاسْمِ اللهِ».

د الله په نامه سره[۲].

## ۱۰۰ د مسافر دعا و مقيم ته

۲۱۱- «أَسْتَوْدِعُكُمُ اللهَ الَّذِي لَا تَضِيعُ وَدَائِعُهُ»

(۱) ترمذي (۵/۲۹۱) ، حاكم (۱/۵۳۸) او الباني په صحيح ابن ماجه (۲/۱۲)، او په صحيح الترمذي (۳/۱۵۲) کي هغه حسن بللى دى.

(۲) ابو داود (۴/۲۹۶)، او الباني په صحيح ابي داود (۳/۹۴۱) کي هغه صحيح بللى دى.

هغـه الله تـه دي سـپارم، چـي هغه ته سـپارل شـوي نـه ضائع کيږي[(١)].

## ١٠١ د مقيم دعا مسافر ته

٢١٢-(١) «أَسْتَوْدِعُ اللّهَ دِينَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ».

زه ستا دين او ستا امانت او ستا د کارونو انجام الله ته سپارم[(٢)].

٢١٣-(٢) «زَوَّدَكَ اللّهُ التَّقْـوَى، وَغَفَـرَ ذَنْبَـكَ، وَيَسَّرَ لَكَ الخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ».

الله دي در ته د پرهيزګارۍ توښـه درکړي، او الله دي سـتا ګناه وبخښـي، او چيرته چي يـې الله دي درته نيکي آسـانه کړي[(٣)].

## ١٠٢ په سفر کي تکبير او تسبيح

٢١٤- جابر رضي الله عنه وايي: کله چي به مونږ پورته ختو نو «اللّه أكبر» به مو ويل، او کله چي به ښکته کيدو نو «سُبْحَانَ اللّه» به مو ويل[(٤)].

(١) احمد (٢/٤٠٣)، ابن ماجه (٢/٩٤٣)، صحيح ابن ماجه (٢/١٣٣).
(٢) احمد (٢/٧) ترمذي (٥/٤٩٩)، صحيح الترمذي (٢/١٥٥).
(٣) احمد (٢/٧) ترمذي (٥/٤٩٩)، صحيح الترمذي (٢/١٥٥).
(٤) بخاري فتح الباري (٦/١٥٣).

## ١٠٣ د سهار په وخت د مسافر دعا

٢١٥- «سَمَّعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللهِ، وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا، رَبَّنَا، صَاحِبْنَا، وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا، عَائِذًا بِاللهِ مِنَ النَّارِ».

الله لره، يو شاهدي ورکونکي (زمونږ) پر ستاينه الله او پر مونږ باندي د هغه د ښو نعمتونو شاهدي ورکړه، اې پروردګاره زمونږ مل اوسه، او خپل بې شماره نعمتونه په خپل فضل سره مونږ ته راکړه، پناه غواړم په الله سره د دوزخ له اور نه(١).

## ١٠٤ په سفر يا پرته له سفر نه په يو ځای کي د کوزيدلو او ودريدلو دعا

٢١٦- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ».

د الله په بشپړ کلام سره د هغه څه له شر نه پناه غواړم چي (الله) پيدا کړيدي(٢).

---

(١) مسلم (٤/٢٠٧٦) ، او د «سمع سامع معنى داده: شاهدي ورکړه شاهدي ورکونکي پر ستاينه زمونږ الله لره، او دده پر ښو نعمتونو او ابتلا ،باندي او د «سَمَّعَ سامع» (د روايت) معنى داده اوريدونکي زما دا خبره نورو ته ورسوله او دا يې څکه وويل تر څو د سهار په وخت ذکر او دعا کولو ته اشاره وکړي، او «ربَّنَا صَاحِبنَا، وَأَفضل عَلَيْنَا» معنى داده: مونږ (په خپل حفظ او امان کي ونيسه او ساتنه مو وکړه، او خپل بې شماره نعمتونه په خپل فضل سره مونږ ته راکړه او له مونږ نه هر رنګه تکليف او ضرر ليري کړه. شرح النووي (١٧/٣٩).

(٢) مسلم (٤/٢٠٨٠).

## ۱۰۵ د سفر نه د ستنیدو دعا

۲۱۷- پر هر لوړ ځای به درې ځلي «الله اکبر» وایي، او بیا به دا دعا کوي: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ».

بیله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، یو دی، شریک نلري، هغه لره پاچاهي او غوره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی، مونږ بیرته راتلونکي، توبه ایستونکي، عبادت کونکي یوازي د خپل پروردګار ستایونکی یو، الله خپله وعده رښتوني کړه، او د خپل بنده مرسته یي وکړه، او په یوازي یي د کفارو ډلو ته ماتي ورکړه(۱).



## ۱۰۶ د خوشحالۍ او یا خواشینی کار پیښیدو په وخت کي دعا

۲۱۸- پیغمبر ﷺ ته چي به کله خوشحالونکی کارمخي ته راغی نو داسي به یي ویل: «الحَمْدُ لِلهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ».

(۱) پیغمبر ﷺ به چي کله له کومي غزا او یا حج نه بیرته راغی نو دا اذکار به یي ویل. بخاري (۷/۱۶۳)، مسلم (۲/۹۸۰).

پوره ستاینه هغه الله لره ده چي په نعمت سره يې. نيک کارونه سر ته رسيږي.

او چي کله به ناخوښه کار ورته پيښ شو، نو داسي به يې ويل: «الحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ».

پوره ستاينه الله لره ده په هر حال کی[(١)].



## ١٠٧ پر پيغمبر ﷺ د درود ويلو فضيلت

٢١٩-(١) پيغمبر ﷺ ويلي دي: «څوک چي پر ما يو درود ووايي، نو الله به پر هغه لس ځلي رحمت وليږي»[(٢)].

٢٢٠-(٢)او ﷺ فرمايي: «زما قبر نه ميله مه جوړوی، او پر ما درود ووايې ځکه ستاسو درود هر چيري چی ياست ما ته رسيږي»[(٣)].

٢٢١-(٣) او ﷺ فرمايي: «بخيل هغه دی، چي زه دده په وړاندي ياد شم او پر ما درود ونه وايي»[(٤)].

---

(١) ابن السني په عمل اليوم والليلة (١/٤٩٩) کي هغه روايت کړی، او صحيح بللی دی او الباني هم په صحيح الجامع (١/٢٠١) کي هغه صحيح بللی دی.

(٢) مسلم (١/٢٨٨).

(٣) ابو داود (٢/٢١٨) احمد ،(٢/٣٦٧) ، او الباني په صحيح ابي داود (٢/٣٨٣) کي هغه صحيح بللی دی.

(٤) ترمذي (٥/٥٥١)، او نورو روايت کړيدی، صحيح الجامع (٣/٢٥)، صحيح الترمذي (٣/١٧٧).

۲۲۲-(٤) او ﷺ فرمايي: «الله لره په ځمکه کې ګرځندويه فرښتې دي، چې زما د امت سلام ما ته رسوي»(١).

۲۲۳-(٥) او ﷺ فرمايي: «هیڅوک پر ما سلام نه کوي، مګر الله پاک زما روح ما ته بیرته راکړي، تر څو د هغه د سلام جواب ورکړم»(٢).



## ١٠٨ سلام خپرول

۲۲٤-(١) پيغمبر ﷺ فرمايي: «جنت ته نشئ تللای تر څو مومنان نه شئ او مومنان نشئ کیدلای تر څو خپل مینځونو کې مینه محبت ونلرئ، نو زه تاسو ته داسي يو شی ونه ښایم چې که وکړئ، په خپلو مینځونو کي به مو مینه محبت پیدا شي؟ خپلو مینځونو کي سلام خپور کړئ»(٣).

۲۲٥-(٢)پيغمبر ﷺ فرمايي: «دري داسي (صفتونه) دي، چا چي هغه ټول ولرل نو پوره ايمان يي حاصل کړ هغه دادي): په خپل ځان کي انصاف لرل، په ټولو خلکو) سلام کول، او د بي وزلتوب په حالت کي مصرف کول»(٤).

---

(١) نسائي، حاكم (٢/٤٢١) ، او الباني په صحيح النسائي (١/٢٧٤) کي هغه صحيح بللی دی.

(٢) ابو داود (٢٠٤١) نمبر، حدیث او الباني په صحیح داود (١/٣٨٣) کي هغه صحيح بللی دی.

(٣) (مسلم (١/٧٤) او نورو روايت کړيدی.

(٤) بخاري، فتح الباري (١/٨٢) له عمار له نه موقوف او معلق روایت کريدی.

۲۲٦-(۳) او د عبد الله بن عمر ﵄ نه روايت دى چي يوه سړي له پيغمبر ﷺ نه پوښتنه وکړه چي کوم اسلام غوره دى؟ پيغمبر ﷺ وفرمايل: «دا چي د الله په لار کي ډوډى ورکړې، او سلام وکړې پر هغه چا چي پيژنې يې او که يې نه پيژنې»[۱].

## ۱۰۹ د کافر د سلام جواب به څنګه ورکوي

۲۲۷- کله چي اهل کتاب (يهود او نصارى) په تاسو سلام وکړي، نو تاسو (په جواب کي) ورته ووايا‌ست «وَعَلَيْكُمْ» يعني او په تاسو هم[۲].

## ۱۱۰ د چرګ د آذان، او د خره د هنګاري په وخت دعا

۲۲۸- پيغمبر ﷺ فرمايي: «کله چي د چرګ آذان واورى، نو د الله نه د هغه د فضل سوال وکړى، ځکه هغه د آذان په وخت ملائکه ليدلي وي، او چي کله د خره هنګار واورى، نو په الله سره له شيطان نه پناه وغواړى، ځکه چي هغه د هنګاري په

---

(۱) بخاري، فتح الباري (۱/۵۵)، مسلم (۱/٦۵).
(۲) بخاري، فتح الباري (۱۱/٤۲)، مسلم (٤/۱۷۰۵).

وخت شیطان لیدلی وي»[(١)].

## ١١١ په شپه کې د سپیو د خپلو اوریدو په وخت دعا

٢٢٩-پیغمبر ﷺ فرمایي: «کله چې په شپه کې د سپیو غپل او د خرو هنگاری واورئ نو په الله سره له هغو نه پناه وغواړئ، ځکه هغوی داسې څه ویني چې تاسو یې نه وینئ»[(٢)].

## ١١٢ څوک چې دې بښکنځلی وي هغه ته دعا

٢٣٠- پیغمبر ﷺ دي: «اللّٰهُمَّ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ، فَاجْعَلْ ذَلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

الهي! کوم مومن ته چې ما کنځلی دی، نوهغه ورته د قیامت په ورځ و ځانته د نژدیکت سبب وگرځوي[(٣)].

(١) بخاري، فتح الباري (٦/٣٥٠)، مسلم (٤/٢٠٩٢).
(٢) ابو داود (٤/٣٢٧)، احمد (٣/٣٠٦)، او الباني په صحیح ابي داود (٣/٩٦١) کې هغه صحیح بللی دی.
(٣) بخاري، فتح الباري (١١/١٧١)، مسلم (٤/٢٠٠٧)، او د مسلم الفاظ دادي: «فاجعلها له زكاة ورحمة» یعني: هغه دده لپاره د پاکوالي او رحمت سبب وگرځوي.

## ١١٣ د بل مسلمان ستايلو په وخت به داسي وايي

٢٣١-پيغمبر ﷺ فرمايي کله چي له تاسو نه څوک د خپل ملګري هرومرو صفت کول غواړي، نو داسي دي ووايي:

«أَحْسِبُ [فُلَانًا] وَاللّٰهُ حَسِيبُهُ وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللّٰهِ أَحَدًا».

زه په فلاني همداسي ګمان کوم او الله پاک د هغه په حال ښه خبر دی، او د الله په وړاندي د هيچا تزکيه او د هغه په سپيڅلتيا حکم نه کوم، زه په هغه داسي ګمان کوم. دا په هغه وخت کي چي د هغه نه خبر وي(١).

## ١١٤ کله چي د مسلمان صفت وشي نو هغه به داسي وايي

٢٣٢- «اللّٰهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا يَقُولُونَ، وَاغْفِرْ لِي مَا لَا يَعْلَمُونَ، [وَاجْعَلْنِي خَيْرًا مِمَّا يَظُنُّونَ]».

الهي! ته ما په هغه څه مه نيسه چي دوی يې زما په باره کي وايي، او ما ته د هغه څه بخښنه وکړې چي دوی پري خبر ندي، او دوی چي په ما څه ګمان کوي له هغه نه مي غوره وګرځوې(٢).

(١) مسلم (٤/٢٢٩٦).
(٢) بخاري په الادب المفرد ٧٦١ نمبر حديث کي روايت کړی، او الباني په صحيح الادب المفرد=

## ۱۱۵ په حج او عمره کې په محرم لبیک ښکاره وایي

۲۳۳- «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ».

الهي! ستا حکم منلو ته تیار یو، تا لره شریک نشته ستا حکم منلو ته تیار یو، په رښتیا سره چې ټوله ستاینه او د نعمت (شکر) او پاچاهي تا لره ده، تا لره هیڅ شریک نشته[۱].



## ۱۱۶ حجر اسود ته د رارسیدلو په وخت الله أکبر ویل

۲۳۴- پیغمبر ﷺ د کعبې نه يې طواف وکړ، او چې کله به حجر اسود ته راورسید، نو هغې ته به يې په کوم شي چې ورسره وو اشاره وکړه او «اللهُ أَكْبَرُ» به يې ووایه[۲].

= ۵۸۵ نمبر حدیث کې هغه صحیح بللی دی او د مربع قوسونو تر مینځ عبارت د بیهقي زیادت دی په شعب الإیمان (۴/۲۲۸) کې له بلې طریقې نه.

(۱) بخاري، فتح الباري (۳/۴۰۸)، مسلم (۲/۸۴۱).

(۲) بخاري، فتح الباري (۳/۳۷۶) او له شي نه مراد لښته ده، بخاري (فتح الباري ۳/۴۷۲ دي وکتل شي.

## ١١٧ د رکن یماني او حجر اسود په مینځ کې دعا

٢٣٥- «﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾».

اې زموږ پروردګاره! موږ ته په دنیا کې نیکی راکړې او په آخرت کې نیکی راکړې او د دوزخ له عذاب نه مو وساتې[1].



## ١١٨ صفا او مروا باندې د وړیدو دعا

٢٣٦-کله چې به پیغمبر ﷺ و «صفا» ته نژدې شو، نو دا آیتونه به یې ویل: «﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ﴾ أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ» په رښتیا سره چې «صفا» او «مروا» د الله د عبادت له نښو نښانو نه دي، په هغه څه شروع کوم په کوم چې الله شروع کړیده.

نو په «صفا» یې شروع وکړه، او په هغې باندې وخوت تر څو چې یې کعبه ولیدله، نو بیا به یې مخ قبلې ته کړ، او د توحید کلمه او تکبیر به یې ووایه او داسې به یې ویل: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ».

---

(١) ابو داود (٢/١٧٩)، احمد (٣/٤١١)، او بغوي په شرح السنة (٧/١٢٨)، کې روایت کړیدی او الباني په صحیح أبي داود (١/٣٥٤) کې هغه حَسَن بللی دی، او آیت د سورت بقره ٢٠١ آیت دی).

بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، يو دى، شريک نلري، هغه لره پاچاهي او پوره ستاينه ده، او هغه پر څه قادر دى، بيله الله نه بل د عبادت وړه ځوک نشته، يو دى، خپله وعده يې پوره کړه، او د خپل بنده سره يې مرسته وکړه او د کفارو ډلو ته يې يوازي ماتي ورکړه، او بيا به يې ددې (کلماتو) په مينځ کي دعا وکړه.

درې ځلي به يې داسي وويل... د حديث تر آخره پوري او په نومړي حديث کي راغلي دي چي په «مروا» کي به يې هم د صفا په شان (دعاګاني او اذکار) ويل[1].



## ١١٩ د عرفات په ورځ دعا

٢٣٧- پيغمبر ﷺ فرمايي له ټولو نه غوره دعا د عرفات په ورځ دعا ده او له ټولو نه غوره (ذکر) چي ما او له ما نه مخکي نورو پيغمبرانو ويلى دى (دادى): «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته، يو دى، هيڅ شريک نلري، هغه لره پاچاهي ده، او هغه لره غوره ستاينه ده او هغه پر هر څه قادر دى[2].

---

(١) مسلم (٢/٨٨٨).

(٢) ترمذي او الباني په صحيح الترمذي (٣/١٨٤) کي، او په الأحاديث الصحيحة (٤/٦) کي هغه

## ۱۲۰ د مشعر حرام دعا

۲۳۸- پیغمبر ﷺ پر (خپلې (اوښې) «قصواء» باندې سپور شو، تر څو چې مشعر حرام ته راغی نو قبلې ته به یې مخ کړ، او دعا یې وکړه، او «اللّٰهُ أَكْبَرُ»، او «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ»، یې وواېه او الله یې په وحدانیت یاد کړ، او تر هغه پورې ولاړ وو تر څو چې له لمر ختو نه مخکې روښنایي ښه زیاته شوه(۱).

## ۱۲۱ د شیطانانو ویشتلو په وخت د هر کاڼي ویشتلو سره «الله اکبر» ویل

۲۳۹-کله چې شګه ولي نو «الله اکبر» به وايي، او بیا به لږ وړاندې ځي، او درېږي به او قبلې ته به مخامخ لاسونه پورته کوي او دعا به کوي، د لومړۍ او دوهمې جمرې نه وروسته، اما دریمه جمره چې کومه ده، هغه به ولي، او د هرې شګې سره به «اللّٰهُ أَكْبَرُ» وايي، او بیا به ځي او د هغې سره به د دعا لپاره نه درېږي(۲).

---

حسن بللی دی.

(۱) مسلم (۲/۸۹۱).

(۲) بخاري، فتح الباري (۳/۵۸۳، ۳/۵۸۴)، او الفاظ وکتل شي، بخاري، فتح الباري (۳/۵۸۱) وکتل شي، او مسلم هم روایت کړیدی.

## ۱۲۲ د تعجب او خوشحالونکي کار پیښیدو په وخت دعا

۲٤٠-(۱) «سُبْحَانَ اللهِ!»

الله لره توله پاکی ده[(۱)].

۲٤۱-(۲) «اللهُ أَكْبَرُ!»

الله ډیر لوی دی[(۲)].

## ۱۲۳ چا ته چي خوشحالونکی خبر راشي، نو څه به کوي

۲٤۲- پیغمبر ﷺ ته چي به کله داسي خبر راغی چي په هغه به خوشحالیده، او یا د بل چا لپاره د خوشحالی خبر وو، نو د الله د شکر لپاره به په سجده پریوت[(۳)].

(۱) بخاري، فتح الباري (۱/۲۱۰)، (۱۳۹۰، ٤١٤)، مسلم (٤/۱۸۵۷).

(۲) بخاري، فتح الباري (۸/٤٤۱)، صحيح الترمذي (۲/۱۰۳، ۲/ ۲۳۵)، مسند احمد (۵/۲۱۸).

(۳) بیله نسائي نورو اصحاب السنن روایت کریدی، صحيح ابن ماجه (۱/۲۳۳)، ارواء الغليل (۲/۲۲٦).

## ١٢٤ څوک چي په خپل بدن کي درد محسوس کړي څه به کوي

٢٤٣- «خپل لاس د خپل بدن پر دردمن ځای کښېږده او درې ځلي به «بِاسْمِ اللهِ» ووايې، او اوه ځلي به داسي ووايې: أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ».

زه په الله سره او د هغه په قدرت سره پناه غوارم د هغه څه له شر نه چي ما ته رسېدلی دی او زه ځني وېرېږم[(١)].

## ١٢٥ په څه شي د نظر کېدو نه د وېرې دعا

٢٤٤- «کله چي له تاسو نه څوک له خپل ورور، او يا په خپل ځان کي او يا خپل مال کي داسي څه وګوري چي له هغه نه تعجب وکړي، نو د هغه لپاره دي د برکت دعا وکړي، ځکه نظر کېدل حق دي»[(٢)].

(١) مسلم (١٧٢٨/٤).
(٢) مسند احمد (٤٤٧٤)، ابن ماجه مالک، او الباني په صحيح الجامع (١/٢١٢) کي هغه صحيح بللی دی، زاد المعاد (٤/١٧٠) د ارناؤوط تحقيق دي وکتل شي.

## ١٢٦ د ويري په حالت کي دعا

٢٤٥- «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ!».

بيله الله نه بل د عبادت وړ معبود نشته(١).

## ١٢٧ د قرباني حلالولو په وخت کي څه ويل پکار دي

٢٤٦- «بِاسْمِ اللهِ، وَاللهُ أَكْبَرُ، [اللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ]، اللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّي».

د الله په نوم (حلالول کوم)، الله ډير لوى دى الهي! دا (قرباني) ستا له طرف نه ده، او ستا لپاره يې حلالوم الهي! ته يې را څخه قبوله کړې(٢).



(١) بخاري، فتح الباري (٦/١٨١)، مسلم (٤/٢٢٠٨).

(٢) مسلم (٣/١٥٥٧)، بيهقي (٩/٢٨٧)، او د مربع قوسونو په مينځ کي عبارت د بيهقي (٩/٢٨٧) او نورو دى او اخيرنى جمله په معنى سره د مسلم له روايت نه ذکر کړه.

# ۱۲۸ هغه چې د سرکښه شيطانانو د مکر او چل دفع کولو لپاره ويل کيږي

۲٤۷- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ: مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَبَرَأَ وَذَرَأَ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الأَرْضِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ، إِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمَنُ!».

د الله، په هغه بشپړ کلام سره پناه غواړم چې هيڅ نيک او بد سړی له هغه نه زياتوب نشي کولای، د هغه څه له شر نه چې الله پيدا کړي، او خواره کړيدي او د هغه څه له شر نه چې له آسمان نه نازليږي او د هغه څه له شر نه چې آسمان ته خيژي، او د هغه څه له شر نه چې په ځمکه کې يې خواره کړيدي او د هغه څه له شر نه چې له هغې نه راوځي، او د شپې او ورځې له فتنو نه، او د هغه څه له شر نه چې د شپې راتلونکی وي، نه هغه راتلونکی په شپه کې چې خير ور سره وي، اې مهربان ذاته[(۱)].



(۱) احمد (۳/٤۱۹) په صحيح اسناد، سره ابن السني (٦۳۷)، نمبر حديث کې روايت کړيدی او ارناؤوط د العقيدة الطحاوية به تخريج ص (۱۳۳) کې د هغه اسناد صحيح بللی دی، او مجمع الزوائد (۱۰/۱۲۷) دي وکتل شي.

## ١٢٩ استغفار او توبه

٢٤٨-(١) پيغمبرﷺ فرمايي: «په الله سره قسم چي زه په ورځ کي له اويا ځلو نه زيات له الله نه بخښنه غواړم، او هغه ته توبه باسم»(١).

٢٤٩-(٢) اوﷺ فرمايي: «ای خلکو! الله ته توبه وباسی، او زه په ورځ کي سل ځلي الله ته توبه باسم»(٢).

٢٥٠-(٣) اوﷺ فرمايي: څوک چي دا دعا ووايي: «أَسْتَغْفِرُ اللهَ العَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيَّ القَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ».

له هغه لوی او عظمت والا الله نه بخښنه غواړم، چي بيله هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته، ژوندی دی، د کائناتو تدبير کونکی دی، او زه هغه ته توبه باسم، چي دا دعا ووايي نو الله به هغه ته بخښنه وکړي، که څه هم له کفارو سره د جهاد له ميدان نه تښتيدلی وي(٣).

٢٥١-(٤) اوﷺ فرمايي: «پروردګار له هر وخت نه زيات د شپي په آخره حصه کي خپل بنده ته نژدي وي، نو که و کولای شي چي



---

(١) بخاري فتح الباري (١١/١٠١).

(٢) مسلم (٤/٢٠٧٦).

(٣) ابو داود (٢/٨٥) ترمذي (٥/٥٦٩)، حاکم (١/٥١١)، هغه صحيح کړی، او ذهبي موافقه ورسره کړيده او الباني هم هغه صحيح بللی دی، صحيح الترمذي (٣/١٨٢) ، جامع الاصول لاحاديث الرسول (٤/٣٨٩-٣٩٠) د ارناؤوط تحقيق.

پدغـه وخـت کې له ذکر کونکو نه شي، نو همداسي شـه»[(١)].

٢٥٢-(٥) او ﷺ فرمـايي: «بنـده له هـر حالت نه زيـات هله خپل پـروردګار تـه نـژدې وي چـي په سـجده وي، نو په سـجده کې زياته دعا وکړی»[(٢)].

٢٥٣-(٦) او ﷺ فرمايي: زما په زړه پرده غوندي راشي کله کله د الله له ذکر نه مشغول شي او زه له الله نه په ورځ کې سل ځلي بخښنه غواړم[(٣)].



## ١٣٠ د «سبحان الله». او «الحمد لله». او «لا اله الا الله» او «الله اکبر» فضيلت

٢٥٤-(١) پيغمـبر ﷺ فرمـايي: خـوک چـي پـه ورځ کي سـل ځلي «سُـبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْـدِهِ» ووايي، ګناهونـه بـه يې تـوی شي، که څه

---

(١) ترمذي، نسائي (١/٢٧٩)، حاکم صحيح الترمذي (٣/١٨٣)، جامع الاصول (٤/١٤٤) د ارنؤوط تحقيق.

(٢) مسلم (١/٣٥٠).

(٣) مسلم (٤/٢٠٧٥) ، ابن الاثير وايي: ليغان» على «قلبي معنی زما زړه باندي څه پرده راشي او له هغه نه مراد سهو او توجه اوښتل دي، څکه پيغمبر و به هميشه په زياته توګه سره ذکر وايه او (الله) ته به يې . خان نژدې کاوه او دوامداره مراقبت به کاوه، او چي کله به يې په بعضي وختونو کي توجه لدې نه واوښته، او يا به يې هيره شوه نو دا به يې د ځان لپاره ګناه بلل نو ځکه خو به يې استغفار ته رجوع کوله. جامع الاصول (٤/٣٨٦) دي وکتل شي.

هم د سمندر د ځګ په اندازه وي[١].

٢٥٥-(٢) او فرمايي: څوک چې « لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

لس ځلي ووايي، د هغه چا په شان به وي چې د اسماعيل له اولادې نه يې څلور مريان آزاد کړي وي[٢].

٢٥٦-(٣) او فرمايي: دوه کلمې دي چې پر ژبه سپکې، په تله کې درنې، دي مهربان (خدای) ته ګران محبوبي دي (هغه دادي): «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ»[٣].

٢٥٧-(٤) او فرمايي: د «سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ»..

ويل ما ته له هغه څه نه ډير غوره دي چې لمر پرې راختلی دی[٤].

٢٥٨-(٥) او فرمايي: آيا له تاسو نه يو څوک نشي کولای چې هره ورځ زر نيکي لاس ته راوړي، نو له ناستو کسانو نه يو کس ورڅخه

(١) البخاري (١٦٨/٧)، برقم (٦٤٠٥)، ومسلم (٢٠٧١/٤)، برقم (٢٦٩١). وانظر فضلَ مَن قالها مائةَ مرَّةٍ إذا أصبَحَ وإذا أمسى: (ص:٦٥) من هذا الكتاب.

(٢) بخاري (٦٧/٧)، مسلم بلفظه (٢٠٧١/٤)، او د هغه په ورځ کې، د سلو ځلو ويلو فضيلت دي په همدي کتاب کې د (٩٣) نمبر حديث په حاشيه کې وکتل شي.

(٣) بخاري (١٦٨/٧)، مسلم (٢٠٧٢/٤).

(٤) مسلم (٢٠٧٢/٤).

پوښتنه وکړه چي څنګه يو کس له موږ څخه کولای شي زر نيکۍ لاس ته راوړي؟ پيغمبر وفرمايل: سل ځلي دي «سُبْحَانَ اللّٰهِ» ووايي، نو هغه لره به زر نيکۍ وليکل شي، او يا به يې زر ګناهونه ورژيږي(۱).

۲۵۹-(۶) او فرمايي څوک چي

«سُبْحَانَ اللّٰهِ العَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ».

ووايي، هغه لره به يوه د خرما ونه په جنت کې وکرل شي(۲).

۲۶۰-(۷) او فرمايي: اي عبد الله بن قيسه! آيا تا ته د جنت د خزانو نه يوه خزانه ونه ښايم؟ نو ما وويل: ولې نه اې د الله پيمغبره! (پيغمبر) وفرمايل «لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ» ووايه هيڅ طاقت او قوت نشته د ګناه نه د ساتلو او د نيکيو د کولو مګر په د الله توفيق سره(۳).

۲۶۱-(۸) او فرمايي: الله ته له ټولو نه زيات خوښ کلمات څلور دي:

«سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ».

---

(۱) مسلم (۴/۲۰۷۳).

(۲) ترمذي (۵/۵۱۱)، حاکم (۱/۵۰۱) هغه صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده صحيح الجامع (۵/۵۳۱)، صحيح الترمذي (۳/۱۶۰).

(۳) بخاري، فتح الباري (۱۱/۲۱۳)، مسلم (۴/۲۰۷۶).

چې په کومه دې شروع وکړه تاته پکښې څه نقصان نشته[1].

۲۶۲-(۹) يو صحرايي پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته راغى او ويې ويل ما ته داسي خبره وښايه چي زه يې ووايم، پيغمبر وفرمايل ووايه:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ العَالَمِينَ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ العَزِيزِ الحَكِيمِ».

(سړي) وويل: دا خو زما د پروردګار لپاره دي، زما لپاره څه دي؟ پيغمبر وفرمايل ووايه :

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي».

الهي! ما ته بخښنه وکړې، او پر ما رحم وکړې، او ما ته هدايت وکړې، او روزي را ته راکړې[2].

۲۶۳-(۱۰) کله چي به يو سړى مسلمان شو، نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم به لمونځ ور زده کاوه، او بيا به يې ددې کلماتو په ويلو امر ورته کاوه:



(۱) مسلم (۳/۱٦۸٥).

(۲) مسلم (٤/۲۰۷۲) ، او ابو داود زيات کړيدى. کله چي صحرايي سړى روان شو، پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په رښتيا سره يې خپل لاسونه د خير نه ډک کړل.

«اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي».

الـهي! مـا تـه بخښـنه وكـړې، او پـر مـا رحـم وكـړې، او مـا ته هدايـت وكړې، او مـا ته عافيت راكـړې، او روزي را ته راكړې[(١)].

٢٦٤-(١١) او فرمايي په رښتيا سره چي بهترينه دعا:

«الحَمْدُ لِلّٰهِ» ده،

او بهترين ذكر:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ» دى[(٢)].

٢٦٥-(١٢) او فرمايي نيكي او له انسـان نه ورسـته پاتي كيدونكي كلمات دادي:

«سُـبْحَانَ اللّٰهِ، وَالحَمْـدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْـبَرُ، وَلَا حَـوْلَ وَلَا قُـوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ»[(٣)].

---

(١) مسلم (٤/٢٠٧٣)، او په بل روايت كې يې داسي راغلي دي: دا كلمات ستا لپاره د دنيا او آخرت خبرونه را تولوي.

(٢) ترمذي (٥/٤٦٢)، ابن ماجه (٢/١٢٤٩)، حاكم (١/٥٠٣) هغه يې صحيح بللى او ذهبي ورسره موافقه كړيده، صحيح الجامع (١/٣٦٢).

(٣) احمد (٥١٣) نمبر حديث كې د احمد شاكر په ترتيب سره روايت كړيدى او اسناد يې صحيح دى، مجمع الزوائد (١/٢٩٧) دي وكتل شي، او ابن حجر په بلوغ المرام كې هغه د ابو سعيد له روايت نه و نسائي ته نسبت كړيدى، او ويلي يې دي هغه ابن حبان او حاكم صحيح بللى دى.

# ۱۳۱ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د تسبيح ويلو طريقه

۲٦٦-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی چې ما پيغمبر ﷺ وليد چې په ښي لاس سره يې تسبيحات (اذکار) ويل[۱].

# ۱۳۲ د نيکيو او عامو آدابو څخه

۲٦۷-پيغمبر ﷺ فرمايي: کله . چې شپه تياره شي، يا شپه در باندي ،راشي نو خپل ماشومان (کور څخه وتلو نه بند کړی، ځکه چې شيطانان پدې وخت کې خوريږي، کله چې د شپې نه يو ساعت تير شي، نو بيا يې خوشي کړی. او دروازې مو بندي کړی، او د الله نوم (په هغه) ياد کړی، ځکه شيطانان تړلې او بنده دروازه نشي پرانستلای. او د خپل ژيانو سرونه پټ کړی، او د الله نوم (په هغه ياد کړی او خپل لوښي پټ کړی، او د الله نوم په هغه ياد کړی، که څه هم له پاسه پرې څه کښيږدي، او خپل څراغونه مړه کړی[۲].

وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ وَبَارَكَ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.



(۱) ابو داود بلفظه ،(۲/۸۱) ترمذي (۵/۵۲۱)، صحيح الجامع (٤/۲۷۱)، ٤۸٦۵ نمبر حديث.
(۲) بخاري، فتح الباري (۱۰/۸۸)، مسلم (۳/۱۵۹۵).

# فهرست

د مصنف سريزه ........ ٥
د ذکر فضيلت ........ ٧
١. دخوب نه د پاڅيدو دعاګاني ........ ١٣
٢. د جامو اغوستلو دعا ........ ١٧
٣. دنوي جامې اغوستلو دعا ........ ١٧
٤. چا چي نوې جامې واغوستلي هغه ته دعا ........ ١٨
٥. دجامو ايستلو په وخت کي دعا ........ ١٨
٦. د اودس ماتي ځاى ته د داخليدلو دعا ........ ١٩
٧. د اودس ماتي ځاى نه د وتلو دعا ........ ١٩
٨. داوداسه نه مخکي ذکر ........ ١٩
٩. د اودس نه وروسته دعا ........ ٢٠
١٠. د کور نه دوتلو ذکر ........ ٢١
١١. کور ته د ننوتلو ذکر ........ ٢١
١٢. مسجد ته د تللو دعا ........ ٢٢
١٣. مسجد ته د ننوتلو دعا ........ ٢٤
١٤. مسجد نه د وتلو دعا ........ ٢٥
١٥. د آذان اوريدو ذکرونه ........ ٢٥
١٦. د لمانځه د شروع له اول تکبير ويلو نه وروسته دعا ........ ٢٧
١٧. د رکوع دعا ........ ٣٢

۱۸. د رکوع نه پورته کيدلو دعا ..... ۳٤
۱۹. د سجدي دعا ..... ۳٥
۲۰. د دوو سجدو په مينځ کي دعا ..... ۳۷
۲۱. د تلاوت د سجدي دعا ..... ۳۸
۲۲. د تشهد دعا (التحيات) ..... ۳۹
۲۳. له (التحيات) نه وروسته پر پيغمبر ﷺ درود ..... ۳۹
۲٤. په وروستۍ ناسته کي د سلام نه مخکي دعا ..... ٤۱
۲٥. د سلام ګرځولو نه وروسته اذکار ..... ٤٦
۲٦. د استخاري د لمانځه دعا ..... ٥۱
۲۷. د سهار او ما ښام اذکار ..... ٥۳
۲۸. د خوب اذکار ..... ٦٥
۲۹. په خوب کي له يوې ډډي نه بلي ډډي ته اوښتلو دعا ..... ۷۲
۳۰. په خوب کي د نا آرامی او له ويري سره مخامخ کيدلو دعا ..... ۷۳
۳۱. هغه څه چي د خوب ليدو نه وروسته کول پکار دی ..... ۷۳
۳۲. د وترو د قنوت دعا ..... ۷٤
۳۳. د وترو له سلام نه وروسته ذکر ..... ۷٦
۳٤. د پريشانی او غم (لري کولو) دعا ..... ۷۷
۳٥. د بی قراری دعا ..... ۷۸
۳٦. د دښمن او حکمران سره مخامخ کيدو دعا ..... ۷۹
۳۷. د حکمران د ظلم نه د ويري دعا ..... ۸۰
۳۸. د ښمن ته ښيرا کول ..... ۸۲

٣٩. د کوم قوم نه چي ویره لري دا دعا به وايي ........ ٨٢
٤٠. څوک چي ایمان کي شک وکړي دهغه دعا ........ ٨٣
٤١. دقرض اداء کولو دعا ........ ٨٤
٤٢. په لمانځه او تلاوت کي د وسوسې دعا ........ ٨٤
٤٣. چا ته چي یو کار مشکل شــي هغه دعا ........ ٨٥
٤٤. څوک چي ګناه وکړي، هغه به داسي کوي ........ ٨٥
٤٥. د شیطان او د هغه د وسوسو د لیري کولو دعاګاني ........ ٨٦
٤٦. کله چي یې د خوښي خلاف کار پیښ شي، او یا له کوم کار نه عاجز شي داسي به وايي ........ ٨٦
٤٧. د پیدا شوي ماشوم مور او پلار ته مبارکي ورکول او د هغې جواب ........ ٨٧
٤٨. د ماشومانو د حفظ او امان لپاره دعا ........ ٨٨
٤٩. د بیمار د پوښتني په وخت هغه ته دعا ........ ٨٨
٥٠. د بیمار د پوښتني کولو فضیلت ........ ٨٩
٥١. د ژوند نه نا امیده بیمار دعا ........ ٨٩
٥٢. ځنکدن حالت کي سړي ته یادونه ........ ٩١
٥٣. چا ته چي مصیت رسیدلي وي د هغه دعا ........ ٩١
٥٤. د مړي سترګي بندولو په وخت دعا ........ ٩١
٥٥. مړي ته په جنازه کي دعا ........ ٩٢
٥٦. ماشوم ته د هغه په جنازه کي دعا ........ ٩٤
٥٧. د تعزیت دعا ........ ٩٦
٥٨. د مړي ښخولو وخت کي دعا ........ ٩٧
٥٩. د مړي ښخولو وروسته دعا ........ ٩٧

٦٠. د قبرونو د زيارت کولو دعا ........ ٩٧
٦١. د باد (سيلۍ) الوتلو په وخت دعا ........ ٩٨
٦٢. د تالندي دعا ........ ٩٩
٦٣. د استسقاء لپاره څو دعاګانې ........ ٩٩
٦٤. د باران وريدو په وخت کې دعا ........ ١٠٠
٦٥. د باران اوريدلو وروسته دعا ........ ١٠١
٦٦. د آسمان شين کيدو دعا ........ ١٠١
٦٧. د نوي مياشتي ليدو دعا ........ ١٠١
٦٨. د روژه ماتي په وخت کې دعا ........ ١٠٢
٦٩. د ډوډۍ خوړلو نه مخکې دعا ........ ١٠٣
٧٠. له خوراک نه وروسته دعا ........ ١٠٤
٧١. کوربه ته د ميلمه دعا ........ ١٠٤
٧٢. څوک چې په چا اوبه وڅښي او يا ورباندې خوراک وکړي، هغه ته دعا ١٠٥
٧٣. د چا په کورکې د روژه ماتي په وخت کې دعا ........ ١٠٥
٧٤. د روژه دار دعا چې کله خواړه حاضر شي او روژه ماته نکړي ........ ١٠٦
٧٥. کله چې روژه دار ته څوک ښکنځل وکړي. نو دی به داسي ورته وايي ........ ١٠٦
٧٦. د اولنۍ ميوې ليدو دعا ........ ١٠٦
٧٧. د پرنجيدلولودعا ........ ١٠٧
٧٨. کله چې کافر وپرنجيږي داسي به ورته وايي ........ ١٠٧
٧٩. واده کونکي ته دعا ........ ١٠٨
٨٠. د واده کولو او سورلۍ اخيستلو دعا ........ ١٠٨

۸۱. خپلي ښځي سره کوروالی نه مخکي دعا ........................................................ ۱۰۹
۸۲. د قهر او غوسې په وخت دعا ........................................................ ۱۰۹
۸۳. د مصیبت زده لیدو په وخت دعا ........................................................ ۱۰۹
۸٤. د مجلس دعا ........................................................ ۱۱۰
۸۵. د مجلس کفاره ........................................................ ۱۱۰
۸٦. څوک چي چا ته ووايي: «غفر الله لك» هغه ته به داسي وايي ........................ ۱۱۱
۸۷. څوک چي له تا سره ښه وکړي، هغه ته دعا ........................................................ ۱۱۱
۸۸. په څه چي د دجال (له فتني) ځان ساتلی شي ........................................................ ۱۱۲
۸۹. څوک چي چا ته ووايي: «إِنِّي أُحِبُّكَ فِي اللَّه» هغه ته به داسي وايي ........................ ۱۱۲
۹۰. څوک چي خپل مال تا ته وړاندي کړي هغه ته دعا ........................................................ ۱۱۳
۹۱. د قرض د اداء کولو په وخت قرض ورکونکي ته دعا ........................................................ ۱۱۳
۹۲. له شرک نه د ویري دعا ........................................................ ۱۱۳
۹۳. هغه چا ته دعا چي تاته ووايي: «بارَكَ الله فيك» ........................................................ ۱۱٤
۹٤. د بد شکومی بد ګڼلو دعا ........................................................ ۱۱٤
۹۵. د سپریدو دعا ........................................................ ۱۱۵
۹٦. د سفر دعا ........................................................ ۱۱٦
۹۷. کلي یا ښار ته ننوتلو دعا ........................................................ ۱۱۷
۹۸. بازار ته ننوتلو دعا ........................................................ ۱۱۸
۹۹. د سپرلۍ غورځیدو په وخت دعا ........................................................ ۱۱۸
۱۰۰. د مسافر دعا و مقیم ته ........................................................ ۱۱۸
۱۰۱. د مقیم دعا مسافر ته ........................................................ ۱۱۹

۱۰۲. په سفر کي تکبير او تسبيح ........ ۱۱۹
۱۰۳. د سهار په وخت د مسافر دعا ........ ۱۲۰
۱۰۴. په سفر يا پرته له سفر نه په يو ځای کي د کوزيدلو او ودريدلو دعا ........ ۱۲۰
۱۰۵. د سفر نه د ستنيدو دعا ........ ۱۲۱
۱۰٦. د خوشحالۍ او يا خواشيني کار پيښيدو په وخت کي دعا ........ ۱۲۱
۱۰۷. پر پيغمبر ﷺ د درود ويلو فضيلت ........ ۱۲۲
۱۰۸. سلام خپرول ........ ۱۲۳
۱۰۹. د کافر د سلام جواب به څنګه ورکوي ........ ۱۲٤
۱۱۰. د چرګ د آذان، او د خره د هنګاري په وخت دعا ........ ۱۲٤
۱۱۱. په شپه کي د سپيو د خپلو اوريدو په وخت دعا ........ ۱۲٥
۱۱۲. څوک چي دي ښکنځلي وي هغه ته دعا ........ ۱۲٥
۱۱۳. د بل مسلمان ستايلو په وخت به داسي وايي ........ ۱۲٦
۱۱٤. کله چي د مسلمان صفت وشي نو هغه به داسي وايي ........ ۱۲٦
۱۱٥. په حج او عمره کي به محرم لبيک څنګه وايي ........ ۱۲۷
۱۱٦. حجر اسود ته د رارسيدلو په وخت الله أکبر ويل ........ ۱۲۷
۱۱۷. د رکن يماني او حجر اسود په مينځ کي دعا ........ ۱۲۸
۱۱۸. صفا او مروا باندي د ودريدو دعا ........ ۱۲۸
۱۱۹. د عرفات په ورځ دعا ........ ۱۲۹
۱۲۰. د مشعر حرام دعا ........ ۱۳۰
۱۲۱. د شيطانانو ويشتلو په وخت د هر کاني ويشتلو سره «الله اکبر» ويل ........ ۱۳۰
۱۲۲. د تعجب او خوشحالونکي کار پيښيدو په وخت دعا ........ ۱۳۱

۱۲۳. چا ته چي خوشحالونکی خبر راشي، نو څه به کوي ........................................ ۱۳۱
۱۲٤. څوک چي په خپل بدن کي درد محسوس کړي څه به کوي................................ ۱۳۲
۱۲٥. په څه شي د نظر کيدو نه د ويري دعا........................................................ ۱۳۲
۱۲٦. د ويري په حالت کي دعا ............................................................................ ۱۳۳
۱۲۷. د قرباني حلالولو په وخت کي څه ويل پکار دي............................................... ۱۳۳
۱۲۸. هغه چي د سرکښه شيطانانو د مکر او چل دفع کولو لپاره ويل کيږي ............ ۱۳٤
۱۲۹. استغفار او توبه ..................................................................................... ۱۳٥
۱۳۰. د «سبحان الله». او «الحمد لله». او «لا اله الا الله» او «الله اکبر» فضيلت........... ۱۳٦
۱۳۱. د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د تسبيح ويلو طريقه......................................... ۱٤۱
۱۳۲. د نېکيو او عامو آدابو څخه ..................................................................... ۱٤۱

بشتو / پښتو

# حصن المسلم

من أذكار الكتاب والسنة

الفقير إلى [illegible] تعالى

د. سعيد بن علي بن [illegible] القحطاني




جمعية أصول
Osoul Foundation for Da'w

حرمين
رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

OSOUL
STORE